د اسلامي نړۍ

ځلانده ستوري او آتلان

Ketabton.com

ليکوال:

فرید احمد (مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پیژندنه

د کتـاب نـوم: د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري او آتلان

لـــيـــکـــوال: فرید احمد (مبارز)

کـمـپـــوزر: خپله لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

موضوع **مخ**

د کتاب پيژندنه..... ۱
بسم الله الرحمن الرحيم..... ۲
فهرست..... ۳
سريزه..... ۵
اميرالمؤمنين حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه)..... ۶
حضرت عمير بن مسيب (رضى الله عنه)..... ۹
حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه)..... ۱۱
حضرت زيد ابن خطاب (رضي الله عنه)..... ۱۱
حضرت انس (رضي الله عنه)..... ۱۲
حضرت قعقاع (رضي الله عنه)..... ۱۲
حضرت ابو عبيده بن الجراح (رضي الله عنه)..... ۱۳
حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه)..... ۱۳
حضرت سعد بن عامر (رضي الله عنه)..... ۱۵
حضرت حبيب (رضي الله عنه) او ميرمن يې ام عبيدالله..... ۱۵
سلطان محمد الفاتح (رحمة الله عليه)..... ۱۷
سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه)..... ۲۱
سيف الدين محمود قطز (رحمة الله عليه)..... ۲۶
سلطان عبدالحميد الثاني (رحمة الله عليه)..... ۳۰
حسن الاغدرلي..... ۳۱
يوسف بن تاشفين (رحمة الله عليه)..... ۳۲
سلطان سليمان القانوني يا هم سلطان العالم..... ۳۴
د صحرا زمرۍ سيد عمر مختار..... ۳۶
طارق ابن زياد (رحمة الله عليه)..... ۴۱
جوزف ابراهيم..... ۴۳
خليفه سلطان مراد..... ۴۳
سلطان محمود غزنوي..... ۴۴
اسلامي مفکر محمد عماره..... ۴۴
حضرت ابو طلحه (رضي الله عنه)..... ۴۶
حضرت هاشم بن عتبة (رضي الله عنه)..... ۴۶
امام شامل (رحمة الله عليه)..... ۴۷
ابو محجن ثقفي..... ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوه مسلمان ښوونکي د عبرت درس مامون رشيد ته.....۴۸
عثمان بن ارطغُرل.....۴۹
سيد علي.....۴۹
د اندلس مسلماني ښځي.....۵۰
اتريشي الاصله عمر پاشا.....۵۰
ابوالبرکات بربری.....۵۱
وليد بن عبد الملک.....۵۳
صدام حسين.....۵۳
امام بخاري (رحمة الله عليه).....۵۴
قطب الدين ايبک.....۵۸
طغرل.....۵۸
خيرالدين بربروسا او عروج بربروسا.....۵۹
سلطان عبدالعزام پاشا.....۶۰
علي بن سفيان.....۶۰
سنان آغا.....۶۰
مسلمان پيلوټان.....۶۲
فاطمه نسومر.....۶۳
فاطمه بنت عبدالله.....۶۳
ځيني قهرماني او عالماني ښځي.....۶۴
مسلمان ساينس پوهان.....۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

الحمدالله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم). اللهم صل علیٰ محمدوعلیٰ آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید. اللهم بارک علیٰ محمدوعلیٰ آل محمد کما بارکت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید. اما بعد!

د اسلامي نړۍ ستوري او آتلان ډیر دي، مګر ما صرف په دې کتاب کي د یو څو تنو څخه یادونه کړې ده، تر څو د اوسني عصر ځوانانو ته د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري او آتلان ور معرفي کړم، دوی داسي اشخاص دي، چي د آتلولۍ او ځلیدو لپاره یې خپل ځانونه قربان کړل، دوی ددې لپاره ځانونه قربانول تر څو اسلام په نړۍ کي وځلیږي او مسلمانان په نړۍ کي سر لوړي و اوسي، د اسلامي نړۍ ستورو او آتلانو په بیلا بیلو ډګرونو کي قهرمانۍ او آتلولۍ خپلي کړي دي، افسوس! د نننی عصر ځوانان یوازي د غربي نړۍ اشخاص ستوري او آتلان بولي، په حقیقت کي دوی خپل اسلامي تاریخ د یاده ایستلی دی، دوی یوازي غربي تاریخونه، او د هغوی ستورو او آتلانو ته یې پام اړولی دی، غربیانو دوی د خپلو درواغجنو رسنیو او شیطاني افکارو پواسطه دومره خطاء ایستلي دي، چي ګردسره یې د خپل تیر تاریخ، ستورو او آتلانو څخه بې خبره کړي دي، هیڅ یې خپلو تاریخونو، ستورو او آتلانو ته پام نه وراوړي، زه تاسي تیروتلو ځوانانو ته د مثال په ډول د یوه فرانسوي مؤرخ د وینا څخه یې درته وړاندي کوم، چي هغه خپله څه وایي.

فرانسوی مؤرخ وایي: موږ اروپایان د مسلمانانو په هر څه کي پوروړي او احسان مند یو، ځکه چي همدوی موږ ته د ژوند تیرولو اصول، د پاکوالي طریقې او آهمیت، د لباس اغوستل، بدلول او لمبیدل راوښوول، هغه مهال چي موږ به لغړ ګرځیدلو دوی به د خپلو کالو تنۍ د یاقوتو او زمرودو څخه ښایسته جوړولې، موږ په جونګړو او کیږدیو کي ژوند کوی، مګر دوی محلونه جوړول او داسي نور...

درنو لوستونکو! دا چي زما او ستاسي تر منځ ددې کتاب د لوستلو د برکته ملګرتیا پیدا سوه، زه ستاسو ټولو لوستونکو څخه نړۍ نړۍ مننه کوم، چي خپل آرزښتمن وخت مو زما د کتاب ولوستلو ته ورکړی، زه ځان ستاسي ددې ښیګڼي پوروړی بولم او ستاسي لپاره لاسونه د لوی رب (جل جلاله) و دربار ته لپه کوم، الله (جل جلاله) دي ستاسي ژوند د اندیښنو او غمونو څخه په آمن کي کړي.

په درنښت

فرید احمد (مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه)

په کوچینوالي کي مو لوستي وه، چي د مقدونيې سکندر الیګزاندر په شل (۲۰) کلنۍ کي پاچا سو، په درویشت (۲۳) کلنۍ کي د مقدونيې څخه راووتۍ، تر هر څه مخکي يې مکمل یونان فتحه کړ، بیا ترکيې ته ور داخل سو، د هغه وروسته يې د ایران سلطنت ړنګ کړ، سوريې ته ولاړ، د هغه وروسته یروشلم او بابل ته ورسیده، مصر او ورپسې هندوستان ته، په هندوستان کي يې د پورس سره جګړه وکړه، د خپل ګران آس په یاد کي يې د پالیه ښار آباد کړ، د مکران څخه يې د واپسۍ سفر پیل کړ، په لار کي زیږۍ/ زردي په مرض اخته سو، او ۳۲۳ ق کال په (۳۳) کلنۍ کي د بخت نصر په عالي شانه مانۍ کي مړ سو، نړۍ ته تر ننه پوري دا ښوول کیږي چي هغه د انساني تاریخ یو عظیم جنرال، فاتح او پاچا وو، او تاریخ د هغه کارنامو د کبله ده ته د ستر سکندر نوم ورکړ، موږ مسلمانانو هم د هغه څخه ستر سکندر یعني د پاچاهانو پاچا جوړ کړ.

مګر نن د یوویشتمي (۲۱) پیړۍ د ټولو مؤرخینو مخي ته یو سوال ږدم: آیا د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په موجودیت کي سکندر ددې حق لري چي د سکندر اعظم په نوم یاد سي؟ زه د ټولي نړۍ مؤرخینو ته د سکندر او فاروق اعظم (رضي الله عنه) د فتوحاتو او کارنامو د موازنه کولو او پرتله کولو دعوت ورکوم، تاسي هم فکر وکړی، سکندر د پاچا زوی وو، د نړۍ بهترینو استادانو د آس مهارول او چلول وربښوولي وه، د ارسطو غوندي استادانو د ناستي او مجلس کولو فرصت ورته برابر سوی وو، چي کله شل (۲۰) کلن سو، په تخت او تاج ونازول سو، د سیمي ټولواک سو، مګر د ده په مقابل کي د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په اوو (۷) نسلونو کي کوم پاچا نه وو تیر سوی، د بزو، پسونو او اوښانو په څرولو کي را لوی سو، نه يې د تورو، نیزو او غشو ویشتلو زده کړه د کومي اکاډمي څخه کړې وه، سکندر د یوه منظم فوځ په مټ د لسو (۱۰) کلونو په موده کي اوولس لکه (۱۷۰۰۰۰۰) مربع میله علاقه فتحه کړه.

مګر حال دا چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د کوم منظم فوځ د نه شتون باوجود د دوولسو (۱۲) کلونو په کمه موده کي دوه ویشت لکه (۲۲۰۰۰۰۰) مربع میله علاقه فتحه کړه، چي د روم او ایران د دوو سترو امپراطوریو زوال هم په کښي شامل دی، د نن عصر د سټیالیټ، میزایل او اوبتلونو د شتون او موجودیت سربیره بیا هم د کوم حاکم سره دومره ستر سلطنت نسته چي حضرت عمر (رضي الله عنه) د آسونو پر زین فتحه کړي وه، حال دا چي په پوره معنا آمن او ثبات هم حاکم وو، سکندر د فتوحاتو پر وخت خپل په لسګونه جنرالان ووژل، بې حسابه جنرالانو او ځوانانو يې ملګرتیا پریښوده، د ده په خلاف بغاوتونه وسول، حتا په هندوستان کي خو يې اردو او فوځ د لا پرمختګ څخه انکار وکړ، مګر د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ملګرو د ده د امر د نه منلو جسارت ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه داسي يو ستر امير وو چي د جګړې په ميدان کي يې د اسلامي نړۍ تر ټولو ستر جنرال، آتل سپه سالار حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) عزل کړ، مګر بيا هم چا د ده د حکم څخه د سرغړوني جرأت ونه کړ، ده حضرت سعد بن ابی وقاص (رضي الله عنه) د کوفې د ولايت څخه عزل کړ، د حضرت حارث بن کعب (رضي الله عنه) څخه يې ولايت واخيستی، د حضرت عمرو بن العاص (رضي الله عنه) مال او جايداد يې ضبط کړ، د حمص والي يې را وغوښتی، د اوښانو د څرولو وظيفه يې ورکړه، مګر چا يې د امر او حکم مخالفت ونه سوای کړای، سکندر اوولس لکه (۱۷۰۰۰۰۰) مربع ميله علاقه فتحه کړه، مګر نړۍ ته يې کوم نظام، کوم د باور وړ سيستم ورنه کړ، حالانکي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) نړۍ ته داسي منظم سيستم او نظام ورکړ چي تر ننه په ټولي نړۍ کي کارول کيږي، محکمې يې فعاله کړې، معذورو، کونډو، يتيمانو او بې سرپرستانو ته يې معاشونه وټاکل چي نن يې هر جوړ حکومت خپلو خلګو ته ورکوي، د دولتي مامورينو او واليانو د سرمايه شميرل او حساب کولو تصور يې رامنځته کړ، حسابداري پيل سوه.

د چارواکو د اثاثو او جايدادونو اکاوو پر مهر باندي يې ليکل سوي وه: عمره! د نصيحت لپاره مرګ کفايت کوي. د محبسونو او زندانو جوړول، په لارو کي کاروان سرايونه او څاهانو جوړول، د ليري پرتو سيمو آمن ساتل د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په عصر کي پيل سول، مخکي دا تصور هم موجود نه وو. حضرت عمر (رضي الله عنه) به فرمايل: کوم حاکمان چي عدل و انصاف کوي، هغوی د شپې د کومي بيري پرته بيديږي، د قوم سردار د قوم ريښتنی خادم وي. د درختي لاندي به بيديدی، د شپې پيره کول، د غرباوو مرستي ته موقت وخت نه ټاکل بلکي تل د هغوی د مرستي هڅه کول، او دومره ساده ژوند کول چي په جامو کي به يې څوارلس (۱۴) پيوندونه وه، د نرمو او نازکو جامو څخه يې نفرت کوی.

تل به يې خپلو واليانو او چارواکو ته نصيحت کوی: پر ترکي آسونو مه سپريږی، نازک کالي مه اغوندی، ډير ميده غنم مه خوری، چوکيدار ځان ته مه دروی، تر څو کوم فريادي در څخه منع نه سي.

په کوچني مضمون کي د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ټول اوصاف بيانول به يې په حق کي سراسر نا انصافي وي، لنډه دا چي د هر مذهب څخه يو خاصيت وي، د اسلام تر ټولو ستر خصوصيت عدل دی، او حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) هغه شخص دی چي په دغه خاصيت يې پوره عمل وکړ، د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د عدل او انصاف د امله د عدل نوم په عدِل فاروقي بدل سو، د شهادت په وخت کي د يو چا پوروړی وو، چي د وصيت مطابق يې د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) يوازينی کور خرڅ کړ او د ده (رضي الله عنه) پور يې په اداء کړی، دی د نړۍ هغه يوازينی حاکم وو چي فرمايل به يې: زما د واک په موده کي که د فرات د سيند پر غاړه يو سپی د لوږي مړ سي، نو سزا به يې عمر زغمي. د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د عدل دا حالت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم وخت چي يې رحلت وکړ د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د سلطنت د يوې ليري پرتې سيمي يو شپون په ځغاسته د خپلو ملګرو خواته ورغلی او ويې ويل: خلګو! حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) انتقال سوی دی، خلګو په حيرت سره وپوښتل: ته د مدينې څخه په زرګونو ميله ليري په دغه ځنګل کي يې څنګه او د چا د لوري خبر سوې؟ شپون وويل: کوم وخت چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ژوندی وو، زما مالونه به په ځنګله کي آزاد ګرځيدل، هيڅ ځناور به هغوی نه څيرل، مګر نن اول وار يوه شرموښ زما د بوزې بچی د ځان سره يو وړ، د هغه د جرأت څخه دا راته معلومه سوه چي اميرالمؤمنين وفات سوی دی.

زه د ټولي نړۍ مؤرخينو ته دعوت ورکوم، چي سکندر دي د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) مخته کښيږدي نو وبه ګوري چي يوه کوچنۍ ډبره د غره په مخکي پرته ده، دا ځکه د سکندر سلطنت د ده د وفات وروسته (۵) کلونه دوام وکړ، مګر حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) چي په خپل ژوند کي کوم لوري ته د اسلام بيرغ ليږلی د هغه ځايه تر ننه پوري د الله اکبر، الله اکبر آواز راځي، نن هم هلته خلګ د الله (جل جلاله) په وړاندي سجده کوی، په دنيا کي د سکندر نوم په کتابونو کي په وياړ اخيستل کيږي، حال دا چي د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په لاس جوړ سوی نظام نن د نړۍ په (۲۴۵) هيوادونو کي په يوه نه يو شکل کي موجود دی.

نن هم د يوې ډاک خانې څخه خط راوځي، د پوليسو يو کس مشخصه جامه په تن کوي، کوم فوځي (۶) مياشتي وروسته په رخصتيو کور ته ځي، يا هم حکومت کوم ماشوم، معذور، کونډي يا معلول کس ته وظيفه ورکوي، نو هغه ټولنه، معاشره او سيمه بې اختياره حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ومني، هغوی د نړۍ د تر ټولو ستر سکندر په سترګه ورته ګوري، پرته د هغو مسلمانانو څخه چي نن د نااُميدۍ او بيري د کبله حتا خپله کلمه هم په جرأت نه سي ويلای.

د لاهور مسلمانانو يو ځل د انګريزي استعمار په وخت کي هغوی ته اخطار ورکړی وو: که موږ د کورونو څخه را ووځو، چنګيز به دي هير سي، د هند صدراعظم جواهر لال نهرو په خندا ويلي وه: افسوس! چي مسلمانان نن د چنګيز په نوم اخطار ورکوي، هغوی دا هير کړي چي د دوی په تاريخ کي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) هم وو.

د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په اړه مستشرقين اعتراف کوي، که په اسلام کي يو بل حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) وای نن به په نړۍ کي يوازينۍ دين اسلام وای. موږ نن دا هيره کړي دي چي په موږ کي يو حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمير بن مسيب (رضی الله عنه)

امير المؤمنين حضرت عمر فاروق (رضی الله عنه) په مسجد نبوي کي ناست وو، د مسلمانانو په ورځنيو چارو بوخت وو، يو دنګ ځوان چي سپيره وريښتان او سپيره مخ يې وو، خيرن کالي يې اغوستي او تنۍ يې هم څو ځايه شکيدلي وې، يوه اوږده لکړه يې په لاس کي وه، او څو لوښي، لرګي يې په څادر کي تړلي په شا کړي وه، جومات ته راننوت، امير المؤمنين او ناستو کسانو ته يې سلام واچاوه، په يوه طرف کي غلۍ کښيناست، امير المؤمنين او ناستو کسانو د مسافر ګومان پر وکړ، سلام يې ور جواب کړ، په خپلو کارونو بوخت سول، ځوان هم ناست وو، چي ګڼه ګوڼه کمه سي او ده ته د امير المؤمنين (رضی الله عنه) سره د خبرو چانس پيدا سي، د خلافت په دربار کي خلګ يو څه کم سول، حضرت عمر فاروق (رضی الله عنه) مسافر او وهلۍ ځوان ځان ته راوغوښت، د حاجت پوښتنه يې ځيني وکړه: ځوان ورته وويل: امير المؤمنينه! زه تاسو راغوښتی وم، څو ورځي مخکي ستاسي ليک راغلی، او دا دی زه د فرمان سره سم حاضر سوم، امير المؤمنين حضرت عمر فاروق (رضی الله عنه) ډير فکر وکړ، مګر داسي څه يې په ياد نه سول، چي دغه ځوان ته يې ليک استولی وي.

نو په خورا تعجب يې ځيني وپوښتل: ځوانه! ومي نه پيژندلې! زما نه دي په ياد چي تا ته مي کوم بلنليک در استولی وي، په دوړو او خاورو ککړ ځوان خپل شکيدلی ګريوان سره را ټول کړ، په ډيره عاجزۍ، او حياء، سره يې د الله سبحانه وتعالی د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفادار ملګري ته وويل: امير المؤمنينه! زما نوم عمير بن مسيب دی، زه تير کال ستاسي د لوري د حمص والي ټاکل سوی وم، تيره اونۍ د کلني حساب په اړه ستاسو فرمان را ورسيد، او دا دی زه د هغه سره سم د خپل مال، اسباب او هر څه سره يو ځای حاضر سوم، امير المؤمنين حضرت عمر فاروق (رضی الله عنه) ددې خبرو په اوريدو سره سترګي د ځوان په سترګو کي ښخي کړې، ګوته په غاښ پاته سوه، څو شيبي يې په ځير ځير د هغه حالت ته کتل، امير المؤمنين عمر فاروق (رضی الله عنه) ته ورپه ياد سو، چي تير کال يې دغه ځوان د مسلمانانو په مشوره، د شام د ښيرازه ولايت حمص والي ټاکلۍ وو.

هغه مهال چي دغه ځوان شام ته روانيده، نو د ښکلا، خوښۍ، او شتمنۍ، نښي يې په ټنډه کي د ورايه معلوميدې، د هغه د اغوستلو کالي پر څو اوښانو بار وه، د تورو، زغرو او ډاليو حساب يې نه کيده، مګر نن په داسي حال کي د مسلمانانو د امير په وړاندي ناست دی، چي د فقر، غربت، او بيچارګۍ د امله د پيژندلو وتلی وو، تنۍ او کالي يې شکيدلي وه، څهره يې د بې خوبۍ، او نه خوراک د امله تکه ژړه سوې وه، د اسلام خليفه ورته وفرمايل: الله اکبر! عميره! ته چي مي تير کال استولې، خورا پنډ، تر او تازه وې، د مال، او اسبابو حساب دي نه کيدی، مګر اوس دي په داسي حالت کي وينم، چي درته کتلای هم نه سم، خير خو به وي؟ ولي پر داسي حال يې؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمیر (رضی الله عنه) ورته وویل: امیر المؤمنینه! د دندي مخکي ما سوداګري کوله، او کله نا کله ستاسي سره د الله سبحانه وتعالی په لاره کي جهاد ته تللم، ما ته الله سبحانه وتعالی ښې ډیري پیسې، او شتمني راکړه، مګر کله چي مو د مسلمانانو په دنده وټاکلم، نو د مسلمانانو د ښیګڼي په لاره کي مي ځان هیر کړ، امیر المومنینه! د حمص خلګ زکات، او جزیه په مینه ورکوي، تیر کال مو په ملینونو درهمه، بیت المال ته تحویل کړل، د محاصلو او نورو عوایدو لاسته راغلي پیسې، مو د هیواد او مسلمانانو په ښیرازۍ کي لګولې، په حمص کي مو لاري، کاروان سرایونه، ښارونه، بازارونه، کلاوي، حمامونه، مدرسې او جوماتونه جوړ کړي دي، حمص ستاسو د خلافت تر ټولو ودان، ښیرازه او بډایه ولایت دی.

امیر المؤمنین ځیني وپوښتل: د ځان لپاره دي د بیت المال څخه بندوبست کړی دی؟ عمیر بن مسیب (رضی الله عنه) جواب ورکړ: امیر المؤمنینه! د ورځي روژه یم، د شپې په اوبو روژه ماتوم، څو خرما او یا هم نیمه د جوارو ډوډۍ خورم، دغه په څادر کي غوټه لوټه او کنډولی مي د کور اثاثه دي، یو دغه څادر لرم، چي عورت په پټوم او یوه دغه لکړه، چي ځان په ساتم، حضرت عمر (رضی الله عنه) ددې خبرو په اوریدو ژړغونۍ سو، د حضرت عمیر (رضی الله عنه) پر حال یې غبطه راغله او خورا په زوره یې په ژړا پیل وکړ، لاس یې په داسي په دعا پورته کړ: ای الله! زه شاهدي ورکوم چي حضرت عمیر (رضی الله عنه) پاک دی. یا الله! ما په جنت کي د حضرت عمیر (رضی الله عنه) سره یو ځای کړې، د حضرت عمیر (رضی الله عنه) سر یې ښکل کړ او د راتلونکي کال لپاره یې بیا حمص ته واستوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه)

د اسلام لومړنۍ سمندري جګړه! د أمير المومنين حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه) په خلافت کي په ۳۵ هجري کال کي د محرم په مياشت کي اسلامي فوځ لومړنۍ سمندري جګړه تر سره کړه، ددې تاريخي جګړې نوم (ذات الصواري) دی، په دې جګړه کي د اسلامي فوځ د کښتيو شمير (۲۰۰) وو، او مشري يې حضرت عبدالله بن سعد بن أبي سرح (رضي الله عنه) کوله، په دې جګړه کي اسلامي فوځ بازنطيني لښکرو ته په زړه پوري ماته ورکړه، ياده جګړه بازنطيني پاچا پيل کړې وه او د خپل فوځ قومانده هم د ده په لاس کي وه، دوی ځکه جګړه پيل کړه، تر څو په سيند کي د اسلامي فوځ حرکات متوقف کړای سي، دا عمليات د شـام والي حضرت معاويه (رضي الله عنه) او عبدالله بن ابي سرح (رضي الله عنه) پر مخ بيول.

حضرت زيد ابن خطاب (رضي الله عنه)

موږ او تاسو ټوله سيدنا عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) پيژنو، مګر آيا د هغه ورور زيد بن الخطاب (رضي الله عنه) هم پيژنو؟ زيد بن الخطاب (رضي الله عنه) تر حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) مخکي اسلام قبول کړ، د اولو مهاجرينو صحابه کرامو (رضي الله تعالى عنهم آجمعين) څخه دی، په ټولو غزاء وو کي يې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره شرکت کړی دی، د اُحد په غزاء کي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) وغوښتل چي خپله زغره و خپل ورور زيد (رضي الله عنه) ته ورکړي، مګر هغه انکار وکړ، او ورته ويې ويل: زه هم داسي د شهادت اراده لرم لکه ته چي يې لرې او داسي شهادت غواړم لکه ته چي يې غواړي، حضرت زيد (رضي الله عنه) د هغه قهرمانو او جنګياليو صحابه کرامو (رضي الله تعالى عنهم آجمعين) د جملې څخه وو، چي د يمامه په غزاء کي د اسلامي لښکر بيرغ د ده (رضي الله عنه) په لاس کي وو، او په دغه ورځ کي يې وويل: په الله (جل جلاله) قسم چي تر هغه وخته به خبري ونه کړم، تر څو چي الله رب العزت و کفارو ته شکست نه وي ورکړی، او يا زه شهيد سوی نه يم، چي د خپل رب په وړاندي خپل دليل او حجت ولرم.

حضرت زيد (رضي الله عنه) د يمامة د غزاء په ورځ وکولای سول، چي د مسيلمة الکذاب د لښکر يو لوی قمندان ووژني، دا چي د اسلامي لښکر بيرغ د ده (رضي الله عنه) په لاس کي وو، کفار وربانديي را ټول سوه او ورسره وجنګيده، تر څو چي شهيد يې کړ، کله چي يې د شهادت خبر و کشر ورور حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ته ورسيد، هغه وويل: الله رب العزت دي زما پر ورور خپل رحمتونه وکړي، تر ما وړاندي سو د سعادت په دواړو کارونو کښي، هم يې اسلام زما تر مخ راوړ، او هم يې شهادت زما څخه مخ کي په نصيب سو، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ډير محبت ورسره درلودی، او په بيلتانه کي يې ډير غمجن سو، آن تر دې چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) به ويل: هر وخت چي د سهار شمال را والوځي د زيد (رضي الله عنه) بوی په کښي محسوسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت انس (رضي الله عنه)

د حضرت انس (رضي الله عنه) په وړاندي چي به د تستر د فتحي يادونه وسوه، نو ژړل به يې، حدودو د يوې ستري او مظبوطي کلا او د کلا به منځ کي د ښار نوم وو، دا کلا يو نيم کال د اسلامي لښکرو تر کلکي محاصرې او کلابندي لاندي وه، د ډيرو هڅو وروسته کله چي مسلمانان د وروستي او پريکنده بريد لپاره پر کلا ورغلل، نو د فتحي څرکونه وځليدل، غازيان په ډيره ميړانه وجنګيدل، د مجوسيانو د مړو څخه ميدان ډک سو، ټوله ورځ او شپه شديد جنګ روان وو، سهار مهال د اسلامي لښکرو پله درنه سوه، لمر ختو مهال يې د فارسي لښکرو سيلاب مات کړ، پر کلا ورواوښتل، اسلامي لښکرو د يوه سخت او اوږده انتظار وروسته ستره سوبه تر لاسه کړه. اوس که د تستر د فتحي کيسه دومره په زړه پوري او ولوله پارونکې ده، نو بيا ولي حضرت انس (رضي الله عنه) ددې ستري سوبې په يادولو ژاړي!؟ کيسه داسي وه: کله چي مسلمانان فاتح تستر ښار ته ننوتل نو ويې ليدل چي لمر ښه لوړ راختلی او د سهار لمونځ ځيني قضاء سوی دی، حضرت انس (رضي الله عنه) او نور مسلمانان د سهار د لمانځه په قضاء کيدلو سخت خپه سول، سره ددې چي دوی عذر درلودی، مرګ يې سر ته ولاړ وو، د جګړې ټاکوونکي شيبې وې، د اعلاء کلمة الله لپاره د پيل سوي معرکې وروستۍ شيبې وې، حضرت انس (رضي الله عنه) فرمايي: دې پيښي مي د فتحي د خوشالۍ خوند را څخه هير کړ، هغه عظيم خلک وه، چي د الله (جل جلاله) د اوامرو پوره پابنده وه، فتحو او نصرتونو يې پښې ښکلولې.

حضرت قعقاع (رضي الله عنه)

پر فارس باندي د حملې کولو پر مهال چي کله مسلمانانو د فارس د پوځونو شمير او جنګي وسايل وليدل او خپل شمير او وسايل يې ورسره پرتله کړل، نو خپل امير او قوماندان حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) څخه يې وغوښتل تر څو د حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) څخه نوره پوځي مرسته وغواړي، هماغه وو چي حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) څخه يې مرسته وغوښته، د هغې خوا څخه حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) فقط يو کس ورته را واستوی، کله چي نوموړی کس د حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) پوځ ته ورسيد، نو مسلمانانو داسي فکر وکړ چي کيدای سي نور پوځ په ده پسي وروسته را روان وي، هغه په پوه سو، نو خلګو ته يې وويل: اميرالمؤمنين يوازي زه د مرستي لپاره راليږلی يم، ددې خبري په اوريدلو سره مسلمانانو د خپل قوماندان په طرف وليدل او ورڅخه ويې پوښتل: دا څه روان دي؟ مرسته څه سوه؟ حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) جواب ورکړ: د جنګ تيارۍ وکړی! همدا مرسته ده، دا دروند شخصيت حضرت قعقاع (رضي الله عنه) وو. د چا په هکله چي حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ويلي وه: په پوځ کي د قعقاع (رضي الله عنه) ږغ د زرو (۱۰۰۰) پوځيانو څخه غوره دی. بلکي دا يې هم فرمايلي وه: په کوم پوځ کي چي قعقاع (رضي الله عنه) وي، نو هغه پوځ ته څوک ماته نه سي ورکولای. هر مسلمان ته د حضرت قعقاع (رضي الله عنه) د سيرت څخه خبريدل په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابو عبیده بن الجراح (رضي الله عنه)

د عمواس په وباء کي حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) ته د عمر لیک: کله چي په فلسطین کي د عمواس مرګوني وباء خوله ښخه کړه، د ګڼ شمیر مسلمانانو او صحابه کرامو (رضي الله عنهم آجمعین) د مرګ خبرونه مدینې ته ورسیدل، د اسلام زړه سوانده خلیفه حضرت عمر (رضي الله عنه) سخت خپه او غمجن سو، ځکه په کراره کراره یې د ایمان او عقیدې وړونه یوه په بل پسې وفات کیدل، او بل هلته د حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) په څیر سړی هم وو، چي پر حضرت عمر (رضي الله عنه) سخت زیات ګران وو، حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) پر حضرت عمر (رضي الله عنه) دومره ګران وو، چي یوه ورځ حضرت عمر (رضي الله عنه) یوه کوټه کي د خپلو ملګرو سره ناست وو، هغو ته یې وویل: تاسو چي څه آرزوګاني لری هغه وواياست، هغوی چي خپلي آرزوګاني وویلې، حضرت عمر (رضي الله عنه) وویل: زما آرزو دا ده چي کاش دا کوټه مي د حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) په څیر سړیو څخه ډکه لرلای، د حضرت عمر (رضي الله عنه) ددې هیلي او آرزو څخه معلومولای سو، چي هغه د حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) سره څومره مینه لرله!

نو د عمواس وباء کي حضرت عمر (رضي الله عنه) د نورو تر څنګ پر ابو عبیده (رضي الله عنه) وبیریدی، مدینې ته د راغوښتلو او د وباء څخه د ژغورلو په نیت یې دا لیک ورولیږی: پر تا دي سلام وي، بیا دا چي تا ته مي د څه کار لپاره ضرورت دی، غواړم مخامخ در سره ووینم، نو کله چي دا لیک ولولې، پر مځکه یې مه ږده سمدستي راروان سه. راوي زیاتوي: ابو عبیده (رضي الله عنه) چي لیک ولوستی پوه سو، چي حضرت عمر (رضي الله عنه) غواړي دی د وباء د سیمي څخه وباسي، نو یې وویل: الله (جل جلاله) دي امیرالمؤمنین ته بخښنه وکړي، بیا یې په جواب کي ورته ولیکل: زه پوه سوم چي ته ما ته څه اړتیا لرې، زه د مسلمانانو د لښکر سره یم، زه ځان تر هغوی غوره نه ګڼم، زه نه غواړم د هغوی څخه جلا سم، زما او هغوی په اړه چي الله سبحانه وتعالی څه پریکړه کوي پر هغه راضي یم، نو اې امیر المؤمنینه! ما د دوی سره پریږده، حضرت عمر (رضي الله عنه) ته چي د ابو عبیده (رضي الله عنه) لیک ورسید او ویې لوست، په ژړا سو، خلګو ورته وویل: امیرالمؤمنین! آیا ابوعبیده (رضي الله عنه) وفات سوی دی؟! هغه وویل: نه، مګر لکه وفات چي وي، حضرت عمر (رضي الله عنه) ابو عبیده (رضي الله عنه) ته په بل لیک کي ولیکل: پر تا دي سلام وي، بیا دا چي خلګ دي په ژوره زییم لرونکې او خوړینه مځکه کي ساتلي دي، هسکي او هواداري مځکي ته یې وخیږوه، او بیا یې خلګ لوړ ځای ته پورته کړل.

حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه)

د خالد بن ولید (رضي الله عنه) د طرفه د کسرا حاکم ته لیک! خالد بن ولید (رضي الله عنه) و کسرا ته ولیکل: اسلام ومنه په آمن کي به سې، که نه د داسي خلګو سره به درسم، چي مرګ دومره خوښوي، لکه تاسو چي ژوند خوښوی، کله چي کسرا لیک ولوست، د چین د پاچا څخه یې مرسته او کومک وغوښتی، د چین پاچا په جواب کي ورته وویل: اې کسرا! د داسي قوم په وړاندي مي هیڅ زور نه رسي، که وغواړي چي غرونه د بیخه وباسي، ایستلای یې سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) د نړۍ نوموتی جنرال او جنګیالی وو، نوموړي په (۱۲۵) جنګونو کي برخه اخیستې وه، چي ټول یې په میړانه ګټلي دي، خالد بن ولید (رضي الله عنه) هغه څوک وو چي په (۴۲) کلنۍ کي یې عراق او سوریه فتحه کړل، هغه ته چا په جنګ کي ماته نه سوای ورکولای، تخلص یې سیف الله یعني د الله (جل جلاله) توره وو، دښمنانو هم ورته د دوهم مرګ لقب ورکړی وو، نوموړی به په یوازي سر د سلو (۱۰۰) نفرو سره جنګیدی، حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) هغه تلپاتې څهره ده، چي د توري په پورته کیدو سره یې اسلامي دین په نړۍ کي وځلاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت سعد بن عامر (رضي الله عنه)

يوه ورځ د وخت عادل خليفه حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د حمص اوسيدونکو څخه غوښتنه وکړه: چي د بيوزلو او مسکينانو نومونه ورته وليکي، تر څو د مسلمانانو د بيت المال څخه خپله برخه ورکړي، کله چي د بيوزلو نومونه ور ورسيدل په هغوی کي د حمص د والي سعد بن عامر (رضي الله عنه) نوم هم وو، ددې نوم په کتو سره حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) حيرانه سو، چي د حمص والي د حمص د فقيرانو څخه دی! د حمص د خلګو څخه يې د هغه د فقر په اړه پوښتنه وکړه؟ هغوی وويل: هغه خپل ټول مال پر فقيرانو وويشه، او ويل يې: زه څه وکړم زما څخه خو د الله سبحانه وتعالی په وړاندي د بيوزلو په اړه پوښتنه کيږي. بيا حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د خلګو څخه پوښتنه وکړه: آيا تاسو کومه نيوکه پر لری؟ هغوی وويل: هو درې عيبونه لري، ۱: زموږ سره يوازي سهار ليده کاته کوي. ۲: د شپې يې موږ نه وينو. ۳: په اوونۍ کي يوه ورځ نه وي.

کله چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د حضرت سعد (رضي الله عنه) څخه ددې عيبونو په اړه پوښتنه وکړه؟ حضرت سعد (رضي الله عنه) وويل: اې اميرالمومنينه! لاملونه يې دا دي: دا چي زه يوازي د دوی سره سهار ليده کاته کوم وجه يې دا ده، زه د خپلي کورنۍ په خدمت کي مصروف يم، زه کوم خادم نه لرم او ميرمن مي ناروغه ده. د شپې ځکه نه ښکارم چي ورځ مي د دوی د خدمت او اړتياوو پوره کولو لپاره ځانګړې کړې ده او شپه مي د خپل پروردګار د عبادت لپاره. دا چي په اوونۍ کي يوه ورځ نه يم، په دې ورځ کي خپلي جامې مينځم بيا يې د وچيدو انتظار کوم، ځکه همدا يوه جوړه لرم. حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) چي کله د والي خبري واوريدې په ژړا سو. دا د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مدرسې تربيه سوي شاګردان وه، د الله سبحانه وتعالی څخه بيريدل او په خپل هر کار کي يې الله (جل جلاله) حاضر ګاڼه.

حضرت حبيب (رضي الله عنه) او ميرمن يې ام عبيدالله

په ۳۱ هجري کال کي د اسلام دريم خليفه حضرت عثمان (رضي الله عنه) حضرت حبيب بن مسلمه الفهري (رضي الله عنه) ته (۸۰۰۰) زره فوځ ورکړ او د ارمينيا د فتحه کولو لپاره يې واستوی، هغه روان سو، د فالقليا په سيمه کي د روم د (۸۰۰۰) زره فوځ سره مخامخ سو، د جنګ د پيليدو څخه مخکي حضرت حبيب (رضي الله عنه) خپل فوځ ته وينا وکړله، د جهاد فضايل يې ورته بيان کړل او جهاد ته يې وهڅول، دا مهال د حضرت حبيب (رضي الله عنه) ميرمن ام عبيدالله بنت يزيد الکلبيه چي جنګي لباس يې په تن وو، او د خپل خاوند سره د الله (جل جلاله) په لاره کي د جهاد لپاره راوتلې وه، خپل خاوند يې مخاطب کړ او ورته يې وويل: اې حبيبه! که جنګ ډير سخت او خطرناک حالت ته ورسيږي تر دې پوري چي صفونه هم مات او ګډوډ سي او سره جلا سو، نو زه بيا تا په کوم ځای ولټوم؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت حبيب (رضي الله عنه)ورته وخندل او جواب يې ورکړ: زما ګراني! يا به د رومي سپه سالار موريان په خيمه کي سره يو ځای کيږو او يا به په جنت کي؟ لږ وروسته ډير خطرناک جنګ ومښتی، تر دې پوري چي دواړه ښځه او خاوند سره يو د بل څخه جلا او ورک سول، اسلامي فوځ په ډير سخت آزمايښت کي وو، د ډير سخت جنګ وروسته الله (جل جلاله) برۍ او فتحه ورکړه، حضرت حبيب (رضي الله عنه) د فتحي د اعلان لپاره د موريان خيمي ته ننوتی، هلته يې پر يو نقاب پوښ باندي سترګي ولګيدې، حيران سو، نقاب پوښ د حضرت حبيب (رضي الله عنه) د حيرانتيا د ليري کولو لپاره خپل نقاب اخوا کړ، حضرت حبيب (رضي الله عنه) لا زيات حيران سو، ځکه چي هغه نقاب پوښ بل څوک نه، بلکي د حضرت حبيب (رضي الله عنه) خپله ميرمن وه، هغه د خپل خاوند څخه مخکي د رومي سپه سالار خيمي ته رسيدلې وه، او هغه يې جهنم ته ليږلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان محمد الفاتح (رحمة الله عليه)

سلطان محمد الفاتح (محمود الثاني) د عثماني کورنۍ د مشهورو پاچاهانو او خليفه ګانو څخه دی، ده د خپل (۴۹) کاله يوې (۱) مياشتي او پنځه (۵) ورځي ژوند څخه (۳۱) کاله دوې (۲) مياشتي او اته ويشت (۲۸) ورځي په عدالت او تقوا سره پر اسلامي نړۍ واک وچلاوه، د کفري او صليبي حکومتونو پايې يې داسي ولړزولې، چي څوارلس (۱۴) واره طاغوت پالو دښمنانو مرګوني حملې باندي وکړې، مګر موفق نه سول.

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زيرۍ ورکړ: فسطنطينيه به د مسلمان امير او لښکر پواسطه فتحه کيږي.

محمد الفاتح د کوچنيوالي څخه د دغه زيري د تحقيق لپاره هڅه وکړه او د مسلمانانو د لښکر په تيارولو سره يې دغه وعده رښتيا کړه.

د سلطان محمد الفاتح د لوري مکې شريفي ته ليک: د قسطنطينيې تر فتحي وروسته محمد الفاتح ټولو واليانو ته خطونه وليکل چي په هغوی کي يو د مکې شريفي ليک هم وو، د ليک تر څنګ يې تحفې هم ورولېږلې، په خط کي تر تمهيد وروسته ليکي: دا ليک د خوښۍ ددې خبر سره در استول کيږي چي سږ کال الله سبحانه وتعالی موږ ته داسي فتحه راکړه چي داسي فتحه سترګو نه وه ليدلې، نه به غوږونو د هغه په اړه اوريدلي وه، موږ مشهوره مځکه قسطنطينيه فتحه کړه، تاسي ددې ستري فتحي اعلان وکړی او ددې تر څنګ د حرمين الشريفين د اوسيدونکو، علماء کرامو، د صالحو ساداتو، زاهدانو، نيکو عبادت کوونکو، سترو مشائخو، شرفاوو، امامانو، کشرانو او مشرانو، بيت الله چي د الله (جل جلاله) مضبوطه رسۍ ده، هلته په عبادت مصروفو کسانو څخه، د زمزم د ساتونکو، د مقام ابراهيم محافظينو او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د ګاونډيانو څخه په عرفات کي د سلطنت لپاره د دعاء غوښتنه وکړی، د الله سبحانه وتعالی څخه د مرستي او برکت د دعاء غوښتنه وکړی، زه د ليک سره تاسي ته يو څه خصوصي ډالۍ در استوم شل زره (۲۰۰۰۰) د خالصي طلاء خښتي چي د همدې غنيمت څخه ستاسي لپاره ځانګړي سوي دي، اووه زره (۷۰۰۰) خښتي د فقراوو لپاره دي، دوه زره (۲۰۰۰) د ساداتاتو نقباوو لپاره دي، زر (۱۰۰۰) خښتي خاص د حرمين الشريفين د خادمانو لپاره دي، نوري د مکې مکرمې او د مدينې منورې د مسکينانو او محتاجو کسانو لپاره دي، هغه د دوی د ضرورتونو مطابق د دوی تر منځ تقسيم کړی، د دوی څخه زموږ لپاره د دعاوو غوښتنه وکړی.

د مکې شريفي څخه محمد الفاتح ته ددې ليک جواب وليږه: په ډير آدب سره مي ستاسي ليک پرانيستو او د مبارکي کعبې په مخکي مي د حجازيانو او عربانو تر منځ ولوستی، په دې ليک کي هغه قرآني آيتونه وه، چي شفاء او د مؤمنانو لپاره رحمت دی، د خاتم النبياء حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) د معجزې د ظهوره هم خبر سو، چي د قسطنطينيې فتحه ده، چي د سترو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوالونو او خوندي توب په اړه يې د مځکي انسانان مثالونه ورکوي، موږ پر دې کار د الله (جل جلاله) حمد و ثناء وويله ځکه دا ډير ستونزمن کار وو، موږ په خوشاله يو، تاسي زموږ د پلار او نيکونو تاريخ ژوندۍ کړ، ددې مقدسي مځکي د اوسيدونکو سره ددې ميني د اظهار څخه به زموږ د نيکونو ارواحو ته اطمينان ور په برخه سوی وي، الله (جل جلاله) دي دوی ته په لوړو جنتونو کي ځای ورکړي.

کله چي مسلمان قاضي صاري خضر د مسلمانانو د خليفه او د قسطنطنيې د فاتح محمد الفاتح د لاس پرې کولو حکم صادر کړ! سلطان محمد الفاتح په قسطنطينيه کي د شانداره جامع مسجد جوړولو حکم وکړ، يو رومي معمار چي نوم يې إبسالنتي وو، او په تعمير کي ډير ماهر وو، په دې وجيبه موظف سو، د سلطان د اوامرو څخه يو دا وو چي د مسجد ستني بايد مرمر او ډيري هسکي وي چي مسجد شاندار په ښکاره سي او د هسکوالي اندازه يې هم معمار ته ورکړه، مګر رومي معمار د يو نامعلوم سبب د مخي ستني قطع کړې، بې له دې چي سلطان ته خبر ورکړي او يا مشوره ورسره وکړي، کله چي سلطان ته دا خبر ورسيد غصه يې وپاريده، ځکه چي دا ستني په ډير تکليف پيدا سوي وې، اوس نو د سلطان په نظر د ګټي وتلي وې، د غضب په توپان کي يې د معمار د لاس غوڅولو آمر وکړ، وروسته پښيمانه سو مګر وخت تير وو، معمار ددې ظلمه څخه ساکت نه سو، د اسطنبول قاضي ته يې خپله قضيه پيش کړه، قاضي په شکايت اوريدنه کي تردد ونه کړ او بې له ځنډه يې محکمې ته د سلطان د حاضريدلو آمر وکړ.

سلطان هم د قاضي په اطاعت کي تردد ونه کړ او په ټاکلي وخت محکمې ته حاضر سو، د حاضريدو سره د کښيناستلو ځای ته روان وو، چي د قاضي د خوا آمر ورته وسو، ته بايد د کښيناستلو څخه تير سي او د خپل خصم سره په څنګ کي ودريږې، سلطان محمد الفاتح د رومي کارګر سره په څنګ ودريد او قاضي د رومي شکايت واوريد، کله چي د سلطان د خبرو وخت راغلی، نو د رومي په دعوه يې اقرار وکړ او د قاضي حکم ته منتظر پاته سو، قاضي د څه فکر کولو وروسته سلطان ته مخ کړ داسي يې ورته وويل: د شريعت د أوامرو مطابق لازمه ده چي ستا لاس د قصاص په توګه غوڅ کړل سي!.

د قاضي ددې پريکړي سره رومي کارګر هيښ سو، هيبت ورباندي راغلی، ځکه د ده په خيال کي نه راتله چي قاضي دي د ده د لاس په قصاص کي د قسطنطينې د فاتح او د مسلمانانو د سلطان محمد الفاتح چي ټوله اروپا د ده د نومه په لړزه کي وه، د لاس پرې کولو پريکړه وکړي، د رومي معمار غټه هيله دا وه چي ده ته د لاس د تاوان مالي جبيره ورکړل سي، مګر دلته فيصله ډيره هيښونکې او هيبتناکه واورول سوه، په ټيټ آواز يې قاضي ته وويل: خپل دعوه تنازل کوي او د مالي عوض تقاضا لري، ځکه چي د سلطان لاس غوڅول ده ته هيڅ ګټه نه لري، قاضي آمر وکړ: سلطان به رومي معمار ته د هغه ضرر په سبب چي معمار ته يې رسولی دی، هره ورځ لس (١٠) د سرو ټوکړې ورکوي. سلطان چي د لاس د غوڅيدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص سو د خوشحالۍ په خاطر يې لس (١٠) نوري هم پر ځان نذر کړې او ويې ويل: هره ورځ به شل (٢٠) شل (٢٠) د سرو ټوکړې ورکوم، تر څو د بل وخت لپاره راته عبرت وي او بيا داسي ظلم ونه کړم.

سلطان محمد الفاتح د عثماني دولت اووم پاچا وو، د العثمان د اولادې څخه وو، محمد خان الثاني ته د الفاتح، ابي الفتوح او ابي الخيرات لقبونه کاريدل، مګر کله چي يې قسطنطينيه فتحه کړله د قيصر لقب يې هم په القابو کي ور اضافه کړل سو، چي د ده مخکي ياد لقب کوم بل خليفه ته نه وو ورکړل سوی، معلوميږي چي سلطان محمد الفاتح په بيزنطينه امپراطورۍ باندي وروسته د يولس (١١) پيړو څخه حکومت کړی دی، ده ديرش (٣٠) کاله په آسيا او اروپا باندي حکومت کړی دی، ده د اناضول ټول ممالک سره يو کړل، ده کوښښ کاوه چي د اروپا، بلجراد او بيزنطيه اداري شکل د عثماني خلافت په څير سي، مګر کله چي سلطان محمد الفاتح وفات سو، نو د کنائس چي د عيسويانو معبد خانو ته ويل کيږي، د آمر په امر په کښي تر درو (٣) ورځو پورو ګډاګاني کيدلې، ګنګړې په کښي شرنګيدلې، ځکه دوی راحت موندلی وو، اوس يې دومره بيره نه کيدله څومره چي د محمد الفاتح په وخت کي وه.

د محمد الفاتح خپل زوی بايزيد ته وصيت! محمد الفاتح خپل زوی بايزيد الثاني ته وصيت کوي، په داسي حال کي چي دی د مرګ پر بستر باندي پروت دی، ورته وايي:

١: نږدې ده چي زه مړ سم، مګر مرګ ته خفه په دې نه يم چي ما ستا په څير ځای ناستۍ پرې ايښی دی، ته يو عادل، صالح او مهربان شخص جوړ سه، په خپل رعيت باندي بې له دې چي کوم چا ته ترجيح ورکړې د عدل لاس وغوړوه!.

٢: د اسلام په خپرولو کي ډير کوښښ کوه، ځکه پر مځکه د دين خپرول او عملي کول پر پاچاهانو فرض دي.

٣: پر هر څه باندي ديني امورو ته وړانديوالی ورکوه او هيڅ کله يې په هميشه والي کي د سستۍ څخه کار مه اخله!.

۴: د هغو کسانو په خدمت کي د هيڅ وخت لپاره مه لويږه چي هغوی د اسلام اهتمام نه ساتي، د لويو ګناهونو څخه پرهيز نه کوي، په فحشا کي ډوب سوي وي.

۵: د بدعت او مفسدو کارونو څخه ډير ليري تيښته او د هغه کسانو هم ليري تيښته کوم چي تا بدعت او خرفاتو ته ورکشوي.

۶: د ښارونو جغرافيه په جهاد سره پراخه کړه. د بيت المال په پوره توګه حفاظت او ساتنه کوه. د اسلامي حق پرته د هيڅ چا مال ته لاس مه اوږدوه.

٧: فقيرانو ته د مرستي ضمانت ورکوه. حقدار ته د خپل حق په ورکړي سره اکرام او عزت کوه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸: د علماء کرامو عزت او برم ته په لوړه سترګه ګوره او تل يې پلوي کوه، ځکه چي علماء د اسلامي دولت محمکي ستني دي.

۹: کله چي واورې يو عالم په کوم ليري ښار کي ژوند کوي، د ليدلو لپاره يې خامخه ورسه، په مالي مرستي سره يې عزت او احترام کوه.

۱۰: پام چي مال او لښکر دي دوکه نه کړي. هيڅ کله دي ديني لارښوونکي ستا په دروازه کي د طمع په پار سرونه ټيټ نه کړي.

۱۱: هيڅ کله هغه څه ته ميلان مه کوه کوم چي د شريعت خلاف وي. ځکه چي اسلامي دين زموږ هدف دی. هدايت زموږ راسته لاره ده او په دې سره زموږ نصرت کيږي.

په اخر کي محمد الفاتح خپل زوی ته وايي: زما د طرفه دا در سره وساته چي په دې ښار کي زه د يوه کوچني ميړي په څير اوسيدلی يم، دا ما ته الله سبحانه وتعالی يو لوی نعمت را په برخه کړی وو، ته بايد يوازي زما مسلک ونيسي، زما پر تګلاره ولاړ سي، ته د دين او د ديني اشخاصو د عزتمند ساتلو لپاره هيڅ کله د هلو ځلو دريغ مه کوه، ته بايد د دولت مال په چټياتو، بې معنا او د قدر څخه په زياتو شيانو مصرف نه کړې، ځکه چي دا د تر ټولو د ستر هلاکت زريعه بلل سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه)

د ايوبيانو نسب ايوب چي د شادي زوی او هغه د مروان زوی د (دوين) ښار چي اوس ارمنستان بلل کيږي رسيږي، په غالب ګمان د کرديانو د نسل څخه دی، صلاح الدين ايوبي د ۵۳۲ هجري کال چي د ۱۱۳۸م کال سره سمون خوري د عراق د تکريت په ښار کي وزيږيدی، د هغه کورنۍ د ده د پيدا کيدو په شپه عراق ترک او د موصل ښار ته وکوچيدل، يو کال وروسته د هغه ښار څخه بعلبک چي په اوسني لبنان کي موقيعت لري ميشت سول او پلار يې هلته حاکم مقرر سو، د صلاح الدين ايوبي ماشومتوب په همدې ښار کي تير سو، لومړۍ زده کړي يې په همدې ښار کي تر سره کړې، قرآن کريم يې حفظ کړ، حديث، فقه، لغت او تاريخ يې ولوستل، د سورلۍ او مبارزې فن يې زده کړ، د ځواني په پيل کي حلب چي په اوسنۍ سوريه کي موقيعت لري ولاړ او هلته د خپل اکا سره چي د نورالدين محمود د قوماندانو څخه وو، يو ځای سو، نورالدين محمود هغه وخت د حلب او دمشق حاکم وو.

د اسدالدين د وفات وروسته صلاح الدين ايوبي د مصر د وزارت مقام تر لاسه کړ، په پيل کي څه نارامۍ موجودي وې، چي فاطمي خلفاؤو صلاح الدين ايوبي ته مکمل واک نه وو سپارلی، مګر صلاح الدين ايوبي څه وخت وروسته په پوره تدبر سره د مصر مکمل واک لاسته راوړ، د مصر اقتصاد يې ورغوی، د پخواني نظام عناصر يې ليري کړل او فوځ يې دوباره تشکيل کړ، هغه د خپل پلار وصيت عملي کړ چي د نورالدين سره به هيڅ اختلاف نه کوي د نورالدين تر وفات پوري د هغه تر بيرغ لاندي وو، کله چي نورالدين محمود په ۵۶۹ هجري کال چي د ۱۱۷۴م کال سره سمون خوري وفات سو، صلاح الدين ايوبي د ايوبيانو حکومت تشکيل کړ، قاهره يې د خپل سلطنت پلازمينه وټاکل او د سلطان لقب يې وګټۍ، وروسته صلاح الدين ايوبي د دمشق، حمص، حماة او بعلبک سيمي هم ونيولې او د نورالدين د خاندان څخه يې خپله خپلواکي اعلان کړه، خپل ځان يې مستقيماً د عباسي خلافت تابع وبللو او د هغوی څخه يې د سلطان لقب تر لاسه کړ.

د سطان صلاح الدين ايوبي ټول کوښښتونه د اسلامي اُمت د وحدت او يوالي لپاره وه، هغه تقريباً لس (۱۰) کاله د اسلام د سياسي قوت او اسلامي فوځ د يووالي او خپل مينځي اختلافاتو د له منځه وړلو په لاره کي مبارزه وکړه، بلاخره هغه د يو ستر اقدام لپاره چي د صليبي يرغلګرو څخه د بيت المقدس آزادول وه، ځان چمتو کړ، او وروسته وتوانيدی چي د بيت المقدس په شمول زيات ښارونه د صليبيانو څخه آزاد کړي، صلاح الدين يوسف بن ايوب چي د ايوبيانو د حکومت مؤسس وو، د مصر، شام، عراق، يمن، حجاز مناطق يې د حکومت تر تسلط لاندي وه، قدرت ته تر رسيدو مخکي په دمشق کي د صلاح الدين لقب ورکړه سو، او په مصر کي د الملک الناصر لقب ورکړه سو، همدا وجه وه چي د صلاح الدين ايوبي اسلامي فتوحاتو اروپا ولړزوله د صليبيانو د دريم جنګ عامل سو، چي فرانسې، انګليستان او جرمني د ده د مقابلې لپاره ستر لښکر چمتو کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي بهاوالدين ابن شداد ليکي: د بيت المقدس شريف فتحه يوه ستره فتحه وه، چي د علماؤو او پوهانو ستر جماعت په کښي برخه درلوده، کله چي مسلمانان د سلطان صلاح الدين ايوبي د شام د فتوحاتو څخه خبر سول او په دې پوه سول چي د قدس شريف د فتحي لپاره را روان دی، نو د مصر او شام ټول پيژندل سوي علماء د هغه سره يو ځای سول، د دعا او تکبير آوازونه يې پورته کړل، خطبه وويل سوه، او د جمعې ورځ بيت المقدس شريف ته ورسيدل، هغه صليب (†) چي پر مسجدالصخرة باندي لګيدلی وو را کښته يې کړ، الله سبحانه وتعالی د مسلمانانو نصرت وکړ کامياب يې کړل، د قدس شريف فتحه وروسته د (۹۰) کاله څخه په ۵۸۳ هجري کال د رجب د مياشتي پر (۲۷) تاريخ وسوه، او د مسلمانانو لاسته د اسلام لومړۍ قبله ورغله.

د سلطان صلاح الدين ايوبي ژړا! کله چي صلاح الدين ايوبي د فاطمي خلافت وروستۍ کس خليفه العاضد معزول کړ او مصر يې د عباسي خلافت برخه وګرځوی، نو د نوموړي په خلاف د فاطمي خلافت ځيني قومندانانو لاسونه يو کړل، چي په دوی کښي يو هم فيض الفاطمي وو، څوک چي د صلاح الدين ايوبي ځانګړۍ نفر، د پوځ لوړ پوړۍ مشر، د سلطان راسته لاس او د پټو رازونو څخه خبر وو، د الفاطمي د دوه مخيتوب او بغاوت په اړه علي بن سفيان سلطان ايوبي ته خبر ورکړ، مګر هغه وويل: په هيڅ صورت کي به دا ونه مني چي ګواکي الفاطمي دي د سلطان پر ضد د صليبيانو سره پټ لاس يو کړی وي، مګر کله چي فيض الفاطمي د ثبوت سره ونيول سو، په خپل جرم او خيانت يې اعتراف هم وکړ، نو د مرګ سزا ورته واورول سوه. مراکشی تاريخ ليکوونکی اسد الاسدي د صلاح الدين ايوبي د يوه کاتب په حواله ليکي: کله چي سلطان د الفاطمي د په دار ځړولو امر لاسليکوی، نو سلطان ايوبي په چيغو چيغو ژړل.

د عکا تر فتحي وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر ورکړل سو، چي يو ډير مهم صليبي نيول سوی دی، هغه وويل: څوک دی!؟ جواب ورکړل سو: هرمن جرمنۍ د علي بن سفيان په څير د کمال خاوند او د استخباراتو ادارې مشر دی، هرمن جرمني په فلسطين کي د مسلمانانو خلاف دومره ورانکاري کړې وه، چي زياتو مسلمانانو پيژانده، کله چي عکا / عکره ونيول سوه، هغه د خپلو ورانکارو انجونو سره يو ځای د تيښتي په حال کي وو، چي د يو مسلمان جاسوس سترګي پر ولګيدې، هغه د اطرافي او قبايلي خلګو جامې اغوستي وې او انجونو ته يې هم هماغه ډول جامې ورکړي وې، جاسوس يو قومندان ته وويل: دا هرمن دی او دا انجوني هم شکمني ښکاري، هرمن دستي سلطان صلاح الدين ايوبي ته وروستل سو، مګر سلطان صلاح الدين ايوبي د دښمن په شان نه بلکي د يو ميلمه په حيث چلند ورسره وکړ، هغه ته يې سمدستي شربت ورکړ معنا دا چي د هغه سر په آمن کي دی، هرمن وويل: که تاسي زما د خبرو اترو پرته زما د وژلو حکم صادر کړی وای، نو دا به ښه وای، سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: زه ستاسي په څير پوه او ميړني انسان ته د قدر په سترګه ګورم. هرمن وويل: آيا تاسي زما څخه ددې پوښتنه کول غواړی چي په کومو کومو سيمو کي زموږ څومره پوځ پروت دی!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: هيڅکله نه! دا زما څخه پوښتنه وکړه، زه تاسي ته ووايم، ځکه ستاسي په زړه کي زموږ مجاهدين ناست دي، په حطين کي ستاسي پوځ بې شميره وو، مګر بريااليتوب مو په برخه نه سو، صلاح الدين ايوبي وويل: تاسي ولي د مسلمانانو په منځ کي بد اخلاقي، بې اتفاقي، د چوکۍ مينه او محبت خپرولو او په دې توګه تا زموږ ملت او خلګ څو کاله پرله پسې وجنګول؟ هرمن وويل: دا زموږ مسؤوليت دی، موږ په صليب باندي قسم خوړلی دی، چي په هر ترتيب کيږي موږ به مسلمانانو ته زيان رسوو، د هغوی ابرو، عزت، ناموس، حياء او ايمان به اخلو او په مقابل کي به عياشي، فحاشي او وطن خرڅول ور زده کوو، که نن تاسي دا خلګ منع کړی، نو سبا زموږ کسان په دې باندي کاميابيږي، موږ او تاسي به نه يو، مګر تاريخ به دا په ياد ولري چي په راتلونکي کي به د مسلمانانو واکمنان، مشران او سرداران زموږ روزل سوي او ګمارل سوي کسان وي، د حکومت ټول کارونه به هغوی ته سپارل کيږي، هغوی به ښکاره د نورو په شان مسلمانان وي، مګر په باطن کي به زموږ ملګري او مرسته کوونکي وي.

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: ميلمه! دا راته ووايه د پوځ کړه وړه نور څنګه ښه کولای او د هغوی وقار پورته کولای سو؟! هرمن وويل: محترم سلطان! زه ستاسي د فراست او هوښيارۍ ستاينه کوم، ستاسي د استخباراتو نظام ډير ښه دی، د علي بن سفيان، حسن بن عبدالله او بلبيس په څير خلګو په شتون کي تاسي هيڅکله نه ناکاميږی، مګر زه تاسي ته وايم: دا ستاسي تر ژوند پوري دي، موږ چي کوم تخم شيندلی دی، هغه نه ضايع کيږي، دا چي تاسي د کلکي عقيدې څښتن ياست، نو د بې دينه عناصرو مخه مو نيولې ده، مګر ستاسي مشاورينو، قوماندانانو او داسي نورو... په زړونو کي د حکومت، دولت او آرام ژوند نشه پيدا کړې، سلطان محترم! دا جنګ چي اوس يې موږ او تاسي کوو دا زما او ستا نه بلکي د کليسا او جومات جنګ دی، چي تر موږ وروسته به هم روان وي، موږ ددې وروسته په ميدان کي ستاسي په مقابل کي توره نه پورته کوو، بلکي د مسلمانانو پر دماغونو به کار کوو، سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: هو! دا يو حقيقت دی، د قوم هر فرد ته په کار دي چي خپل دين او وطن سره وفاداري وکړي، هغه قوم ژوندۍ وي کوم چي د خپل دين او ټولني د آرزښتونو ساتنه کوي، زه تاسي د يو دروند بندي په توګه دمشق ته ليږم، هرمن وويل: کومي انجوني چي زما سره ملګري وې د هغوی په باب څه راته ويلای سې!؟ سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: زه انجوني په بند کي نه ساتم او د هغو د وژلو اراده هم نه لرم، هرمن وويل: دا ډيري ښکلي انجوني دي يو نظر يې وګورئ! تاسي ته خو خپل دين اجازه درکوي چي مينځي يې کړی او بيا نکاح ورسره وکړی، سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: دا صحيح ده، مګر زه په خپل کور کي د مار بچي نه پالم، هرمن وويل: د دوی خو هيڅ ګناه نه ده، موږ دوی ته د کوچنيوالي څخه داسي تربيت ورکړی دی، سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: نو له همدې امله د دوی د وژلو حکم هم نه سم ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان صلاح الدين ايوبي او ارناط باچا: صالح الدين ايوبي ته خبر ورسيده، چي ارناط باچا په فلسطين کي د کرک والي د مسلمانو حاجيانو مخه نيولې، ښځي او کوچنيان يې خورا په بې رحمۍ سره وژني، او دا وايي: محمد (صلى الله عليه وسلم) ته مو ور ږغ کړی، چي تاسو را څخه وژغوري! ددې خبر په اوريدو سره، سلطان صالح الدين ايوبي په لړزه سو، سګلۍ يې شروع سوې او پرله پسې دوې ورځي يې وژړل، بيا يې وويل: اې مهربانه څښتنه! ما ته اجازه راکړه، چي د محمد (صلى الله عليه وسلم) په نمائنده ګي، د محمد (صلى الله عليه وسلم) د اُمت دفاع وکړم، دا يې تکرارول په همدې غمجن حالت کي وو، بيا وروسته خپل لښکر ته راغلی او هغو ته يې دا لنډه وينا وکړل: اې د محمد (صلى الله عليه وسلم) لښکره! ارناط باچا د بيت الله حاجيان وژني، ظلم باندي کوي، د هغوی د ښځو او کوچنيانو ويني بهيوي او هغو ته وايي: محمد (صلى الله عليه وسلم) ته مو ور ږغ کړی، چي تاسو را څخه وژغوري!. نو ما خپل نفس او روح د محمد (صلى الله عليه وسلم) د اُمت په دفاع او ساتنه کي وقف کړی دی، نو په تاسو کي چي څوک غواړي زما سره ولاړ سي، هغه دي زما سره يو ځای سي، ټول لښکر يې په يوه خوله جواب ورکړ: موږ ټول تر رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قربان يو، نو کله چي د حطين جګړه ومښتل، سيمه د سلطان صلاح الدين ايوبي تر لاس لاندي سوه، ارناط باچا د ده د لوري ونيول سو، سلطان صلاح الدين ايوبي ورته وويل: هغه ته وې، چي ويل دي: محمد (صلى الله عليه وسلم) ته مو ور ږغ کړی، چي تاسو را څخه وژغوري!؟ هغه جواب ورکړ: هو! سلطان صلاح الدين ايوبي ورته وويل: زه فقير مريۍ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نمائنده يم، هغه راليږلی يم، ستا ومخته ولاړ يم، تر څو د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د اُمت ساتنه ستا د سر په پرې کولو وکړم، او بيا يې په خپله توره، د هغه سر د تن څخه جال کړ.

يو اروپايي تاريخ پوه لين پول ليکي: د غنيمت دومره زيات مال به د صلاح الدين ايوبي لاسته ورتلی، چي حساب به يې نه وو، جنګي بنديان هم د شميره وتلي وه، صلاح الدين ايوبي به د غنيمت ټوله شتمني په درې (٣) برخو وويشله، يوه برخه يې پر جنګي بنديانو ويشله او هغوی يې آزادول، دوهمه برخه يې پر خپلو پوځيانو او غريبانو ويشله او دريمه برخه يې د نظام الملک مدرسې ته ورکوله، هغه پخپله هم په همدې مدرسه کي زده کړي کړي وې، نه يې پخپله ځان ته څه وساتل او نه يې خپل کوم جرنيل ته څه ورکړل، ددې ويش پايلي دا سوې، چي د جنګي بنديانو زياته برخه که مسلمانان وه او که غيري مسلمانان، ټول د صلاح الدين ايوبي په پندغالي کي را ټول سول او د هغه د اطاعت په منلو سره يې د هغه په پوځ کي خپل خدمات پيل کړل، د ايوبي لويوالی او سترتوب تر ليري ليري ځايو پوري مشهوره سو.

کله چي سلطان صلاح الدين ايوبي پر صليبيانو باندي د بريد لپاره خپل جنګيالي چمتو کړل، نو يوه سپين سرې ښځه ورته راغله ويې ويل: د الله (جل جلاله) روی ته وګوره، نن جګړه مه کوه، مژور مي حامله ده، نن يې کوچنی پيدا کيږي، که چيري جنګ دوام وکړي مژور او لمسۍ د مينځه ځي، سلطان صلاح الدين ايوبي ورسره ومنله، سرتيرو ته يې وويل: سبا حمله کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا هم هغه سپین سرې ښځه په تلوار سره سلطان صلاح الدین ایوبي ته راغله او ورته ویې ویل: د هغه خدای (جل جلاله) لپاره چې ته باور په لرې، نن هم جګړه مه کوه، پرون مې لمسۍ دنیا ته رانه غلی، نن که د الله (جل جلاله) خوښه وه، وبه زیږیږي.

سلطان صلاح الدین ایوبي بیا خپلو سرتیرو ته امر وکړ: نن حمله نه کوو، سبا ته په تمه سئ! صلیبیان حیران سول چې دا څنګه دا دوې ورځې کیږي جګړې ته رانغلل وبیریدل که څنګه؟ خپل یو کس یې سلطان صلاح الدین ایوبي ته واستوی، چې پوښتنه ځیني وکړي، ولې جګړې ته نه راځي؟ کله چې د صلیبیانو کس بیرته خپل قوم ته ولاړی، ټوله کیسه یې ورته وکړه، چې داسې حال وو، نو د صلبیانو مشر بیرته خپل کس ور واستوی، او ورته ویې ویل: صلاح الدین ته ورسه، ورته ووایه: بغیر د جګړې زموږ خاوره ستا سوه، او دا یې خپل قوم ته وویل: کوم امیر چې پر ښځه او کوچني رحم کوي، نو موږ هم د ده څخه بیریږو، دا بریا دې ده ته مبارک وي، موږ یې منو!

په ۱۱۸۷زیږدیز کال د مسلمانانو او صلیبیانو تر منځ په حِطین نومي ځای کې یوه خونړۍ جګړه وسوه، د مسلمانانو سپاه سالار سلطان صلاح الدین ایوبي وو، مګر بل لوري ته ټوله عیسوي نړۍ د خپل صلیبي بیرغ لاندې راټوله وه، په دې جګړه کې مسلمانانو عظیم الشانه فتحه تر لاسه کړه، چې په تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت سوه. (۳۰۰۰۰) دیرش زره صلیبیان یې جهنم ته واصل کړل او همدومره اسیران سول، د حطین د ستري سوبې وروسته د مسلمانانو پرمختګ همداسې جاري وو، او بالآخره فلسطین هم فتحه سو. نن بیا فلسطین د کوم سلطان صلاح الدین ایوبي په تمه دی، مسلمانان د خپلې دومره ستري بریا او ددې د تفصیلاتو څخه ناخبره دي، مګر د خپلو دښمنانو د فلمونو څخه بیا بشپړ خبر دي.

سلطان صلاح الدین ایوبي ویل: زه دوه سوه (۲۰۰) صفاحیان د دښمن د یوه جاسوس د نیولو لپاره قرباني کووم، ځکه چې جاسوس د دښمن سترګې او غوږونه دي، او زموږ لپاره ژبه ده، چې د دښمن ټول شوم پلانونه ورباندې د منځه وړلای سم.

ستر مجاهد سلطان صلاح الدین ایوبي به ویل: داسې وخت به راسې پاچا به مسلمان وي، مګر واکمني به عیسویان پر کوي، مسلمانان به یوازې په دې خوشحاله وي، چې زموږ سره پاچاهي او آزادي ده، مګر په حقیقت کې به دوی آزاد نه وي.

قاضي بهاوالدین ابن شداد لیکلي: د سلطان صلاح الدین ایوبي یوه هیله د فلسطین او بیت المقدس آزادي د صلیبیانو څخه وه، دا پوره سوه، تر دې وروسته یې هیله د حج فریضه ادا کول وه، مګر دا هیله یې پوره نه سوه، ددې علت ناروغتیا نه، بلکې د مصر، شام او فلسطین واکمن ددې فریضې د لګښت وس نه درلودل وه، آن تر دې چې کله وفات سو، نو کفن هم قاضي بهاوالدین ابن شداد او قاضي الفضل بن ذکي ورته اخیستی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیف الدین محمود قطز (رحمة الله علیه)

د سلطان جلال الدین د خور په کور کي د محمود په نوم ماشوم نړۍ ته سترګي وغړولې، په همدې وخت کي مغولو پر خوارزم حمله وکړه، چي په ترڅ کي یې اکثریت خوارزمیان ووژل سول او څو د ګوتو په شمیر کسان ژوندي پاته سول، چي محمود د څو نورو کوچنیانو سره د مغولیانو د خوا یرغمل سو، اسارت او کوچنیوالی د محمود قطز په همت کي کمي را نه وسته او دا نوم یې چي د داړونکي سپي په معنا دی، هم د مغولو د خوا پر کښیښول سو، مغولي ځواکونو چي د سلطان جلال الدین او د ده تر منځ په نسبت او د ده د شخصیت په اړه ناخبره وه، دی یې هم د نورو برمته سوو کسانو په څیر د خرڅلاو لپاره ښار ته یو وړ، په دمشق کي د ابن الزعیم په نوم کس واخیست، قطز سره له دې چي کوچنۍ هم وو، ویې کولای سول چي عربي ژبه، قرآن کریم او لومړني اسلامي علوم زده کړي.

تاریخ روایت کوي: یوه ورځ د قطز ښوونکي قطز وواهه، ده یې هم په عکس العمل کي پوره ورځ خواړه نه خوړل، ښوونکي یې ناچاره سو او ده ته یې حاج علي فراش د تسلۍ لپاره ولیږه، فراش وایي: ما قطز ته وویل: آیا ته د ښوونکي د وهلو د امله دومره ژاړې؟ قطز وویل: هیڅکله نه، بلکې ددې امله ژاړم چي هغه زما پلارګنۍ ته سپکي سپوري وویل، حالانکي چي هغوی تر ده نیک او بهتر دي، فراش وایي: ما قطز ته وویل: ستا پلار څوک دی؟ آیا هغه یو کافر نه وو؟ راته ویې ویل: په الله سبحانه وتعالی لوړه کوم چي زه مسلمان د مسلمان زوی یم، مودود مي پلار، خوارزمشاه مي ماما او د شاهانو شهزاده یم، قطز په کوچنیوالي کي تقریباً ټول جنګي فنون زده، په توره وهلو او د آس په سپرلۍ کي یې خاص مهارت درلود.

د قطز واک ته رسیدل: د ملک نجم الدین د واک په دوران کي چي دی د سلطان سلاح الدین ایوبي د کورنۍ څخه وو، ډیری برمته سوي ترکان مصر ته راوړل سول چي د همدې ډلي څخه عزالدین ایبک ترکماني قطز وپیرود او مصر ته یې راوړ، کله چي قطز واک ته ورسیدی، په بیړه، خو په تدبیر د دولت او هیواد چاري یې منظمي کړې، په شام او مصر کي یې خپل سیالان پر ځان راټول او خپل لښکر سره یې یو ځای کړل، ورسته یې د خلګو او سرتیرو د مورال لوړولو باندي کار پیل او د لومړي ځل لپاره یې هغوی د مغولو پر ضد ودریدلو ته چمتو کړل، قطز ته د مغولو استازي راتلل، مغول چي د مصر تر دروازو پوري را رسیدلي وه، خپل استازي یې د داسي یو لیک سره چي ټول بد، رد او قطز ته ګوت څنډني په کښي لیکلي وې، قطز ته واستول، د لیک متن په لاندي الفاظو مشتمل وو: واک او ځواک موږ ته وسپارۍ! مخکي ددې چي زموږ د زوره خبر سی، حتماً به زموږ د لوري د قتل عامونو او ښارونو ورانولو د پیښو خبر یاست، نو چیري او څنګه به تښتۍ؟ په داسي حال کي چي موږ در پسې یو، زموږ د تورو د ګذارونو څخه نه سی پټیدلای، زموږ شمیر لکه شګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره دی، څوک چي زموږ سره مقابله کوي، هغوی پیښمانه کیږي، نو دا واوری چي خپله ځانونه د خپله لاسه د هلاکت کندي ته مه ټیل وهی، سره له داسو ګوت څنډنو او اخطارنو قطز یوه دمه هم ونه لړزید او نه یې په همت کي کمی راغلی، ځکه هغه داسي مسلمان وو چي د الله سبحانه وتعالی په لار کي یې شهادت د دین او انسانیت دښمنانو ته تر تسلمیدو غوره ګاڼه، هغه دا پیتله چي په هر حال کي یوه نه، یوه نیکي تر لاسه کوي، یا به کامیاب او غالب سي، یا به د شهادت لوړي درجې ته ورسیږي، د بل لوري قطز د خوارزمي پاچاهانو د کورنۍ او سلطان جلال الدین یې ماما وو، سلطان جلال الدین هغه څوک وو، چي د زمري غوندي زړه یې درلودی او د مغولو په مقابل کي یې تر ډیره پوري په میړانه ودریدی، آن د هغوی څخه یې ځیني ښارونه بیرته ونیول، قطز د وړاندي پوهیده چي د مغولو نه ماتیدل هسي یوه کیسه او افسانه ده، او د مغولو ماته یې په کوچنیوالي لیدلې وه، قطز هم د مغولو استازي بندیان او د هغوی لیک یې څیري کړ، د خپلو سرتیرو د مورال د لوړاوي په پار یې استازي د تیغه تیر او د ښار په دروازو را ځوړند کړل.

د مغولو په وړاندي د لښکر او تجهیزاتو تیاري: قطز ددې پر ځای چي په مصر کي پاته او د مغولو په وړاندي دفاعي حالت اختیار کړي، ښه یې دا وبلله چي مخکي له مخکي تیاري ونیسي او د مغولو په وړاندي د شام پر لور تعرض وکړي، هغه داخلي جبهه د هغو کسانو پاکه کړه چي ده یې په همت او شجاعت کي شک درلود، او د هغوی تشه یې په خپلو اعتمادي کسانو ډکه کړه، وروسته یې په قاهره او خپل نورو تر واک لاندي ښارونو کي د جهاد اعلان وکړ او خلګ یې جهاد ته رابلل، د لښکر د تجهیز لپاره یې زیاتي هلي ځلي وکړې او پر خلګو یې نوي مالیات وضع کړل، مګر ډیری علماؤو چي د وخت زبردست عالم، علامه عز بن عبدالسلام هم په کښي موجود وو، د قطز ددې کار سره مخالفت وښود او د ده څخه یې غوښتنه وکړه چي جنګي مصارف دي د ممالیکي قومندانانو د شتمني څخه تعین کړي، تر څو د قومندانانو سره بې له آس او وسلې نور څه پاته نه سي، او که بیا هم مصارف کافي نه وه، بیا دي پر خلګو مالیات وضع سي.

قطز چي کله متوجه سو، نوموړی فرمان پر ځینو قومندانانو دروند پریوځي، هغوی ته یې داسي خطاب وکړ: اې د اُمت سرلارو! یو وخت داسي وو چي تاسو د بیت المال د مال څخه ګټه اخیسته، مګر اوس د جهاد څخه پر شا کیږی؟ زه جهاد ته تیار او روان یم، څوک چي را سره ځي، بسم الله کړی او هغوی چي د جهاد تللو څخه مخ اړوي، الله سبحانه وتعالی په خبر دی او د مظلومو مؤمنانو آه یې پر خپله غاړه! د قطز دې خبرو پر قومندانانو ژور تاثیر وکړ او هغوی هم ټول په یوه خوله سول جهاد ته تیار سول، قطز د لښکر سره د مصره چي ووتی، په لاره کي د شام لښکر ور سره یو ځای او غزې ته ورسیدل، قطز د لښکر د مخکي برخي لپاره بیبرس وټاکه، ډیر باهمته کس، د مورال لوړولو چل او ول یې زده وو، مخکي تر دې چي جنګ شروع سي، بیبرس د څو تنو سرتیرو په ملتیا د مغولو په لومړی کرښه برید وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغوی ته یې درنه مرګ ژوبله واړوله، د بیبرس دې کامیاب جنګي تکتیک اوضاع داسي برابره کړه هغه صلیبي یرغلګر چي په ځینو ځایو کي یې حضور درلود، دې ته مجبور کړل چي د مسلمان لښکر سره داسي عهد وکړي چي د مسلمانانو په وړاندي به د مغولو هیڅ راز مرسته نه کوي، قطز هم هغوی ته ګوت څنډنه وکړه چي د مغولو سره د مرستي په صورت کي به مسلمانان اول پر هغوی حمله کوي.

د عین جالوت جګړه: د ۶۵۸ هـ ق کال د روژې میاشتي پر (۲۶) مه د جمعې ورځي په سهار د قطز او مغول لښکر د عین جالوت په سیمه کي سره مخامخ سول، او سخته نښته رامنځته سوه، د جګړې تر پیلیدو لږ شیبه وروسته د مغولو فوځونو لوړ ځایونه په خپله ولکه کي راوستل او ددې سره دوی وتوانیدل د چپه اړخه د مسلمانانو په راسته اړخ حمله وکړي، او مسلمانانو ته درنه مرګ ژوبله واړوي، دا کار ددې لامل سو، چي مسلمان فوځ د ګډوډۍ سره مخ او نژدې وه، چي د مسلمانانو د بریا وروستۍ هیله د خاورو سره خاوري او په ترڅ کي یې نړۍ د نورو وحشتونو سره مخ سي، نابېره سیف الدین قطز د خپل آس څخه مځکي ته راکښته سو، خپله خولۍ یې پر مځکه کښیښول او دا نعره یې وکړه: واه اسلاماه، واه اسلاماه! د ده د نعرې په اوریدلو سره د ده فوځ پر ده را چاپیر سو او په ټول توان سره یې پر مغولو حمله وکړه، هغوی یې پر شا وتمبول. قطز تکراراً ځان سره دا دعا لوستله: اې الله (جل جلاله)! د مغولو په وړاندي د قطز یاري وکړه.

د مسلمانانو په دې کاري برید کي د مغولو سرلښکر کتبغا ووژل سو او مغول د شمال پر لور پر شا سول، مغولو بیا خپلي لښکري منظمي کړې، مګر سیف الدین قطز هغوی پسي تعقیب کړل، د ساعتونو جګړې وروسته مسلمانانو خپل برۍ یقیني کړ او په نتیجه کي مغولو خپل تر ټولو لوی شکست په سترګو ولید، دا ستره ماته دوی ته د نورو ماتو پیلامه سوه، کله چي سیف الدین قطز دوی ته ماته ورکړه، د خپل آس څخه را کښته سو، د الله سبحانه وتعالی د مننې په پار یې هغه ته پر مځکه سجده ولګوله.

د جالوت د کامیابه سوبې وروسته د مماليکو لښکر چي قومانده یې بیبرس او سیف الدین قطز پر غاړه لرله، د مغولو په تعقیب پسې سول، دمشق او حلب یې د هغوی څخه بیرته ونیول، او د هغوی بې موراله لښکر د شام څخه تیښتې ته اړ سو، که څه هم د جالوت سوبه د مغولي لښکر د ختمولو نه وه، مګر د مغولي لښکر لپاره د نورو ماتو زیرۍ ورکونکې وه، چي دې کار ته د قطز ورسته بیا بیبرس دوام ورکړ، د جالوت سوبې آهمیت په دې کي دی، چي دا سوبه د مغولو د حملو وروستۍ هڅه وه، معنا دا چي وروسته ددې کامیابي سوبې مسلمانانو تعرضي او مغولو دفاعي حالت اختیار کړ، لکه د مسلمانانو د نورو فتوحاتو په شان معلومیږي، اما دې جګړه کي د مسلمانانو برۍ ظاهراً د سیف الدین قطز رهبري او په دې جګړه کي د هغه برۍ په اسلامي تاریخ کي خاص ځای او آرزښت لري، ځکه چي سیف الدین قطز په داسي یو وخت کي د مسلمانانو رهبري وکړه چي د دریو څخه دوې برخي مسلمانان په اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوزيدلي، او بې اندازې کړيدلي وه، ده مسلمانانو ته نجات ورکړ او د مغولو په لاس د نورو مسلمانانو د وژلو مخنيوی يې وکړ، سيف الدين قطز د مغولو نه ماتيدونکې ستراتيژي چې د کلونو څخه يې راج چليدی، ماته او په مسلمانانو کې يې دا باور را منځته کړ چې د ايمان په زور او د الله سبحانه وتعالی په نصرت پر هر دښمن برې ممکن دی، سيف الدين قطز د مغولو تعرضي ستراتيژي يې په دفاعي ستراتيژي ور بدله کړه، د هغوی شان او شوکت يې د خاورو سره برابر کړ، د تأمل او پند خبره دا ده څنګه يو کس چې د درباري کورنۍ څخه وو، لاندي ولويد، بندي او غلام سو، مګر اسارت او غلامي يې په همت او اراده کې کمي را نه وسته، هغه هيله چې د مغولو ماته وه، ده د هغې ورځې لپاره د کوچنيوالي څخه تياري ونيوله، ديني علوم او جنګي فنون يې زده او بلاخره هماغه ارمان او سپيڅلی هدف ته يې لاس ورسيد.

په عين جالوت سيمه کې د مغولي لښکر سره د مصر د پاچا سيف الدين قطز تر مشرۍ لاندي د مسلمانانو خونړۍ جګړه روانه وه، چې په همدې جګړه کې د قطز ميرمن جلنار کې يو غشی ولګيدی او را پريوته، قطز چې د هغې دا حالت وليد نو د جګړې د ميدانه خپلې خيمې ته راوګرزيد او چيغه يې کړه: وای زما محبوبې! مګر د اسلامي اُمت هغې ريښتنې او مجاهده ميرمن چې د کفر سره د جهاد پر مهال د قطز د خولې دا غږ واورید، نو چيغه يې کړه: وای زما اسلامه! او هماغه وو چې ددې الهام بخښونکي ږغ په اوريدو قطز د همدې نارې سره چې وا اسلامه! وا اسلامه! بيرته پر مغولي لښکر مخ را واړوی او هغه وحشي تاتاريان يې په داسي ايماني روحيه وريبل چې بيا هيڅ ونه توانيدل د اسلامي نړۍ پر وړاندي دي مقاومت وکړای سي او د همدې ځايه يې د ماتي لړۍ پيل سوه.

ځوان سيف الدين قطز يوولس (۱۱) مياشتي حکومت وکړ، په همدې وخت کې يې د ۶۵۸ هجري شمسي کال په مبارکه روژه کې د عين جالوت په تاريخي جګړه کې تاتاريانو ته ماته ورکړه، علماؤو ليکلي: تر عمر بن عبدالعزيز وروسته تر ټولو غوره حاکم قطز وو.

د سيف الدين قطز شهادت: که څه هم د عين جالوت آتل خپل ملت او ټول مسلمان اُمت ته خوشحالي او برۍ په برخه کړ، مګر تقدير خپل کار ته دوام ورکوي، تقدير دې ته پرې نه ښود چې همدا تاريخي خوشحالي او برۍ د مسلمانانو سره يو ځای ولمانځي، سيف الدين قطز هم لکه خپل ماما سلطان جلال الدين د خپلو لښکريانو د خيانت ښکار سو، کله چې قطز د شام مځکه د مغولو د شتون څخه پاکه، شام ته امنيت او راحت ور په برخه کړ، مصر ته پر لاره د يوې ډلې د خوا په ناڅاپي توګه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد، د هغه د سلطنت موده تر يوولسو (۱۱) مياشتو زياته نه وه، مګر په همدغه موده کې يې چې کوم خدمتونه وکړل، او مسلمان اُمت ته يې چې کومي برياوي لاسته راوړې، د ده نوم يې په تاريخ کې په نيکو ثبت کړ، آن چې د مسلمانانو افتخار وګرځيد او دی د خپلو اولادو لپاره د نمونې په توګه ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان عبدالحميد الثاني (رحمة الله عليه)

د عثماني خلافت څلور ديرشم (۳۴) خليفه سلطان عبدالحميد الثاني په وخت کي د فرانسې يو مشهور ليکوال د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) په شان کي د سپکاوي په آړ د يو کارټوني ډرامې وړاندي کولو لپاره تيارۍ ونيوی، تر څو د فرانسې او اروپا په ډرامه ځايونو کي يې د خلګو پر مخ وړاندي کړي، کله چي د مسلمانانو حاکم سلطان عبدالحميد الثاني خبر سو، سمدلاسه يې خپل فوځ، واليانو، قاضيانو او سياسي مشرانو ته د جنګ په جامه کي د تياريدو آمر ورکړ، خپله يې هم د جنګ لباس په تن کړ او پخپل وطن کي د فرانسې سفارت مخته ورغلل.

کله چي د فرانسې سفير يا قونسل د مسلمانانو دغه رعبدار حالت وليدی، د ورايه پوه سو چي اوس به يې بندي کوي او بيا به ور څخه ددې ډرامې په اړه سخت تحقيق کوي، وار د مخه يې د مسلمانانو حاکم ته خبر ورکړ، ستاسو خبر ماته راورسيد، بيا يې فوراً فرانسې ته خبر ورکړ تر څو دغه ډرامه په همدې ځای پای ته ورسوي، کنې نو مسلمانان همدا اوس پر فرانسه باندي سختي حملې کولو ته تيار دي، هماغه وو چي فرانسويانو ډرامه بنده کړه او بيا يې د داسي حماقت جرأت ونه کړ، سلطان عبدالحميد الثاني د ۱۸۷۶م څخه تر ۱۹۰۹م کال پوري په عثماني خلافت کي د مسلمانانو خليفه وو، چي په ۱۹۱۸م کال کي وفات سوی دی.

په مدينه منوره کي د ولاړي ريل ګاډۍ حقيقت: خليفه سلطان عبدالحميد د خپل وخت يو ښه شاعر او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عاشق هم وو، د نوموړي د خلافت پر مهال د ترکيې څخه تر مدينې منورې پوري د ريل ګاډۍ د پيل کولو پروګرام او منصوبه جوړه سوه، چي نن هم هغه پټلۍ په مدينه کي سته او د ترکيې د ريل ګاډۍ د سټيشن يا تم ځای سره شهرت لري، هغه مهال د ريل ګاډۍ اينجن په کويلې سره چليدی.

کله چي يې هر ډول تيارۍ مکملي سوې، نو د افتتاح لپاره يې په مدينه منوره کي سلطان عبدالحميد راوغوښت، مګر کله چي يې اينجن چالانه کړ، نو د ګړب ګړب يو تيز آواز ورسره پيدا سو او شور يې جوړ کړ، په دې سره د سلطان عبدالحميد رنګ د غوسې څخه بدل سو، لرګۍ يې راواخيست د ريل ګاډۍ په وهلو يې پيل وکړ او دا يې وويل: د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په ښار کي دومره لوړ ږغ ايستل!

د هغه مهال څخه تر اوسه څه د پاسه سل (۱۰۰) کاله وسول چي دا ريل ګاډۍ اوس هم په مدينه منوره کي چوپ او خاموشه ولاړه ده، هيڅ ږغ يې د خولې څخه نه وځي، دومره آدب چي د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په ښار کي يې د ريل ګاډۍ لوړ ږغ هم برداشت نه کړ، د همدې څخه يې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره د محبت اندازه وسنجوی! الله سبحانه وتعالى دي زموږ او ستاسي محبت او شفاعت د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په نصيب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن الاغدرلي

د اقصی د جومات ساتونکی او د عثماني خلافت د اخیري سرتیري رښتینې کیسه: حسن الاغدرلي د عثماني خلافت ورستنۍ سرتیرۍ وو، چي د بیت المقدس څخه په ۱۹۸۲زیږدیز کال کي په مرګ ووت، ټولي نړۍ ته جوته ده چي په ۱۹۱۷ زیږدیز کال کي بیت المقدس د برتانیې په لاس کي هغه وخت ولویدی، چي کله عثماني خلافت په لومړي نړیوال جنګ کي ماته وخوړه، مګر تاسو په دې لا نه یاست خبر چي هلته د عثماني خلافت (۵۳) سرتیرو د بیت المقدس څخه د وتلو انکار وکړ ځکه چي غوښتل یې بیت المقدس د برتانوي یرغلګرو د چور چپاول څخه وژغوري.

یو له هغو څخه حسن الاغدرلي وو، د نوموړي سره په ۱۹۷۲ زیږدیز کال کي د ترکیې د هیواد یو خبریال إلهان بردکجي مخامخ سو او په مرکه کي یې ورته وویل: زموږ ټول کنډک دلته په بیت المقدس کي ددې موخي لپاره پاته سو، موږ نه غوښتل چي خلګ ووایي: عثماني دولت موږ یوازي پریښودو، موږ نه غوښتل د څلورو (۴) پیړیو وروسته بیت المقدس وژاړي، موږ نه غوښتل د انبیاؤو سردار حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ودردیږي.

په دې نه وو خوښ چي اسلامي نړۍ په یو ستر ناورین او غم کي ډوبه سي، ددې وروسته هغه اوږده او دراز کلونه د سترګو په رپ کي یو په بل پسي تیر سول، نور ټول ملګري مي یو په بل پسي مړه سول د الله (جل جلاله) حضور ته ورغلل، دښمن نه سوای کولای موږ ووژني، مګر د الله (جل جلاله) فیصلې او حق مرګ یوړل، دا دی زه حسن په خپله دنده لا ولاړ یم، د اقصی د جومات ساتونکی او چوکیدار یم.

حسن الاغدرلي ترکي خبریال ته وویل: زویه! کله چي د اناضول سیمي ته ورستون سې، نو د سنجق توکات کلي ته ورسه، هلته زما ضابط نقیب مصطفی دی چا چي زه دلته د اقصی پر جومات د ساتونکي په دنده ګومارلی یم او ماته یې امانت راسپارلی دی، زما د خوا یې لاسونه ښکل کړه او ورته ووایه: ښاغلی ضابط! حسن الاغدرلي د رشاش یوولسم (۱۱) کنډک مشر د اقصی د جومات ساتونکی لا هم پر هغه ځای چوکیدار ولاړ دی، په کومه ورځ او کوم ځای چي تا پریښوولی وو، تر اوسه یې خپل نوبت نه دی پرې ایښی او ستاسو د مبارکو دعاوو غوښتونکی دی.

حسن خپل ټول خپلوان او هیواد پرې ایښی وو، د اقصی د جومات چوکیداري یې کوله، په زړه کي یې هغه غیرت، وفا او اخلاص وو، چي یوازي پتمن خلګ په پوهیږي، مګر ملګري یې ټول مرګي یو په بل پسې واخیستل او په ۱۹۸۲ زیږدیز کال کي یې د اقصی د جومات اخري ساتونکی او چوکیدار هم واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسف بن تاشفين (رحمة الله عليه)

وتلی آتل يوسف بن تاشفين د تاريخ په پاڼه کښې! هغه مسلمان آتل پيژنی، چې اندلس يې د سقوط څخه وژغوری؟ هغه نوميالی پيژنی، چې د زالقة د جګړې واګې يې په لاس کې وې، او د اروپا پاچاهان يې ولړزول!؟ هو کې، هغه آتل يوسف بن تاشفين د مرابطين د دولت تر ټولو ستر پاچا وو، د اندلس اسلامي واکمنانو چې کله د هوسياتو او ځان ځانی ښکار سول، هر يو يې د چوکۍ، واک او ځواک په فکر کې سول، ستر ځښتن (جل جلاله) د سخت ذلت او سپکاوي سره لاس او ګريوان کړل، تر دې پوري چې اروپايي واکمنان پر برلاسي سول، ډيری يې د اندلس د ښارونو څخه وشړل، مخکې يې د هغوی څخه جزيه د ذلت په پار اخيسته، دا مهال مسلمانان اړ ايستل سول، تر څو اروپايانو ته جزيه ورکړي، دا مهال د مرابطين د دولت امير يوسف بن تاشفين را پيدا سو، يو ښار په بل پسې يې فتحه کاوه او خپل واک يې پر ټينګاوه، الهي نصرت يې مل وو، د اتلولۍ بڑغ يې په نړۍ کې خپور سو، په تيره بيا اروپا خو يې د بيري په لړزه وه.

د اندلس کاڼه سوي واکمنان ددې وروسته، چې د غربي صليبيانو د ذلت پيټۍ يې پر اوږو وو، سره جرګه سول د غونډې په ترخ کې پريکړه وسوه: راسی! د مرابطين ياد زمري يوسف ته ليک واستوو تر څو مو ددې ستر شرم، لوی ذلت، او خوارۍ پيټۍ د اوږو څخه کښته کړي، کوم چې د تل لپاره مو غيرت او اسلامي جذبه ګواښي او د آزادۍ د رنګيني ښکلا څخه يې پر بله مهار کړي يو! همداسي يې وکړل، کله چې نوموړي آتل ته د هغوی ليک ورسيد، سم د لاسه يې يو ځواکمن لښکر تيارسی کړ، تر څو بنديوان ورونه او بنديواني خويندې چې تر وحشت، بدني او روحي شکنجو لاندې د مرګ په تمه وه، د خونخوار ښامارانو د والکې څخه وژغوري، د هغه دا حماسي خوځښت د اندلس د کړيدلي ولس د پراخ ښه راغلاست او هرکلي سره مخ سول، ديرش زريز (۳۰۰۰۰) لښکر يې د زالقة پر لور وخوځاوه.

فاتيکان د کاتوليکي کنيسې د پيروانو روحي مرکز د يادي پيښې څخه خبر سو، په ټوله اروپا کې يې د ټوليز خوځښت سپارښتنه وکړه، د کاتوليکانو څخه يې د ليکونو په مټ وغوښتل، چې ددې جګړې جنګيالانو ته دې دعاګانو، بخښني، جنتونو او جنګي برياوو لاسونه لپه کړي، لنډه دا چې د اروپا د ټولو هيوادونو لکه: فرانسې، ايټاليا، انګلينډ او المانيا د شپږم الفونسو په مشرۍ آس سواره جنګيالي، چې په نوو پرمختللو وسلو سمبال وه، راغونډ کړل، الفونسو په ډير غرور او تکبر دا خبر تکراراوه: په دې لښکر به د پيريانو او انسانانو سره وجنګيږم، د آسمان د پرشتو سره به وجنګيږم، د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) او د هغه د ملګرو سره به وجنګيږم. العياذ بالله

د جګړې د شپې په نيمايي کې نوموتي عالم بن رُميلة يو عجب خوب وليد، په بيړه د خپل مشر يوسف بن تاشفين په لور وخوځيد، ورته ويې ويل: تر ټولو غوره پيغمبر محمد (صلی الله عليه وسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي په خوب ولید، راته ویې ویل: اې د رمیله زویه! هرو مرو به تاسو برلاسي یې او هرو مرو به ته زموږ سره یو ځای سې.

یاد آتل د تکبیر په زمزمو، لښکر د خوب څخه راوخوځاوه، هغوی ته یې وویل: د (انفال) مبارکه سوره وواياست، د شپې لمونځ (صلاة تهجد) ادا کړی! هغوی هم بې له ځنډه هم داسي وکړل، یو وبل ته ورغاړیواته، د رنو اوښکو په بدرګه یو د بله رخصتیده، یاد خوب یې زوړنو ته سکون او ډاډ وروبخښه، دا د یوې لسیزې را په دیخوا، لومړۍ ځل دی چې مسلمانان د دومره ستري سوبې او بریا میدان د غربي صلیبیانو څخه ګټي، داسي سوبه چې د امله یې د صلیبي شپیته زریز (۶۰۰۰۰) فوځ د منځ څخه یوازې سلو (۱۰۰) خلګو سرونه روغ وایستل، چې د کتاره یې یاد سرمسته مشر الفونس هم وو، یوازې یو لینګۍ یې تر قشتالة ورساوه، د یوه کال په تیریدو، د ډیر غم او درد څخه د جهنم پر لور وکوچید، وروسته نوموړی اړ ایستل سو، تر څو اندلس د مرابطین دولت سره یو ځای سي، په دې توګه به د همده تر واکمنۍ لاندي سي، هغه په ناخوښۍ دې کار ته غاړه کښیښوده.

په ۵۰۱ هجري قمري کال کي علي ابن یوسف ابن تاشفین په اندلس کي د صلیبیانو سره جهاد ته روانیده، مخکي تر دې چې جهاد ته روان سي، وړمه شپه یې خپله کورنۍ راوبلله تر څو دی هغوی او هغوی ده ته وصیتونه وکړي، کله چې یې د کوره د وتلو هوډ وکړ، چې شپه د خپل لښکر سره تیره کړي خپلي لومړۍ میرمني ته یې وویل: که الله سبحانه وتعالی د شهادت پیرزوینه راباندي ونه کړه، نو آیا څه غواړې؟ هو، وایه: د دوښمن د هغه لومړي عسکر توره چې ته یې ووژنې او د هغه وروستني عسکر ډال چې ته یې ووژنې او د دوښمن د قومندان آس که یا مړ او یا وتښتیده، غواړم. ابن تاشفین د لومړۍ میرمني جهاد ته د ډیري هڅوني په خبرو ډیر خوښ سو او ورغبرګه یې کړه: که وتوانیدم همداسي به کوم، بیا یې دوهمي میرمني ته وویل: ته څه غوښتنه لرې؟ هو، وایه: که د مسلمانانو لښکر ماته وخوړه، نو ته دي خپل سر په اوږو بار مه راته راستنوه! د دوهمي میرمني په جهادي هڅونه ابن تاشفین لا ډیر اغیزمن سو او پر خپلو نیکو میرمنو یې د الله سبحانه وتعالی شکر وکښۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان سليمان القانوني يا هم سلطان العالم

داسي يو بادشاه چي په ټوله نړۍ کي د سلطان العالم (د نړۍ په بادشاه) سره مشهور وو، کوم چي د عثماني خلافت يو ډير نيک او مجاهد بادشاه وو، خپل نوم يې سلطان سليمان القانوني وو، نوموړی په خپل (۴۸) کلن خلافت کي عثماني خلافت د نړۍ يو سپر پاور هيواد جوړ کړ، هغه د خلافت داخلي او خارجي دښمنان وځپل او نبوي سنت يې را ژوندي کړل، ټول مسلمان او غيري مسلمان مؤرخين په دې خبره سره اتفاق لري چي د عثماني خلافت زرين او شاندار دور هغه مهال وو، چي کله يې سلطان سليمان القانوني خليفه وو، همده جهاد ته پرمختګ ورکړ، د نوموړي د ژوند تر ټولو مهم او خطرناک جهادي غورځنک د موهاکس په نوم يادېږي، د کوم د امله چي په ټوله اروپا کي د ماتم اعلان وسو.

د اسلامي اُمت ددې ستر خليفه پوځ دومره رعب او خوف درلودی، چي په حرکت سره به يې پر ټوله اروپا باندي بيره او لړزه خپره سوه، ځکه خو په ټوله نړۍ کي د احترام په سترګه ورته کتل کيده، د همدې خليفه د خلافت پر مهال اسلامي پوځونه د اروپا زړه ته رسيدلي وه، دوه (۲) کرته د خلافت پوځونه د فيناء تر ديوالونو ورسيدل او ويې لړزول، بلکي د همدې خليفه پر مهال عثماني خلافت په درو (۳) براعظمو کي خپور سوی وو، د سلطان سليمان القانوني د خلافت پر مهال بغير د مبالغې څخه د هغه پوځونه د نړۍ لومړۍ درجه او د هغوی وسله د نړۍ تر ټولو خطرناکه او جديده وه، تر دې پوري چي په سمندرونو، بندرګاوو، ساحلونو او وچو باندي د همدې پوځ واک چليدی.

جرمنی تاريخ ليکونکی هالمر ليکلي: دا سلطان موږ ته تر سلطان صلاح الدين ايوبي هم ډير خطرناک دی. يو بل انګريز مؤرخ هارورډ ليکلي: د سلطان سليمان القانوني د مرګ ورځ بايد په صليبي نړۍ کي د اختر په ورځ ونومول سي. د افسوس خبره دا ده چي زموږ ډيرو لوستو ځوانانو ته ددې ستر غازي د سيرت او ژوند په هکله هيڅ معلومات نسته، مګر د هندي فلمونو، کرکټيانو، نورو کوڅه ډبو او فاحشو ډمانو د هر څه څخه خبر دي ستوري ورته وايي او ړوند تقليد يې کوي.

يو ځل د ترکيې سلطان سليمان القانوني ته وويل سول: د ونو او بوټو په بيخو کي ډير زيات ميږيان راوتلي دي څه ورسره وکړو؟ هغه سمدسي ماهرين راوغوښتل او د مسئلې څخه يې خبر کړل، هغوی د حل لاره ورته راويستل او ورته ويې ويل: که تاسي آمر وکړی او فلانکي تيل د ونو په بيخونو کي سپرې کړی، نو ددې سره به ټول ميږيان ختم سي، مګر د سلطان دا عادت وو، د هر کار د کولو مخکي به يې د هغه کار د شرعي حکم په هکله د علماؤو څخه پوښتنه کوله، ځکه خو د خپل وخت مشهور مفتي ته ولاړی، کوم چي په شيخ السلام باندي مشهوره وو، کله چي د هغه کور ته ورسيدی، نو ورته معلومه سوه، چي نوموړی دا مهال په کور کي نسته، يو پيغام يې د شعر په ژبه ورته پرېښووی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د ونو په بيخو کي ميږيان وسي نو د هغوی په وژلو کي ضرر سته؟

کله چي شيخ السلام کور ته راغلی او د سلطان پيغام يې ولوستی، نو جواب يې ورته وليکی او ور ويې ليږه:

که چيري د عدل تله قايمه وي نو ميږيانو به فقط خپل حق اخيسته

يادونه: په دې کي شيخ اشارتاً ورته وويل: څه شی ډير مهم دی؟

يو وخت سلطان د جهاد لپاره د استړيا د پايتخت ويانا د فتحه کولو په نيت روان سو، مګر په لاره کي وفات سو، کله چي يې د هغه جسد واپس استنبول ته راوړ، نو د تجهيز او تکفين پر مهال يې د هغه سره يوه وصيت نامه وموندل چي په هغې کي ليکل سوي وه: زما صندوق هم زما سره ښخ کړی! وزيران او علماء حيران سول چي کيدای سي دا صندوق د غميو او ملغلرو ډک وي، ځکه خو يې د هغه د خلاصولو پريکړه وکړه، مګر کله چي يې صندوق خلاص کړ او دننه يې وکتل ټول حيران سول، په صندوق کي ټولي هغه فتواوی پرتې وې، کومي چي يې د هر کار د کولو څخه مخکي د علماؤو څخه اخيستي وې او د سلطان هدف هم ددې د ښخولو څخه دا وو چي الله سبحانه وتعالی ته يې د ثبوت په ډول وړاندي کړم، چي ما هيڅ يوه دولتي پريکړه د اسلام خلاف نه ده کړې، بلکي ستا د دين د علماؤو څخه مي فتواوي اخيستي دي، کله چي شيخ السلام ابو سعود دا وليده، نو په ژړا سو او ويې ويل: سلطانه! تاسي خو خپل ځان وساتی، مګر موږ به څوک وساتي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صحرا زمرۍ سید عمر مختار

د صحرا زمرۍ سید عمر مختار په ۱۸۶۲م کال کي د لیبیا هیواد طبرق ته څیرمه نړۍ ته سترګي غړولي دي، لومړنۍ زده کړي یې د خانقا په مدرسو کي سرته رسولي دي، دا مدرسې د افریقا د صوفیانو مجاهدینو د لوري اداره کیدلې او ددې ډلي مشر سید محمد بن علي سنوسي (رحمة الله علیه) وو، تر هغه وروسته سید عمر مختار د لوړو زده کړو لپاره د جبل الاخضر په سیمه کي د القصور خانقاه مدرسې ته لاره پیدا کړه او هلته یې د استادانو څخه د زده کړو وروسته خپله هم د ښوونکي په دنده پیل وکړ، چي د ۱۹۱۱زیږدیز کال پوري همالته بوخت وو، په ۱۹۱۱زیږدیز کال کي ایټالوي ښکیلاک پر لیبیا حمله وکړه، د خلګو آزادي یې وننګوله سید عمر مختار خانقاه پریښوده، د پردیو د ایستلو لپاره یې وسله پورته کړه، د ایټالوي استعمارګرانو په وړاندي یې مجاهدین راغونډ کړل، یوازي په شلو (۲۰) میاشتو کي د مقاومت او استعمار تر منځ دوه سوه درو شپیته (۲۶۳) ځله نښتي وسوې، چي هر ځلي دښمن ته د سید عمر مختار د طرفه درانه ځاني او مالي زیانونه واوښتل دا ځکه چي د سیمي د صحرا سره پوره بلد وو، او د دښمن د را ګیرولو ښه تکتیکونه یې جوړولای سول.

ایټالویانو چي برقه او طرابلس لاندي کړل، نو د سید عمر مختار ولس یې پر وړاندي پاڅون وکړ، او د خپلي آزادۍ لپاره یې مبارزه پیل کړه، غازي سید عمر مختار هم د همدې لښکر ملګرۍ سو، د یوې ډلګۍ د مشرۍ څخه تر بشپړ لښکر مشرۍ ورسید، د کلیوالو مجاهدینو پیاوړۍ لښکر یې جوړ کړی، سید عمر مختار د ایټالوي اشغالګرو لپاره پر یوه خونړي سړي واوښت، اشغالګرو هڅي پیل کړې، تر څو په کوم چل سید عمر مختار د مقاومته لاس پر سر کړي، د پیسو، منصب او مشرۍ بیلا بیل وړاندیزونه یې ورته وکړل، مګر سید عمر مختار آزادي او خپلواکي غوښته، سید عمر مختار د ایټالوي پوځیانو په خلاف توندي جګړې وکړې، د ایټالوي پوځ یو جنرال چي خپله یې د سید عمر مختار په خلاف په جګړو کي برخه اخیستې، وایي: موږ ډیر ځله د سید عمر مختار په خلاف داسي عملیات پلان کړل چي موږ به بشپړ باوري وو، چي نوموړی به دا ځل حتماً ونیسو، مګر ددې خلاف هر ځل به په پوره بریالیتوب زموږ د دام څخه ووت.

سید عمر مختار پوره شل (۲۰) کاله د ایټالوي استعمار سره مبارزه وکړه، په وروستي ځل جګړه کي چي د دښمن د قواو او د سید عمر مختار د ډلي تر منځ جګړه ومښته د ۱۹۳۱زیږدیز کال د سپټمبر په یوولسمه (۱۱) نیټه د پنځوسو (۵۰) په شاوخوا کي مجاهدینو پر دښمن برید وکړ، د سختي جګړې وروسته ډیر مجاهدین په شهادت ورسیدل، سید عمر مختار د صعب المسالک نومي د یوې دښتي په یوه ګڼ ځنګله کي د څلویښتو (۴۰) نورو مجاهدینو سره د دښمن په محاصره کي را ګیر سو، دلته هم د دښمن سره د یوې سختي جګړې وروسته د محاصرې د کړۍ څخه روغ ووت، مګر ددې سیمي څخه په وتلو کي لږ وړاندي د ایټالوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ د يوې بلې ډلې سره په جګړه واوښت، دلته يې هم تر دې پوري مقاومت وکړ چې د ملګرو سره يې وسلې ختم سوې، ټول شهيدان سول، سيد عمر مختار په يوازې ځان مقاومت ته دوام ورکړ، آس يې زخمي سو، پر ده د پاسه را وغورځيد لاس يې زخمي سو، د دښمن شمير پر زيات سو او بلاخره يې ژوندۍ ونيوی، دښمن هيڅ نه پوهيده، چې دا عمر خوړلۍ سپين ږيرۍ چې دوی نيولۍ دی، دا به د مجاهدينو زړور مشر سيد عمر مختار وي، سره له دومره ډير عمر، کمزوري او زخمي بشر دښمن د صحرا دغه ميړنۍ زمرۍ په لويو لويو ځنځيرونو وتړۍ، ځکه هره ګړۍ يې د ځان کاږلو او خلاصولو شونتيا وه.

سيد عمر مختار د خپلو نيولو په اړه وويل: زما ژوندۍ نيول د الله (جل جلاله) فيصله وه، عملي سوه، الله (جل جلاله) زما مالک او متصرف دی. يرغلګر ته يې وويل: زه تاسي ونيولم اوس چې ستاسي څه خوښه وي، هغه وکړی، مګر يوه خبر په ياد لری، دا چې زه اوس هم تسليم سوی نه يم، بلکې بندي نيول سوی يم.

د ايټاليا مشر حرزياني نوميدی، هغه آمر وکړی: سيد عمر مختار زما سره مخامخ کړی، سيد عمر مختار په داسي حال کي راوستل سوو، چې په لاسونو او پښو کي يې ځنځيرونه وه، مخ مبارک يې په خپل پټو کي پټ کړل سوی وو، په تکليف سره يې قدمونه اخيستل، مګر خپل لوړ همت، ټينګ ايمان يې ملګرۍ وو، او په ډير سنګين ډول يې خبري کولې، د حرزياني سره يې داسي خبري وکړي:

حرزياني وويل: تا د ايټاليايي ځواکونو سره دومره سخت جنګ ولي کوی؟ سيد عمر مختار وويل: ځکه چې زه مؤمن يم، زما دين ماته په دې باندي آمر کړی دی. حرزياني وويل: آيا ته ددې محدودو کسانو سره او د اسبابو په نشتون سره تا فکر کوی، چې موږ به بيرته ددې ځای څخه وباسې؟ سيد عمر مختار وويل: يا ما دا فکر نه کوی او دا کار په ښکاره ډير سخت معلوميدی. حرزياني وويل: نو بيا تا څه غوښتل او د څه لپاره جنګيدې؟ سيد عمر مختار وويل: ما جهاد کوی او بس، دا چې په جهاد سره کومي نتيجې مرتبې کيږي، دا کار يوازې د الله سبحانه وتعالی په بيلاکيفه لاس کي دی، مجاهد په جهاد مکلف دی او بس. حرزياني وويل: ستا سره چې کوم اسباب وه، تر څومره وخت پوري نور ته په غرو کي په پاته کيدلای سوې؟ سيد عمر مختار وويل: تر ابده پوري، تر څو پوري چې موږ ژوندي وای، موږ مقامت کولای سوای، د تسليمدو هيڅ امکان نه وو، يو او بل قسم سره کړی وو، چې تر مرګه پوري به مقامت کوو، د تسليمي ذلت به په نه اخلو، او تاسي دا هم معلوموی، چې زه اوس هم تسليم سوی نه يم، بلکې بندي نيول سوی يم. حرزياني وويل: آيا تا خلګ د ايټالويانو سره جنګ ته راپارول؟ سيد عمر المختار وويل: هو. حرزياني وويل: آيا ته په دې پوهيږې، چې تا کوم کار کړی دی، او سزا يې څه شي ده؟ سيد عمر مختار وويل: هو. حرزياني وويل: آيا ته پر دې خپلو خبرو ولاړ يې؟ سيد عمر مختار وويل: هو. حرزياني وويل: څومره وخت دي د ايټاليا د ځواکونو سره جنګ وکړی؟ سيد عمر مختار وويل: لس (١٠) کاله. حرزياني وويل: آيا ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کړي عمل پښېمانه نه يې؟ سيد عمر مختار وويل: يا بلکل نه. حرزياني وويل: آيا ته په دې پوهيږې، چې ته به اعداميږې؟ سيد عمر مختار وويل: هو. حرزياني وويل: عمره! زه په دې باندي ډير خفه کيږم، چې ستا په دې ډول د ژوند آخير وينم. سيد عمر مختار وويل: بلکي دا غوره لاره ده، چې زه خپل ژوند ته خاتمه باندي ورکوم. حرزياني سيد عمر مختار ته د بخښني وعده ورکړه، چې ته به په خپله امضاء پاته مجاهدينو ته ورکړې، چې هغه نور د غاصبو يرغلګرو کفارو سره د جنګ څخه لاس واخلي، مګر سيد عمر مختار دا بخښنه ونه منله، حرزياني ته يې يوه خبره وکړه، چې په تاريخ کي په زرينو کرښو وليکل سوه، ورته ويي ويل: بيشکه! هغه د شهادت ګوته په هر لمانځه کي ددې شاهدي ورکوي، يعني د شاهدي سره پورته کيږي، چې بيشکه! نسته په حقه لايق د عبادت مګر الله (جل جلاله) دی او حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د الله (جل جلاله) رسول دی، د هغې ګوتي په حق کي ممکنه ده، چې باطله خبره وليکي.

سيد عمر مختار دغه آيت شريف تلاوت کړ: (اناالله وانا اليه راجعون). ژباړه: موږ د الله سبحانه وتعالی يو او هغه ته ورګرځو.

د ډيرو ربړونو، پوښتنو او ګرويږنو وروسته يې يوې تمثيلي محکمې لپاره په داسي حال کي ميدان ته راوست، چې لاسونه يې ولچک او ګڼ پيره داران يې په دواړو خواوو کي روان وه، دغه د ميړاني او قهرمانۍ غر، د آزادۍ مبارز او پياوړۍ مجاهد سيد عمر مختار په اعدام باندي فيصله وسوه، او د سهار پر نهه (۹) بجې د چهارشنبي په ورځ د سپټمبر د مياشتي په ۱۶ مه نيټه ۱۹۳۱ميلادي کال کي په دار وځړول سو. انا لله وانا اليه راجعون

هغه ته يې د بيري ژور په سيمنټو پوخ قبر جوړ کړ او تر اوږدې مودې يې پيره داران پر درولي وه، هو نه خو د دښمن زور او زر د مبارزې راوګرځاوه، نه خپلي کمزورۍ او ناچارۍ په شا کړای سو، نه خو د دښمن ډول ډول وړانديزونو ته تسليم سو، او نه هم د داره وبيريدی، پر يوه ميړانه نړۍ يې د کفر او اشغال پر ضد مبارزه وکړه، په هسکه غاړه تر داره ولاړی.

د نافرمان، سرکښه، مجرم او قاطع الطريق په صفتونو ونومولو سو، علماء سوء (ناکاره ملايانو) يې پر خلاف د قتال فتوا ورکړه، ميرمن يې ووژل سوه، خيمه يې وسوځول سوه، خوږ ملګري خيانت ورسره وکړ، هر نږدې خپل او ملګري پرېښود، په مياشتو مياشتو په غرونو کي محاصره سو، ډير ترخه يې وڅکل، مرضونه پر راغلل، لوږي او تندي پر راغلې، په داسي حال کي چې عمر يې اوويا (۷۰) کالو ته رسيدلی وو، ددې دومره تکليفونو او سختيو سره بيا هم ورته ايټالويانو د مال او مشرۍ وړانديز وکړ، مګر سيد عمر مختار دا هيڅ ونه منل سيد عمر مختار ونيول سو، بندي سو، او اعدام سو، نو د حق لاره اوږده ده، لوړي او ژوري ډيري دي، غمونه درانه دي، زخمونه او امتحانونه د مخلصينو صفونه جلا کوي، جنت د صادقينو انتظار کوي، د حق په لاره کي به دا هرڅه ګالې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي نسل ته د مسلمان اُمت د جهاد او مقاومت د تاریخ سرخیلان وروپیژنی، چي په هغو کي د ځان ساتني او د یرغلګرو سره د مقاومت ځواک غښتلی پاته سي، که څه هم سیکولر فکره مخلوق ددې نومونو سره حساسیت لري، مګر تاسو دي خبر یاست چي غربیان اوس هم د صلیبي جګړو د قومندانانو مجسمې جوړوي، د لویو ښارونو پر چوکونو کي یې نصبوي، همدا راز د غرب د وحشتونو څخه نوی نسل خبر او اګاه کړی، ځکه زموږ کور کور ته د هغوی رسنۍ د غرب د عادلانه نظام د ثنا او ستاینو سندري را رسوي او د هغوی وحشتونه پټوي.

د سید عمر مختار یو شمیر یادښتونه:- ۱: که ټوپک زما توره ماته کړه صحي ده، مګر باطل مي حق نه سي را ماتولای. ۲: هغه وارونه چي ستا مال در مات نه کړي، پوه سه چي تر هغه یې هم پیاوړي کوي. ۳: زما وروسته به نور نسلونه هم ستاسو ورمیړونه قاتلوي، مګر یاد ساتی زما ژوند به زما د جلادانو تر ژوند ډیر اوږد وي. ۴: ظلم د مظلومه آتل جوړوي، اما جنایت که څه هم سرته رسوونکی یې ځان ډیر پیاوړی ښکاره کړي، مګر په حقیقت کي یې زړه د بې غیرتۍ څخه ریږدي. ۵: که د دښمن توپخانې زما توره مات کړه، د هغوئ باطل زما حق نه سي ماتولای. ۶: حق پرست انسان سرلوړي وي، که څه هم په اعدام سره را وځړول سي. ۷: انسانه! الله (جل جلاله) آزاد پیدا کړی یې، نو آزاد اوسه لکه څنګه چي پیدا سوی یې. ۸: آزاد هغه څوک دی چي نه عقل پلوري او نه فکر، نه خپل موقف پلوري او نه وطن.! ۹: سید عمر مختار ته یو چا وویل: ایټالیا داسي الوتکي لري، چي موږ یې نه لرو، سید عمر مختار ورته وویل: الوتکي د عرش څخه لوړي الوتني کوي او که لاندي؟ هغه وویل: لاندي الوتني کوي. سید عمر مختار وویل: هغه ذات چي د عرش څخه پورته دی، زموږ سره دی، کوم شیان چي لاندي دي موږ نه سي بیرولای.

د سید عمر مختار میرمن وفات سوه، ده اوښکي پسي تویولې، ورته وویل سول: ولي ژاړې؟ سید عمر مختار ورته وویل: کله چي به مي د ایټالیوي ښکیلاک سره جنګ وکړ، بیرته چي به کور ته راغلم، میرمن به مي د خیمې پرده راته پورته کړه، تل به یې همداسي کول، سید عمر مختار وایي: ما ځیني وپوښتل: ولي ځان په تکلیفوې؟ یوه پرده ده، زه یې خپله پورته کوم. هغې راته وویل: اې عمره! زه دا نه خوښوم چي د الله سبحانه وتعالی پرته دي بل ځای کي سر ټیټ سي، سر ټیټول یوازي د الله سبحانه وتعالی لپاره درسره ښایي.

زړورتوب هغه نیک عادت وو، چي د ځواني څخه د ده سره مل وو، په ۱۸۹۵میلادي کال سید عمر مختار د سنوسیه ډلي د ځینو شیخانو سره چي محمد مهدي سنوسي یعني د سنوسي ډلي دوهم مشر هم په کښي وو، سوډان هیواد ته روان وه، د لاري په اوږدو کي د زاویه او مجابره قبیلې او نورو سوداګرو سره چي د طرابلس او بنغازې وه، او په غرنیو لارو کي بلد هم وه، یو ځای سول، کله چي مسافر سوډان ته نږدې غرنۍ سیمي ته ورسیدل، هغه سوداګر چي مخکي یې پر دې لار سفر کړی وو، نورو ته یې وویل: د لږ تګ وروسته داسي سختي سیمي ته رسیږو، چي هلته ډیری وخت یو وږۍ زمرۍ د تلوونکو ښکار ته ولاړ وي، ښه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې يو اوښ ورته حلال کړو، تر څو يې د دارلو څخه وساتل سو، سيد عمر مختار ددې خبرې سره مخالفت وښود، دا باج ورکول يې رد کړل او ويې ويل: موږ نورو انسانانو ته د باج ورکولو څخه بد وړو، پاته سو يو حيوان ته باج! دا د بې غيرتي او ناځوانۍ نښه ده، که زمرۍ مخته راغلی، وبه يې وژنو، دوی لا يادي سيمي ته نه وه، رسيدلي چې يو زمرۍ د غونډۍ د شا څخه راښکاره سو، يو سوداګر چې بيريدلی وو، ويې ويل: زه تر يوه اوښ تير يم، خو هڅه ونه کړئ چې د زمرې سره په جګړه کې ښکيل سئ، مګر سيد عمر مختار خپل يوناني ټوپک راواخيست، زمرۍ يې په څو ډزو وواژه، پوست يې کړ، د لارې پر سر يې کښيښود، چې راتلونکو کاروانونو ته عبرت سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طارق ابن زياد (رحمة الله عليه)

د سپين هيواد په جنوب کي يو ځای د جبرالتر په نامه يادېږي، ددې عربي نوم جبل الطارق دی، دا نوم د مشهور سر لښکر طارق ابن زياد په نامه دی، طارق ابن زياد د خپل مېراني د امله د خپلو سرتيرو په زړونو کي ځای نيولی وو، هغه چي به کوم حکم وکړ هغه به سمدستي عملي سو، همدا وجه وه چي طارق ابن زياد د افريقا څخه ولاړ، سپين يا اوسنۍ اسپانيا او پرتګال يې په ۷۱۱ ميلادي کال کي فتحه کړ.

د اوسنۍ اسپانيا او پرتګال د قبضه کيدو کيسه: د بنو اميه د کورنۍ شپږم خليفه وليد اول په زمانه کي موسی بن نصير د شمالي افريقا حاکم او سر لښکر وو، دا زمانه د شمالي افريقا ډېره د خوښي او د اطمينان زمانه وه، مګر د ده په ګاونډ سپين هيواد کي د عيسايي بادشاهانو حکومت وو، چي ولس ډېر ځيني په تنګ وو، خلګو موسی بن نصير ته وويل: پر سپين باندي حمله وکړی، د هغه ځای خلګ د بادشاه د ظلم نه خلاص کړی، موسی بن نصير د وليد اول څخه اجازه واخيسته او د خپل يوه سر لښکر طارق ابن زياد په مشرۍ کي يې اوه زره (۷۰۰۰) فوځ د سپين په لور روان کړ، په دې وخت کي چي په سپين کي کوم سړی بادشاه وو، د هغه نوم روډرګ وو، هغه د طارق د فوځ په راتلو باندي خبر کړل سو، خپل سرتيرو ته يې د چمتو کيدو آمر وکړ. طارق ابن زياد پنځه زره (۵۰۰۰) پوځ نور زيات کړ، چي ټول دولس زره (۱۲۰۰۰) پوځ سو، مګر د دوی په مقابل کي عيسوي پوځ يو لک (۱۰۰۰۰۰) وو.

په رواياتو کي راځي: کله چي طارق ابن زياد په کښتۍ کي سپور سو، نو خوب غلبه باندي وکړه، بيده سو، په خوب کي ګوري چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) راشيدين خلفاء او د هغه مبارک اصحاب کرام د تورو او نيزو سره مسلح د بحر پر سر باندي را روان دي، کله چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د طارق ابن زياد تر څنګ تيريده، نو ورته يې وويل: طارقه! ولاړ سه! او په بيړه وړاندي راځه! طارق ابن زياد وايي: چي ومي کتل، نو هغه نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) او ورسره ملګري زموږ څخه وړاندي روان دي، اندلس ته داخل سول، طارق ابن زياد چي سترګي خلاصي کړې، نو سخت خوشحال سو او فوځ ته يې د اندلس د فتحي زيرۍ ورکړ، وروسته يې دغه خوب خپلو ملګرو ته بيان کړ، چي په دې زيري سره د هغوی حوصلې خورا لوړي سوې.

کله چي طارق ابن زياد خپل پوځ راوست، د جبل طارق سره کښته سو، نو په کومو کښتيو کي چي راغلي وه، هغه يې ټولي په ساحل کي وسوځلې، د پوځ افسرانو دا کار وغانده، طارق ابن زياد په دې موقع کي خپله تاريخي خبره وکړه: اوس ستاسي سره د تښتيدو هيڅ کومه لار نسته، دښمن ستاسي مخ او سمندر مو شاته دی، ستاسي د ژوندي پاته کيدلو شرط همدا دی، چي تاسي مخ ته ولاړ سی، د دوښمن پر هيواد قبضه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې وروسته د طارق ابن زیاد او د روډروګ د پوځ تر منځ جنګ ومښتی، د یوې خوا یو لک (۱۰۰۰۰۰) پوځ او د بلې خوا دولس زره (۱۲۰۰۰) مسلمانانو د یو لک (۱۰۰۰۰۰) کفارو سره جګړه وکړه، بریالیتوب یې تر لاسه کړ، روډروګ ووژل سو، ددې څخه وروسته یې په ټول سپین اوسنۍ اسپانیا او پرتګال باندې قبضه وکړه. د طارق ابن زیاد دا فتحه د اسلام لویه فتحه وه، دې فتحې په اروپا کې اسلام ته د پرمختګ دروازې خلاصې کړې، ګویا دا د طارق ابن زیاد کوښښ او میړانه وه، چا چې په اسپانیا کې د اسلام نوم لوړ کړ او د طارق ابن زیاد نوم د تل لپاره په تاریخ کې پاته سو.

په سپین یا اسپانیا کې مسلمانانو د پرمختللي تمدن بنسټ کښیښود، په اسپانیا کې مسلمانانو (۸۰۰) کاله حکومت وکړ او د ښکلي تمدن بنسټ یې کښیښود. وړیا مکتوبونه، کتابخانې یې جوړې کړې، ډیرې عالمان یې وروزل، د طب او صنعت په برخه کې لاسته راوړني، معماري، او ښارونه جوړ یې کړل، ډیر اختراعات یې وکړل، لکه: عباس ابن فرناس طیاره، مریم اسطرلابي قطب نما او فاطمه الفهري پوهنتون جوړ کړ، چې د نړۍ د لومړیو پوهنتونو څخه ګڼل کیږي او ابن خلدون چې د اجتماعي علومو بنسټګرو څخه ګڼل کیږي.

په سپین یا اسپانیا کې مسلمانان څنګه د منځه ولاړل، رومیان او مسیحیانو ډیر کوښښ وکړ، چې اسپانیا د جنګ د لارې ونیسي، مګر ناکامه او څو ځلې د ماتې سره مخ سول، خو کفارو د جنګ تکتیک بدل کړ فکرې جګړه یې پیل کړه او تړونونه یې د مسلمانانو حاکمانو سره وکړل، په آزادنه ډول یې تجارت پیل کړه، ساتیرې ځایونه، مسیحي مکتبونه یې جوړ کړل او عیسوي ښکلي انجوني یې ساتیرې ځایونو ته راوستې، عیاشي یې عام کړه، په دې ډول یې د مسلمانانو عقیدې کمزورې کړې، فرهنګ یې ور ختم کړی، او عیاشي یې په مسلمانانو کې رایجه کړه، په اسپانیا او پرتګال کې په ۱۴۷۸میلادي کال مسلمانان د تل لپاره له منځه ولاړل او زموږ لپاره یې د عبرت ډک تاریخ پریښود. وایي: که غواړې یو ملت له منځه یوسی عقیده، او فرهنګ یې ور ختم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوزف ابراهیم

جوزف ابراهیم د فلسطین د آزادۍ ایټالوی جنګیالی! د فلسطین د آزادۍ په جګړه کي به مو د ډیرو فلسطیني مسلمانانو په اړه اوریدلي وي، مګر دا به مو نه وي اوریدلي چي د مظلومو فلسطینیانو د آزادۍ لپاره کوم اروپایي خلګ خپل هیواد او ولس پریږدي او د فلسطینیانو په څنګ کي د صهیونیزم په خلاف جګړه وکړي، فرانکو فونتانا همداسي یو اروپایي دی، چي خپل هیواد ایټالیا یې پرېښوده، کابو (۲۲) کاله یې د اسرائیلو پر ضد په جګړه کي د فلسطینیانو ملګرتیا وکړه، په دې موده کي یې د فلسطینیانو د مرستي په خاطر خپل ټول شته وپلورل او پیسي یې د فلسطین مهاجرو سره د مرستي لپاره ولګولې، فرانکو د جګړې پر مهال د راکټ په دقیق ډول نښه کولو کي شهرت وموند، نوموړي د جګړې پر مهال اسلام قبول کړ او جوزف ابراهیم ونومول سو، چي په ۲۰۱۵میلادي کال د لبنان په هیواد کي وفات سو، نوموړي وصیت کړی وو: چي تر مرګ وروسته یې په فلسطین یا هم د فلسطیني مهاجرو په کوم کمپ کي خاورو ته وسپاري. جوزف ابراهیم به ویل: شاید مړ سم او د فلسطین آزادي ونه ګورم، مګر اولادونه یا لمسیان به مي حتماً د فلسطین آزادي ووینې، هغه مهال به د هغه څه په قدر پوه سي چي دې پاکي مځکي او دې سر لوړي ملت ته مي ډالۍ کړي، د فلسطین او ټولو اسلامي هیوادونو د آزادۍ او یو کیدو په هیله.

خلیفه سلطان مراد

په ۱۵۸۰م کال کي د برطانیې ملکې الزبت د عثماني خلافت خلیفه سلطان مراد څخه د هسپانیې د حکومت په خلاف مرسته غوښتې وه، ملکې په خپل خط کي داسی لیکلي وه: موږ د دین د لحاظه پروتستان عیسویان یو، موږ هم د مسلمانانو په څیر د بتانو عبادت نه کوو، بلکي نفرت ځیني لرو، مګر هسپانوي عیسویان د کاتولیک مسلک خاوندان دي او بت پرستي کوي، ځکه خو تاسي د هغوی په خلاف زموږ سره مرسته وکړی! د ملکې د لیک په جواب کي خلیفه یو لیک ور واستوی، داسي یې ورته لیکلي وه: موږ به تاسي د هسپانویانو د حملو څخه وساتو، مګر ددې په بدل کي به تاسي د خلافت د دربار درشل ته سرونه کښته کوی!

د خلیفه د لیک په جواب کي د برطانیې ملکې د خلافت د دربار د اطاعت اعلان وکړ، په دې سره عثماني خلافت برطانیه د هسپانویانو د حملو څخه وژغورله، ددې څخه وروسته ملکې او برطانوي حکومت خلیفه او د خلافت د دربار وزیرانو ته قیمتي ډالۍ د مننې په ډول راوړلې، تر دې پوري چي یوه ورځ د برطانیې یو سفیر د عثماني خلافت یوې کښتۍ ته ټیټ سر راپورته سو او د أیډمرال قلیج پاشا لاسونه یې ښکل کړل، دا د هغه مهال واقعات دي چي خلافت د اول په شان زورور هم نه وو، مګر بیا هم د نړۍ کفار ځیني بیریدل او د مسلمانانو پر سر باندي یو د آمن او عزت چت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان محمود غزنوي

د ستر آتل ستر فکر د مازیګر تر لمانځه وروسته سلطان محمود غزنوي هغي پراخي کوټې ته ورننوت، چي د سومنات لوی بت په کښي دریدلی وو، ددې بت شاوخوا ته بې شمیره کوچني بوتان هم وه، د سلطان په آمر یې هغه ټول بُتان مات کړل، مګر کله چي د لوی بت وار راغلی، نو هندي راجه ګان او پالونکي د سلطان محمود په پښو کي ورپریوتل، هغوی په ژړغوني ږغ زاری وکړې، که دغه بت پریږدې، نو موږ به یې د وزن په اندازه سره زر درکړو، د سلطان څهره د غصي څخه تکه سره وخوټیده.

جواب یې ورکړ: زه غواړم چي بت پلور نه، بلکي بت ماتونکی یاد سم، بیا یې په دواړو لاسونو یو دروند ګوزار اوچت کړ، په فضا کي د سومنات د پالونکو نعارې پورته سوې، ددې سره د ډبري یو څو ټوټې یوې او بلي خواته تیتي سوې، په څو پرلپسې ګوزارونو د بت بڼه خرابه سوه، بیا یې د بت ټو ټو ته اور ورواچاوه. د ځینو روایاتو د مخي: د بت مینځ تش وو، کله چي یې مات کړ ډیر قوي جواهر ځیني را توی سوه، دغه مال تر هغه څو چنده زیات وو، چي بت پالونکو سلطان محمود غزنوي ته یې د بت په بدل کي ورکاوه.

اسلامي مفکر محمد عماره

اسلامي مفکر محمد عماره وایي: په مجلس کي یو روشنفکره په سخریه توګه راته وویل: ستا د خبرو داسي ښکاري چي شرعي احکام تطبیقول غواړې او غواړې چي موږ بیرته شاته وګرځو! ما د پوښتونکي په بڼه جواب ورکړ: د شاته تګ څخه ستا مطلب (۱۰۰) کاله مخکي وخت دی؟ کله چي اسلامي سلطنت د مځکي پر نیمه کره (۵۰۰) کاله حکومت کاوه؟ هغه وخت چي د اروپا پاچاهان د مسلمان سلطان تر سیوري لاندي اوسیده!؟ او که مطلب دي د هغه څخه هم شاته تګ دی؟ د ممالیکو وخت هغه ممالیک چي نړۍ یې د تاتار او مغولو د وحشت څخه وژغورله!؟ او که د هغوی څخه هم شاته؟، کله چي عباسیانو نیمه کره اداره کوله!؟ او که د هغوی څخه هم شاته د آمویانو دوره، یا د هغوی څخه هم شاته د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) زمانه دي مطلب ده!؟ او که ستا مطلب د هارون رشید زمانه ده چي د روم واکمن ته یې داسي مکتوب ولیږی: د امیر المومنین هارون رشید د خوا د روم سپي نقفور ته!؟ او که هدف دي د عبدالرحمن الداخل زمانه ده؟ کله چي لښکرو یې پر ایټالیا او فرانسې کړۍ تاو کړې وه!؟ دا یې سیاسي اړخ وو.

که ستا مطلب د شاته تګ څخه علمي اړخ دی، کله چي مسلمانو علماؤو لکه: ابن سینا، فارابي، ابن جُبیر، خوارزمي، ابن رشد، ابن خلدون او داسي نور عربي او عجمي نړۍ ته طب، انجینري، ریاضي، شعر او داسي نور... درسول!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا ستا هدف وقار او عزت دی؟ کله چي یو یهودي د مسلماني ښځي شړۍ ونیول او هغې ناري کړې: وا معتصمااااه! هغه وو چي معتصم خپل لښکر راویست او یهودان یې د ټولي سیمي څخه وشړل، په داسي حال کي چي نن مسلماني میرمني بي عزته کیږي، عفت یې تر پښو لاندي کیږي، مګر واکمنان خوشحال دي لکه هیڅ چي نه وي سوي!؟.

او که هدف دي هغه وخت دی، کله چي مسلمانانو په هسپانیه کي اروپا ته په لومړي ځل پوهنتون ورپیژندی، د هغه وخته په هر ځای کي فارغینو ته عربي لباس یا چپنه ور په تن کیږي!؟ او که ستا مطلب د شاته تګ څخه هغه دی، کله چي قاهره د ټولي نړۍ په سطحه ښایسته ښار وو!؟ یا هغه چي یو عراقي دینار د (۴۸۳) ډالرو برابر وو!؟ او که هغه وخت چي د اروپا څخه فقیر خلګ به سکندریې ته په قاچاق راتلل؟ او که هغه وخت چي کله امریکا د مصر څخه د اروپا د لوږي په خاطر مرسته غوښته!؟ ستا د وضاحت په انتظار یم، تر څو راته روښانه کړې چي مطلب دي څومره شاته تګ دی!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابو طلحه (رضي الله عنه)

يوه ورځ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خوا ته يو تن راغلی، ور نږدې سو او ورته ويې ويل: دا څو ورځې کيږي وږی يم، څه مي نه دي خوړلي، نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) خپلو شاوخوا ملګرو ته نظر وکړ، مګر څوک يې ونه موندی، چې نوموړی سړی ميلمه کړي، څه وخت وروسته ابو طلحه (رضي الله عنه) ولاړ سو او ويې ويل: زه اماده يم چې دی ميلمه کړم او هغه يې د ځان سره کور ته بوتلی، دوی خپله ټوله شتمني د اسلام په لاره کې مصرف کړې وه، څه يې نه درلودل، کله کله به ام سليم د ابو طلحه (رضي الله عنه) ښځې ښوروا د کوچنيانو لپاره په کور کې په ديګ جوشول، په دغه ورځ ام سليم ښوروا باندې کړې وه، او غوښتل يې چې هغه په کوچنيانو وخوري، کله چې ميلمه کور ته راغلی، ښځې او سړي په خپلو کې سره وويل: نن ښوروا د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ميلمه ته ورکوو، موږ کولای سو دا شپه هم په وږي نس تيره کړو او يو ډول نه يو ډول کوچنيان بيده کړو، دوی يوازينۍ کار چې کولای يې سوای، هغه دا وو چې ډوډۍ پر دسترخوان کښيږدي، ښځه يې په ناګارۍ سره څراغ مړ کړي، د کور مالک تش لاس تر خولې يو سي او بيرته يې ټيټ کړي، ځکه غذا دومره وه، چې يوازې يې يو تن مړولای سوای، په دې ډول ميلمه خپل ځان موړ کړ، ښځې او خاوند خپل تصميم عملي کړ، سهار سو، دوی د لمانځه د ادا کولو په نيت په نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) پسې اقتدا وکړه، کله چې لمونځ خلاص سو، نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) په ابو طلحه (رضي الله عنه) او ميلمه پسې سترګې غړولې، لټول يې او ويې پوښتل: نن شپه مو څه کړي، چې ستاسي په اړه دا آيت نازل سو، الله (جل جلاله) فرمايي: (وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ). ژباړه: او هغو (انصارو لره) چې ځای يئ نيولی دی په کور کښې او ايمان خپل خالص پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه محبت کوي له هغه چا سره چې هجرت يئ کړی دی دوی ته او نه پيدا کوي دوی په زړونو خپلو کښې څه تنګي له هغه شي څخه چې ورکړی سوی وي او غوره کوي (مهاجران) پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي. (سورت الحشر آيت ۹)

سبحان الله دا د هغه نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) روزنه وه، چې اُمت ته يې د بيلګو دنګ غرونه ودرول، نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) اسلام داسې زړونو ته داخل کړ، چې مخکې په کښې جهالت او تياره وه، د صدقې او ايثار په نوم يې څه نه پيژندل، مګر کله چې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) تر روزنې لاندې ونيول، بيا يې تر قيامته پورې ساري ونه موندل سول، د نن ورځې بنې آدم داسې بيلګې نه سي وړاندې کولای.

حضرت هاشم بن عتبة (رضي الله عنه)

د ساباط معرکه د مسلمانانو او د فارس ځواکونو تر منځ سوې ده، ددې جګړې لپاره فارسيانو يو داړونکی زمری هم راويستلی وو، د مسلمانانو خوا ته يې ور ايله کړ، هاشم بن عتبة (رضي الله عنه) چې د بيرې نه پيژندونکی زړه خاوند وو، پر زمرې حمله وکړه د خپل خنجر پواسطه يې د پښو وغورځاوه، چې ددې سره د فارسيانو د ځواکونو په زړونو کې سخته بيره خپره سوه او د همدې بيرې څخه يې ماته وخوړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام شامل (رحمة الله عليه)

امام شامل په ۱۷۹۷م کال کي د شمالي قفقاز د جيمري کلي داغستان کي زيږيدلی، کورنۍ نوم يې علي وو، بيا په شامل مشهوره سو، عراق کي يې ابتدايې زده کړي تر سره کړې، په ۱۸۲۹م کال کي د مجاهدينو په لښکر کي شامل سو، د ۱۸۳۴م څخه تر ۱۸۵۹م کال پوري د مجاهدينو مشر وو، په ۱۸۷۰م کال کي د فبروري پر (۴) مدينه منوره کي وفات سو.

يو ځل امام شامل ترکيه ته د عثماني خلافت خليفه سلطان عبدالعزيز په بلني ورغلی وو، د خبرو په منځ کي امام شامل سلطان ته مخ را واړوه، د مجاهدينو سره د مالي مرستو په ځنډ او تآخير کي يې سلطان ته شکايت وکړ، تر دې پوري چي د درباري خلګو په وړاندي يې سخت وراټه! سلطان هم د امام شامل په جواب کي غبرګون وښود، غصې ونيوی، غوښتل يې چي امام شامل هم کم راولي، نو امام شامل ته يې وويل: ته خو د (۲۵) کلونو راهيسي جنګيږې، ټول ملګري او مُريدان دي شهيدان سوه، مګر ته تر دې دمه هم روغ رمټ يې، يا خو جګړو ته نه ځې او برخه نه په کښي اخلې او يا خو دي په مُريدانو جګړې مخته وړې، امام شامل د سلطان په خبره ځان غلی ونيوی، مګر تر دې پوري چي خبري نوري د زغمه لوړي سوې، امام شامل ته هم غصه ورغله، د ځايه ولاړ سو، خپل کميس يې ليري کړ، پرهر پرهر، ژور ټپونه او داغي بدن د امام شامل پر مبارک بدن د څلويښتو (۴۰) ډير ژور ګذارونه سوي وه، او د هغو ژورو ټپونو داغونه يې پر تن د زغم، مجاهديت، اتلوليو او ميړاني نمونې د ورايه برېښيدې. سلطان چي د امام شامل ټپونه وليدل، د تخته کښته سو، په چغو چغو يې وژړل او د سترګو څخه يې اوښکي رواني سوې، سلګيو ونيوې ان چي د خبرو توان يې د لاسه ورکړی، خپل تخت ته ايې اشاره کوله ويل يې: ددې تخت ريښتنی مستحق او وړ کس امام شامل دی!.

امام شامل د ګونيب په غرونو کي د روسي ښکيلاک سره په چريکي جګړو کي کلونه کلونه بوخت او د مبارزې يو عظيم نه هيريدونکی فکري، نظامي او تربيوي سنګر وو، امام شامل د روسانو سره په جهاد کي کلونه کلونه بوخت وو، په دې دوره کي يې په زرګونو دهريان د منځه وړي، يوازي د هولګو په جګړه کي يې درو ديرش زره (۳۳۰۰۰) روسان د مرګ کندي ته ور ټيل وهلي، په داسي حال کي چي د امام شامل درې سوه (۳۰۰) مُريدان شهيدان سوي وه، ددې جګړې په يوه ورځ پنځه زره (۵۰۰۰) روسان وژل سوي وه، دا داسي تاريخي جګړه وه، چي کله کله به پوره لښکر په دې جګړه کي ورک سو، داسي چي روسي جنرالان به په بيرته راتګ کي د يو يا دوو عسکرو سره را روان وه. ترکي تاريخ پوه البي ياشر د امام شامل په رابطه داسي وايي: امام شامل د تاريخ يو زړه ور قومندان دی، روسانو د ناپليون لښکر مات کړ، مګر د امام شامل په وړاندي بې وسه وه، که دنيا ناپليون ته د جګړې سکروټه وايي، نو امام شامل بيا د جګړې سور اور وو! روسي جنرالانو امام شامل د جګړې نابغه بللی، هغوی د امام شامل نظامي استعداد تکتيک او وړتيا ته ګوته په غاښ وه، چي څنګه په دومره لږو وسلو، امکاناتو، افرادو او تجهيزاتو جګړه اداره کوي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو محجن ثقفي

د قادسيې د جنګ تاريخي واقعه! ابو محجن ثقفي يو مشهور شاعر او غيرتي سړی وو، حضرت سعد بن وقاص (رضي الله عنه) د شرابو څيښلو په جرم زنداني کړی وو، ابو محجن سقفي د زندان د کلکين څخه د جنګ صحنه کتله، د ډيرې جزبې او شجاعت د وجهې ډير بې تابه وو، د حضرت سعد (رضي الله عنه) ميرمن د هغه ځای څخه تيريدله، ابو محجن ورته وويل: د الله (جل جلاله) لپاره ما پريږدی، زه هم غواړم چې د دښمنانو سره جنګ وکړم او خپل بړاس وباسم، که چيرې ژوندی پاته سوم، نو خپله به راسم زولنې به په پښو کړم، زبراء چې کله انکار وکړ، نو ابو محجن د ډيره درده د شعر په ژبه وويل: زما لپاره همدا غم کافي دی چې زه دې په زولنو کې تړلی يم، او دوی پر آس سپاره نيزې چلوي، کله چې زه غواړم پورته سم نو زولنې مې نه پريږدي، او دروازې وتړل سي چې غوښتونکی په غوښتلو غوښتلو ستړی سي.

زبراء په خوابدې سوه، زولنې يې ځيني خلاصې کړې، ابو محجن چې څنګه آزاد سو، نو د برق په څير يې د جنګ ميدان ته ځان ورساوه، په داسې شان يې حمله وکړه چې په کوم صف به ور ننووتی، هغه صف به درهم برهم کړل سو، حضرت سعد بن وقاص (رضي الله عنه) هم ډير حيران وو، چې دا غيرتي سړی څوک دی؟ ځان سره يې چورت وواهه چې ددې حملې انداز خو د ابو محجن په څير دی، مګر هغه خو په بندي خانه کې دی، کله چې د شپې جنګ ختم سو، نو ابو محجن بيرته زندان ته راغلی او خپلې زولنې يې په پښو کړې، سلمې دا ټوله واقعه حضرت سعد (رضي الله عنه) ته وکړه، سعد (رضي الله عنه) په همدغه وخت کې ابو محجن پريښود او ويې ويل: په رب العالمين (جل جلاله) مې دې قسم وي کوم شخص چې په داسې طريقې سره پر مسلمانانو باندې جانثار وي، زه هغه نه سم زنداني کولای. ابو محجن وويل: مګر په خدای (جل جلاله) دې زما هم قسم وي چې د نن څخه وروسته به هيڅ کله شرابو ته لاس ورنه وړم.

د يوه مسلمان ښوونکي د عبرت درس مامون رشيد ته

د هارون الرشيد زوی مامون الرشيد چې کله کوچنۍ وو، يوه ورځ بغير د کوم سبب او دليل څخه ښوونکي په لکړه وواهه! مامون وويل: ولې دې ووهلم؟ ښوونکي هيڅ ونه ويل، کله چې مامون څو ځلې پوښتنه وکړه: ښوونکي ورته ويل: غلۍ سه! وروسته د شلو (۲۰) کلونو څخه چې کله مامون د خلافت واک ته ورسيدی لومړی آمر يې دا وکړ: هغه ښوونکی را حاضر کړی! مامون د ښوونکي څخه وپوښتل: زه چې کله کوچنۍ وم تا ولې ووهلم؟ ښوونکی مسکۍ سو او ويې ويل: هغه دې نه دې هير کړي؟ مامون ويل: نه! په الله (جل جلاله) قسم هيڅ کله به يې هير نه کړم! ښوونکي ورته وويل: ددې لپاره مې ووهلې تر څو پوه سې، ته د خلافت د کورنۍ څخه وې، کيدلای سوای چې واک ته ورسيږې، مظلوم هيڅکله هم ظلم نه هيروي! نو پام کوه! چې د واک په وخت کې ظلم ونه کړې، ځکه ظلم داسې اور دی چې همېش د مظلوم په زړه کې بل وي نه مري که څه هم کلونه کلونه پر تير سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان بن ارطغُرل

اسلامي اُمته! آيا تاسو پوهيږئ؟! په ۱۲۵۸م کال کي د مغولو په لاسونو بغداد او عباسي خلافت سقوط سول، خلګو ګمان کوی چي اسلام نور ختم سو، بيا به هيڅکله سر راپورته نه کړي، ځکه مغول ډير سخت ترين قاتلان او متشددين وه، مګر په همدغه ورځ الله (جل جلاله) د عثماني دولت جوړونکی عثمان بن ارطغُرل بن سليمان شاه پيدا کړ، دې نړۍ ته يې راوليږی، چي شپږ قرنه يعني شپږ سوه (۶۰۰) کاله يې دغه دولت دوام وکړ، (۲۰) ميليونه کيلو مربع مځکه باندي يې حکومت او واک چليدی!. چي يو رانسکوريږي الله (جل جلاله) بل پيدا کوي، دا اُمت به هيڅ وخت بې څاروانه او بې رهبره نه سي.

سيد علي

اسلام او اُمت په داسي فوځيانو نازيږي: د عثماني خلافت فوځي سيد علي په (۲۵) د مارچ د ۱۹۱۵م کال کله چي د فرانسې، برطانيې، روسيې، آسټريا او نيوزيلينډ فوځونو د خلافت پر مرکز بريد وکړ، سيد علي د ګيلي پولي په جزيره رومله کي د توپخانې مسؤل وو، ددې توپخانې چي د توپ ليفټ مرمۍ به يې نقل کولې، د دښمن په بمونو د منځه تللی وو، نو ځکه سيد علي هم د (۲۱۵) کيلو په اندازه وزني مرمۍ خپل پر شا پورته کولې او د توپ خولې ته به يې وراچولې، ددې توپ پواسطه يې د اليزابيت په نوم ستره بيړۍ په نښه کړه، بلاخره يې ډيره سورۍ کړه او ياده بيړۍ د جنګي ساحې څخه پر شا سوه.

يادونه: ددې بحري بيړۍ پر مخ به تل نږدې (۶۰) الوتکي موجودي وې.

په دې جګړه کي د اسلامي فوځ (۵۶۰۰۰) شپږ پنځوس زره ځوانان په شهادت ورسيدل، (۲۰۱۰۰۰۰) دوه لکه لس زره ځوانان په روغتونو کي د شديدو زخمونو د امله وفات سول، (۱۱۰۰۰) يوولس زره فوځيان نادرکه سول او (۹۷۰۰۰) اوه نوي زره کسان ټپيان سول، مګر الحمد الله اسلامي ميړني فوځ تر پايه استانبول په جرأت سره وساته او صليبي فوځ يې تيښتي ته اړ کړ، عثماني فوځ په دې جګړه کي د صليبي فوځ (۲۵۲۰۰۰) دوه لکه دوه پنځوس زره عسکر جهنم ته وليږل.

د ترک پريس د مجلې په وينا: په دغه کال د خلافت د فوځي پوهنځيو څخه هيڅ مصل فارغه نه سو، ځکه ټول په شهادت رسيدلي وه.

د اُمت بچيانو ته ددې ستري جګړې په اړه په تعليمي نصاب کي څه نه ويل کيږي، چي څنګه د اُمت ميړنيو تنکي ګلانو دا ستره صليبي حمله پر شا وتمبوله، دوی د استانبول د بيا ځل قبضې خوب د ځان سره راوړی وو، د بده مرغه زموږ نصابونه د نيپولين او اروپايي جګړو تاريخ په زير او زور سره بيانوي، مګر اسلامي تاريخ نه بيانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اندلس مسلماني ښځي

د اندلسي ښځو عجيب خصوصيات: په اندلس کي د مرابطينو د حکومت په وخت کي د مسلمانو غيرتي ميرمنو عجيب خصوصيات او ځانګړتياوي لرلې. يو عرب عالم ليکي: د مرابطينو په زمانه کي به چي که کومي مسلماني ميرمني د خپل ګاونډي په کور کي د هغوی توره تر خاور لاندي يا زنګ وهلې وليدل، نو د ګاونډي ښځو ته به يې د هغوی د خاوند او د کور د سړيو د بې همتۍ پيغور ورکوی، او پسخند به يې په واهه، او که به يې د خپل ګاونډي آس خوار او زار وليدی، چي خاوند يې ساتنه او پالنه نه کوي، نو هغوی ته به يې هم د بې همتۍ پيغور ورکاوه، او که به کومي ښځي غوښتل چي بله ښځه وزوروي، نو ورته وبه يې ويل: ستاسي آس مي وليدی، چي پر څرمني يې خاوري پرتې او خوار ولاړ وو، او که به ميرمنو پر يو او بل وياړ کاوه، نو ويل به يې: د ډيري مودې را په دې خوا مي د خپل خاوند څخه د توري او ډال د بوی پرته د بل شي بوی نه دی حس کړی.

که به مسلمانو ميرمنو داسي ځوان وليدی، چي پر هغه باندي د عطرو او خوشبويو نښي ښکاريدلې او يا به يې ځان غوړ کړی وو، نو ښځو به د هغه څخه د نکاح کولو په خاطر ځان ساته، او ويل به يې: داسي کس د واده کولو لپاره ښه نه دی. ځينو به ويل: د واده کولو لپاره داسي ځوان مناسب نه دی، چي قدمونه يې د غزا په خاورو ګردمن نه وي، که به ښځو داسي ځوان وليدی يا به په خبري سولې، چي هغه لمونځ نه کوي، يا هم د علماء کرامو سره ناسته پاسته نه کوي، نو ويل به يې: داسي کس ته نه ښائي چي زما د اولادونو پلار سي، مګر دا چي په غوجل کي د حيواناتو خادم سي.

بناءً: د هغه وخت سړي ځکه د ميړاني، زړورتيا، پاک لمنۍ او غيرت د بشپړو ځانګړتياوو لرونکي وه، چي ښځو يې پوره مرسته ورسره کول.

اتريشي الاصله عمر پاشا

اتريشي الاصله عمر پاشا! لومړنۍ نوم يې ميخائيل او په اتريشي پوځ کي آفسر وو، د مسلمانيدو په خاطر يې بوسنې ته هجرت وکړ، هلته يې خپل اسلام اعلان کړ او پر ځان يې د عمر نوم کښيښود، وروسته بيا د عثماني خلافت په پوځ کي شامل او لوړو پوړو ته ورسيدی، د قرم په مشهوره جګړه کي چي د عثماني خلافت او روسانو تر منځ پيښه سوه، د مسلمانانو قومنده يې په لاس کي وه، چي ددې جګړې په ډګر کي روسانو سخته ماته وخوړه، څلور لکه (۴۰۰۰۰۰) روسي سرتيري ووژل سول او نور وتښتيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوالبرکات بربری

مالدیپ هغه هیواد کوم چي په دوو (۲) میاشتو کي ټول مسلمان سو! مالدیپ د هند په سمندر کي یو سیاحتي هیواد دی، دا هیواد په (۱۱۹۲) جزیرو باندي مشتمل دی، چي فقط (۲۰۰) جزیرې یې په انسانانو آبادي دي او پاته نوري یې غیري آبادي دي، په مالدیپ کي سل په سلو کي ټول مسلمانان وه، او د هغه ځای د قومیت اخیستلو لپاره مسلمان کیدل ضروري وه، د حیرانتیا خبره خو دا ده چي دلته د بودا پیروان میشت وه، کوم چي په دوو (۲) میاشتو کي د بادشاه څخه نیولې تر ګدا پوري ټول مسلمانان سول، مګر دا څنګه او کله وسول؟

دا پیښه مشهور مسلمان سیاح ابن بطوطه د مالدیپ د سیاحت څخه وروسته په خپل کتاب کي لیکلې ده، بلکي ابن بطوطه تر څه وخته پوري هلته د قاضي دنده هم سرته ورسوله، هغه په خپل کتاب (تحفة النظار فی غرائب الامصار وعجائب الامصار) کي لیکلې دي: د مالدیپ اوسیدونکي د بودا مذهب پیروان او د انتهایي درجې وهم پرسته خلګ وه، چي له همدې امله یو پیرۍ پر مسلط سوی وو، هغه پیري به د هري میاشتي په اخري ورځو کي د سمندر څخه د رڼاګانو سره راښکاره کیدی، خلګو به هغه ته د سمندر پر غاړه جوړ سوی یو درمسال یا بت خانه کي یوه پیغله انجلۍ سینګار کړې لیږله، هغه پیري به هلته شپه تیروله، سهار به خلګو د هغې انجلۍ مړۍ د درمسال څخه راوویست او وبه یې سوځوی، د هغې پیغلي انتخاب به په قرعه کشۍ سره کیدی.

دا ځل د هغه پیري لپاره په قرعه اندازۍ کي د یوې کونډي ښځي یوازینۍ لور راووته، چي د امله یې هغې ښځي دومره وژړل بې هوښه سوه، د کلي خلګ د کونډي په کور کي راټول سوي وه، ددې په انتظار کي وه، چي پیغله سینګار کړي او هلته یې پیري ته وسپاري، په دې خلګو کي په هغه ورځ باندي یو مسافر هم راغلی وو، کله چي هغه د کلیوالو څخه په دې هکله وپوښتل، نو خلګو ټوله کیسه ورته وکړه او د پیري ظلمونه یې ورته بیان کړل، هغه مسافر هغې کونډي ته ډاډ ورکړ او ورته یې وویل: نن شپه به زه ستا د لور پر ځای د پیري خوا ته درمسال ته ځم، خلګو چي دا واوریدل حیران سول، مګر هغوی دا خبره نه منله.

هغوی په دې بیریدل ویل: هسي نه چي په دې کار سره هغه پیرۍ خفه سي، او ټول کلي ته خطر پیښ نه کړي، مګر هغه مسافر په خپله خبره ټینګار کاوه، کله چي کلیوالو د هغه ډاډ او ټینګر ولیدی، نو اجازه یې ورکړه، مسافر اودس وکړ، د سمندر غاړي درمسال ته ولاړ، کله چي هلته ننوت، نو د قرآن کریم په تلاوت یې پیل وکړ، مګر کله چي پیرۍ راغلی، د قرآن کریم تلاوت یې واوریدی، یوه چیغه یې ووهله او بیا هیڅکله راښکاره نه سو، سهار چي خلګ راغلل تر څو د مسافر مړۍ راوباسي او ویې سوځوي، مګر کله چي یې هغه ژوندۍ ولیدی، په خپلو سترګو یې باور نه راتلی، دا مسافر مشهور مسلمان دعوتګر، مبلغ او سیاح ابوالبرکات بربری وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابوالبرکات راتلل او د پیري سره د مقابلې خبر د ځنګل د اور په څیر خپور سو، تر دې پوري چې د بادشاه غوږونو ته هم ورسیده، بادشاه شیخ راوغوښت او شاهي دعوت یې ورته وکړ، شیخ خپل تعارف او ټوله کیسه ورته وکړه، وروسته یې دعوت ورته ورکړ تر څو اسلام قبول او دا خرافاتي عقیده پرېږدي، بادشاه اسلام قبول کړ او د دوو (۲) میاشتو په موده کې د مالدیپ ټول هیواد مسلمان سو، دا د ۱۳۱۴م کال خبره ده، نوموړی دعوتګر هملته استوګنه غوره کړه، خلګو ته یې د قرآن کریم او سنت درسونه ورکول، چې د امله یې هلته زرګونه مساجد جوړ کړل، نوموړی شیخ هملته وفات او دفن کړل سو، په ښکاره خو ابوالبرکات یو فرد ښکاریده، مګر په یوازې ځان یې دومره کار وکړ لکه د یوه اُمت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليد بن عبدالملک

په هغه وخت کي چي اروپا به د جزام مرض او نوري وباوي د الله (جل جلاله) غضب او سزا ګڼله، تر دې پوري چي د دوی د ډير جهالت او وروسته والي د وجهي ملک فيليپ د ټولو هغو ناروغانو چي د جزام په مرض اخته وه، په اور سوځولو آمر وکړ، په همدغه وخت کي مسلمانانو د جزام مرض او ناروغانو لپاره لومړنۍ روغتون په ۸۹ هجري کال په دمشق کي جوړ کړ، دا په اسلام کي لومړنۍ روغتون وو، چي د وليد بن عبدالملک د خلافت په دوران کي جوړ سو، چي د مختلفو اديانو خاوندانو علاج به په کښي کيدی، اروپا په دغه وخت کي د جهل په تيارو کي ډوبه وه.

صدام حسين

په ۱۹۷۴زيږديز کال کي د هسپانيې هيواد څخه د صدام حسين د ليدني په ترځ کي چي کله هغه او د هسپانيې ولسمشر فرانکو يو ځای ډوډۍ وخوړه، نو فرانکو د صدام حسين څخه ددې هيواد د مادريد ښار ته د چکر وهلو غوښتنه وکړه، اما صدام حسين يې غوښتنه ونه منل او ويې ويل: زه غواړم د قرطبې د هغه لوی جومات څخه ليدنه وکړم، کوم چي د شپږ سوه (۶۰۰) کلونو څخه را په ديخوا تر دې دمه چي کوم چا لمونځ نه دی په کښي اداء کړی، نو کله چي اروا ښاد صدام حسين دې پخواني جومات ته ورسيد، د ماسپښين د لمانځه وخت وو، صدام حسين ورسره مل عراقي لوړ پوړي پلاوي ته يې مخ راواړوی، او ورته يې وويل: په تاسو کي څوک داسي ښه غښتلی ږغ لري، تر څو هغه لوړ آذان ځای ته پور ته سي او داسي ښه په لوړ آواز سره آذان وکړي، په پلاوي کي يو ګډونوال وويل: ريئس صاحب! زه به آذان وکړم.

صدام حسين هغه کس ته وويل: هغه لوړ آذان ځای ته پورته سه او ښه په لوړ غږ آذان وکړه. کله چي هسپانويانو د آذان ملکوتي بلال دودي نعره واوريده، نو په زړونو او جسمونو کي يې خاموشي حاکمه سوه، ټول هک پک سول، بيا صدام حسين په همدې پخواني جومات کي د خپل پلاوي سره يو ځای د ماپښين لمونځ اداء کړ، د لمانځه تر اداء کولو وروسته د کوربه هيواد هسپانيا ولسمشر فرانک اروا ښاد صدام حسين ته په ډيره حيرانتيا سره وويل: ښاغلی ولسمشر صدام حسين! د اندلوسي عربي دولت تر را پرځيدلو وروسته چي شپږ (۶) پيړۍ پر تيري سوي دي، دا لومړۍ ځل دی چي د دغه لوړ آذان ځای څخه په خورا جګ ږغ آذان تر سره کيږي، صدام حسين وخندل بيا يې د کوربه هيواد د ولسمشر پر مټ لاس کښيښود او په غرور انداز سره يې وويل: موږ هيڅکله هم دا ځايونه نه سو هيرولای، زموږ لومړۍ يونلاره بيت المقدس او دوهمه يونلاره مو قرطبه ده، تاسو بې غمه اوسی، د اروا ښاد صدام حسين ددې خبري په جواب کي د هسپانيې ولسمشر فرانک هيڅ هم ونه ويل او همداسي چوپ پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام بخاري (رحمة الله عليه)

د صحيح البخاري د مؤلف کنيت ابو عبدالله دی، نوم او نسب يې محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة بن بردزبه الجعفي دی، بردزبه د فارس دی او د فارسيانو پر دين وو، البته د بردزبه زوی مغيره چې د بخاري ورنيکه کيږي د بخارا د والي په لاس ايمان راوړی دی، د بخارا والي يمان الجعفي نوميدی، نو د اسلام د ولاء د کبله بخاري ته جعفي هم ويل کيږي.
امام بخاري (رحمة الله عليه) په ۱۹۴هجري سنه کي د شوال پر (۱۳) نيټه د جمعې په ورځ تر لمانځه وروسته په بخارا کي زيږيدلی دی، امام بخاري (رحمة الله عليه) کوچنی وو، چې پلار يې وفات سو او خپلي مور يتيم را لوی کړی، ويل کيږي امام بخاري (رحمة الله عليه) په کوچنيوالي کي په سترګو ړوند سو، مور يې ابراهيم (عليه السلام) په خوب وليدی، ابراهيم (عليه السلام) د امام بخاري (رحمة الله عليه) و مور ته وويل: ستا د ډيري ژړا او دعاوو د کبله الله (جل جلاله) ستا د زوی سترګي بينا کړې. همداسي وسوه، سهار امام بخاري په سترګو بينا سوی وو.
ابو جعفر محمد ابي حاتم وايي: ما د امام بخاري (رحمة الله عليه) څخه پوښتنه وکړه: ستا د علميت کار څه ډول را پيل سو؟ هغه را ته وويل: زه په مدرسه کي د لسو (۱۰) کلونو يا تر دې لا هم کوچنی وم چې په زړه کي مي د حديثو د زده کړې فکر را پيدا سو، د لس (۱۰) کلنۍ څخه وروسته د مدرسې څخه ووتم يوې او بلي خوا ته د حديثو په تلاښ کي سوم، يوه ورځ استاذ داسي سند بيان کړی: سفيان عن ابي الزبير عن ابراهيم، ما ورته وويل: ابو الزبير د ابراهيم څخه روايت نه دی کړی استاذ زما ترټنه وکړه ما ورته وويل: که اصلي کتاب در سره وي، نو هغه وګوره چې زما خبره درته ثابته سي، استاذ ننوت او بيا راووتی او را ته ويې ويل: اې هلکه! سند څه ډول دی؟ ما ورته وويل: الزبير بن عدي عن ابرهيم استاد ابو الزبير يې په زبير بن عدي وليکی او ويې ويل: ته رښتنی او صادقه يې.
د امام بخاري (رحمة الله عليه) يوه ملګري ورته وويل: ته پر دې مهال د څو کلونو وې؟ امام بخاري (رحمة الله عليه) ورته وويل: د يولسو (۱۱) کلونو وم.

امام بخاري (رحمة الله عليه) وايي: په شپاړس (۱۶) کلنۍ کي مي د ابن المبارک او وکيع کتابونه ياد کړل او د فقهاوو په ويناوو هم وپوهيدم، بيا د خپلي مور او خپل مشر ورور احمد سره مکې مکرمې ته ولاړم، د حج د اداينې څخه وروسته مي ورور بخارا ته ستون سو، او هلته وفات سو، امام بخاري (رحمة الله عليه) په مکه کي د حديثو د زده کړې لپاره پاته سو.
امام بخاري (رحمة الله عليه) وايي: په اتلس (۱۸) کلنۍ کي مي (کتاب قضايا الصحابة والتابعين وأقاويلهم) تصنيف کړی او همدا ډول (التاريخ الکبير) مي د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د قبر سره د شپې د سپوږمۍ په رڼا کي وليکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام بخاري (رحمة الله عليه) دونه ځيرک او د قوي حافظې څښتن وو، چې په کوچينوالي کې يې اويا زره (۷۰) حديثونه يو په بل پسې ياده وه، او يو کتاب چې به يې يو ځل تر نظر تير کړی، نو ټول به يې ياد سو، بيا يې د هغه کتاب کتلو ته اړتيا نه درلودل.
محمد بن حمدويه وايي: ما د امام بخاري (رحمة الله عليه) څخه واوريدل هغه ويل: زما يو لک (۱۰۰۰۰۰) صحيح حديثونه ياد دي، دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) مي غير صحيح حديثونه ياد دي، او د صحيح البخاري حديثونه ما تقريباً د شپږو لکو (۶۰۰۰۰۰) حديثونو څخه را ايستلي دي.
امام بخاري (رحمة الله عليه) د حديثو د علتونو په پيژندنه کې دونه مهارت درلودی، چې يو ځل امام مسلم (رحمة الله عليه) ورته وويل: اې د استاذانو استاذه! د محدثينو سرداره! د حديثو د علتونو طبيبه! اجازه را کړه، چې ستا پښې در مچ کړم.
امام ترمذي (رحمة الله عليه) وايي: ما په تاريخ او د حديثو د سندنو او علتونو په پيژندنه کې تر امام بخاري (رحمة الله عليه) غټ عالم نه په عراق او نه په خراسان کې ليدلی دی.
احمد بن عدي وايي: ما د څو شيخانو څخه اوريدلي دي، چې هغو حکايت کاوه: امام بخاري (رحمة الله عليه) و بغداد ته راغلی، نو څو تنو محدثينو وغوښتل چې امام بخاري (رحمة الله عليه) وآزمايي، د سلو (۱۰۰) حديثونو متنونه او سندونه يې سره واړول د يوه حديث متن يې د بل حديث و سند ته واړوی او بيا يې يوه يوه نفر ته لس لس حديثونه ورکړه، تر څو امام بخاري (رحمة الله عليه) ته يې واوروي، د بغداد خلک او ددې تر څنګ د خراسان او نورو وطنونو مسافر را ټول سول، څه مهال چې د خلکو مجمع جوړه سوه، يو تن ولاړ سو د خپلو لسو (۱۰) حديثونو څخه يې د يوه يوه حديث سند او متن بيانوه امام بخاري (رحمة الله عليه) چې به د هر حديث سند او متن واوريدی، ورته وبه يې ويل: په دې حديث علم نه لرم، کومو کسانو چې د امام بخاري (رحمة الله عليه) د امتحان لکبله ددې حديثونو متنونه او سندونه اړولي وه، هغو يوه و بل ته کتل چې سړی ډير ځيرک او پوه دی، مګر کوم کسان چې ناخبره وه، هغو ته امام بخاري (رحمة الله عليه) کمزورۍ معلوميدی، دې لسو (۱۰) کسانو چې هر يوه په نوبت لس لس حديثونه امام بخاري (رحمة الله عليه) ته واورول او امام بخاري (رحمة الله عليه) د هر حديث په جواب کې ورته ويل: علم نه په لرم، د دوی د فراغت وروسته امام بخاري (رحمة الله عليه) هر نفر ته د هغه د هر حديث متن او سند بيان کړی، چې تا د اول حديث متن داسي او سند داسي بيان کړی، مګر ددې حديث متن او سند اصلاً داسي دی، دوی چې دا سل (۱۰۰) حديثونه په څه ډول ورته بيان کړي وه، امام بخاري (رحمة الله عليه) په هغه ډول ورته بيان کړل او غلطي يې هم ورته په ګوته کول، چې ددې حديث متن داسي او سند يې داسي دی، نو ټولو خلکو د امام بخاري (رحمة الله عليه) پر ځيرکتيا، قوي حافظې او علميت اعتراف وکړی، او دا د الله (جل جلاله) فضل دی، چې چا ته وغواړي هغه ته يې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام بخاري (رحمة الله عليه) ډېر کتابونه تصنيف کړي دي، لکه: الأدب المفرد، برالوالدين، تاريخ الكبير، تاريخ الأوسط، تاريخ الصغير، خلق افعال العباد.
حافظ ابن حجر (رحمة الله عليه) وايي: دا کتابونه ټول موجود دي او په اوريدلو يا اجازه يې موږ ته روايت سوی دی.
امام بخاري (رحمة الله عليه) ددې پرته نور تصنيفونه هم لري، لکه: جامع الكبير، مسند الكبير، تفسير الكبير، كتاب الأشربة، كتاب الهبة، أسامي الصحابة، كتاب الوحدان، كتاب المبسوط، كتاب الكنى او كتاب الفوائد.
د امام بخاري (رحمة الله عليه) په حفظ، تقوا او زهد د ده موافق او مخالف ټول قايل وه، او په محدثينو کي د اميرالمؤمنين في الحديث، ناصر الأحاديث النبوية او ناشر المواريث المحمدية په لقب يادیدی. امام احمد بن حنبل (رحمة الله عليه) وايي: خراسان د امام بخاري (رحمة الله عليه) په شان بل نه دی زيږولی.
د امام بخاري (رحمة الله عليه) او امام مسلم (رحمة الله عليه) شيخ محمد بن بشار (رحمة الله عليه) وايي: په نړۍ کي د حديثو حافظان څلور (۴) دي: امام ابو الزرعة (رحمة الله عليه) په ري کي، امام مسلم (رحمة الله عليه) په نيشاپور کي، امام دارمي (رحمة الله عليه) په سمرقند کي او امام بخاري (رحمة الله عليه) په بخارا کي.
علي بن حجر (رحمة الله عليه) وايي: امام بخاري (رحمة الله عليه) په دوی ټولو کي زياد پوه، بصيرت والا او ځيرک وو.

امام بخاري (رحمة الله عليه) په روژه کي هره ورځ يو يو ختم کوی، د تراويح څخه وروسته د شپې په لمانځه کي يې په هرو درو (۳) شپو کي ختم کوی، او د پيشلمي پر مهال يې ديارلس (۱۳) رکعته تهجد لمونځ کوی.
امام بخاري (رحمة الله عليه) د چا غيبت نه کوی، او ويل به يې: زه اُميد لرم چي په آخرت کي به الله (جل جلاله) د چا د غيبت حساب راسره ونه کړي او وايي: د څه مهال څخه چي زه په دې پوهيدلی يم، چي غيبت خپله غيبت کوونکي ته زيان رسوي، نو د هغه وخت څخه مي د چا غيبت نه دی کړی. يو چا امام بخاري (رحمة الله عليه) ته وويل: ځيني کسان ستا د تاريخ د کتابونو د کبله تا ته ګوته نيسي او وايي: په تاريخي حکايتونو کي د خلګو غيبت راځي، امام بخاري (رحمة الله عليه) ورته وويل: هغه موږ د نورو څخه د روايت په ډول بيان کوو، موږ يې د خپله ځان څخه نه بيان وو.

امام بخاري (رحمة الله عليه) ته د خپل پلار څخه ډېر مال په ميراث ورته پاته سو، د هغه څخه يې صدقه او خيرات کاوه، د طالبانو سره يې ډېر احسان کاوه، په سخاوت کي يې لاسونه اوږده وه، او خوراک يې هم ډېر کم کاوه.
يوه شپه يې تر لمانځه وروسته دعاوي وکړې په دعا کي يې دا هم وويل: يا الله! مځکه د پراختيا سره پر ما تنګه سوه ته مي روح در قبض کړه. بيا يې څنګ وواهه پسي وفات سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تر بدن يې تر هغه مهاله چې په کفن کې پيچل کيدی، خولې وتلې، امام بخاري (رحمة الله عليه) په ۲۵۶هجري سنه کې د شنبې په شپه چې د کوچني اختر شپه وه، د (۶۲) شپيتو کلونو په عمر البته ديارلس (۱۳) ورځې کم په خرتنک کې وفات او هلته ښخ کړل سو، څه مهال چې لمونځ ورکول سو، او په قبر کې کښيښودل سو، نو د قبر د خاورو څخه يې څو ورځې د مشکو په شان ښه بوی ولاړيدی، دا هم د امام بخاري (رحمة الله عليه) د مړيني څخه وروسته د هغه کرامت دی، چې الله (جل جلاله) په خلګو وليدی، الله (جل جلاله) دې ومور او تاسو ټولو ته د متقيانو، عالمانو او صالحانو ملتيا را په برخه کړي، ځکه د ښه ملګري ښه اثر او د بد ملګري بد اثر پر چا لويږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطب الدين ايبک

يوه ورځ قطب الدين ايبک ښکار ته ولاړ، هلته يې په هوسۍ پسې غشۍ وويشتې، مګر کله چې د ښکار پر طرف ورغلی، نو هلته يې وليدل چې يو ښايسته ځوان د هغه په غشي ويشتل سوی دی، په خپلو وينو کې ترپيږي تر دې پوري چې لږ ساعت وروسته هغه ځوان مړ سو، قطب الدين ايبک ډير سخت خفه سو، د معلوماتو د کولو څخه وروسته ورته معلومه سوه، چې نوموړی ځوان د نږدې کلي اوسيدونکی وو، د يوې سپين سري مور وروستۍ هيله او اُميد وو، ځوان ځنګل ته د لرګيو او خاشو په ټولولو پسې راغلی وو، هغه يې خرڅول، خپل ځان او د خپلې مور لپاره يې ډوډۍ په برابرول.

قطب الدين ايبک د هغه ځوان جسد راواخيست، د هغه د کور په طرف روان سو، کله چې يې د مور سره ملاقي سو، دا يې ورته وويل: په غلطۍ کې ستا زوی په غشي ويشتلو راڅخه مړ سو، سپين سري مور يوه چيغه وکړه، پر مځکه ولويده بې هوښه سوه، وروسته قطب الدين ايبک خپل ځان قاضي او محکمې ته حواله کړ، خپل جرم يې ورته ووايه او هم يې ورته د پريکړې کولو پوره آزادي ورکړه. قاضي مقدمه پيل کړه او هغه سپين سرې مور يې عدالت ته راوغوښته او ورته يې وويل: کومه سزا چې تاسې وواياست همغه ډول سزا به مجرم ته ورکول کيږي، سپين سري مور وويل: بيا به داسې بادشاه چيري پيدا سي، چې په خپله بادشاهۍ کې پر خپل ځان مقدمه وچلوي، نوموړي زما زوی قصداً نه دی وژلی، د نن څخه وروسته قطب الدين زما زوی دی او ما ورته د خپل زوی وينه وبخښله. قاضي هم قطب الدين بري کړ او ورته يې وويل: که چيري مو په عدالت کې معمولي د خپل بادشاهت څه زور او يا اثر ښکاره کړی وای، نو بيا مې سپين سري مور ته نه حواله کولې، بلکې خپله مې سزا درته درکوله، په دې خبره باندې قطب الدين خپل خنجر راوويست قاضي ته يې وښووی، او ورته يې وويل: زما دې په الله (جل جلاله) قسم وي، که چيري تا زما سره د يو مجرم په څير معامله نه وای کړې، او زما د بادشاهي خيال مو ساتلی وای، نو همدا خنجر مې په نس کې در ښخوی، وژلې مې، همدې ته د بادشاهۍ اصل ويل کيږي.

طغرل

د ترکيې د عثمانيانو د خلافت طغرل هغه قهرمان وو، چې (۷۴۳) ځله يې د دوښمن د کمين څخه نجات پيدا کړی وو، (۳۱۱) غشي يې پر بدن خوړلي وه، (۷۸) واري د زندان څخه تښتيدلی وو، او اکثره وخت يې د زندان ساتونکي وژلي وه، (۷) ځله فاتحه ورته نيول سوې وه، مګر بيا هم ژوندۍ راګرځيدلی وو، د مغلو، صليبيانو او دولتي جاسوسانو سره په جنګ کې د بري سيال يې نه درلود، او د عثمانيانو د خلافت په ايجاد کې يې اساسي رول لوبولی وو، ځکه د نوموړي حکومت د مسلمانانو د عزت او کاميابي شاخصه ګڼل کيده، د شهادت غوښتونکی وو، مګر د هغه تقدير د هغه څخه تل پاتې غازي جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیرالدین بربروسا او عروج بربروسا

د اسلامي تاریخ اتلان چي غرب یې زموږ نسلونو ته د سمندري غلو په نوم راوپیژندل، په ۲۰۰۳ میلادي کال کي د غرب د فحشا نماینده (هالیوډ) د Pirates of the Caribbean یا قراصنة البحري په نوم فیلمونه جوړ کړل، چي معنا یې د سمندري غلو ده.

دې فیلمونو باندي څه باندي (۴) میلیارده ډالر مصرف وسو، د زیاتو خلګو د پام او خوښي وړ سلسله وګرځیده، مګر متاسفانه په دې اصدارونو کي یو د سرې څهرې څښتن او د هغه ورور معلومیږي چي خیرالدین بربروسا او د عروج بربروسا په نوم یادیږي، دا خیرالدین بربروسا د اسلامي اُمت هغه نوم ورکی سالار او غازي دی، چي حتی زیاتره مسلمانان یې د نوم سره ناآشنا دي، تاریخ خو یې ډیرو کمو خلګو ته معلوم وي.

د هالیوډ دې اصدارونو په مسلمانو هیوادونو کي هم خوښونکي وموندل، او دا فتنه تر مسلمان ملت هم راورسیدله، په دې توګه غرب د اسلام یو آتل زموږ نسلونو ته د سمندري غله په نوم راوپیژنده، کوم چي د خلګو مال او دولت غلا کوي، نو په همدې اساس اړتیا وینو چي ددې ستر غازي پر ژوند او جهادي هڅو تر یو څه حده رڼا واچوو، چي مسلمان نسل ته د بربروسا د ورونو په باب خپل حقیقي دښمن او محسن معلوم سي.

خیرالدین بربروسا او عروج بربروسا: ددې دواړو غازیانو نسب ترک مسلمانانو ته رسیږي، د دوی پلار یعقوب بن یوسف د ترک مسلمانو فاتحینو څخه وو، مور یې هم د اندلس څخه وه، هغه وخت د اندلس مسلمانان د هسپانیاوي عیسایي دولت د خوا تر سختو فشارونو لاندي وه، د خیرالدین خپل نوم خضر وو، او د عثماني حاکم سلطان سلیم اول د خوا په خیرالدین ملقب سو، څلور (۴) نور ورونه یې هم درلوده، چي محمد اسحاق، محمد الیاس، عروج او محمد نومیدل. خیرالدین د هغو تر ټولو کوچنی وو، او د ۱۴۸۰ میلادي کال په شاوخوا کي د یو روایت مطابق په یونان او د بل روایت مطابق د یونان په لسبوس جزیره کي یې دنیا ته سترګي پرانیستي دي.

د عروج د سرې ږیري د امله اروپایانو په عروج د بربروسا لقب کښیښود، چي د سور ږیري په معنا ده، د بربروسا څخه وروسته دا لقب خیرالدین ته هم میراث سو، او نوم یې خضر خیرالدین بربروسا سو.

ځینې بیا وایي: هغه وخت دې دواړو ورونو د اندلس مسلمانانو ته نجات ورکاوه، هغوی عروج د بابا عروج په نوم یاده وه، چي نورو اروپایي ملتونو دا نوم په تدریجي توګه سره بربروس ته نقل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان عبدالعزام پاشا

که شهید سوم زما جسد دوښمن ته مه پریږدئ، په اسلامي خاوره کي مي دفن کړئ، او که مو ماته وخوړه زما جسد د غرونو په سر کیږدئ، چي د مرغانو خوراک سم! دغه تاریخي الفاظ د عثماني خلافت نامتو جنرال سلطان عبدالعزام پاشا د یونان په تاریخي جګړه کي خپلو مجاهدینو ته توصیه کړل سلطان عبدالعزام پاشا د ګریکو په خونړۍ جګړه کي د اسلامي لښکر جنرال وو، په ۱۸۹۷میلادي کال د اوسني یونان او عثماني خلافت تر مابینځ په دغه جګړه کي زرګونه عیسایان د مجاهدینو تر تیغ تیر سول، نیول سوي عیسایي عسکر لاس تړلي قسطنطنیه ته راوړل سول، بالاخره د یوې تاریخي توافقنامي وروسته د یونان په کریټي نومي جزیره باندي د عثماني لښکر مجاهدین قابض سول، د دغه ذلت ناکه جګړې ورځ د یونان په تاریخ کي هر کال د یوې توري ورځ په نوم سره لمانځل کیږي، د دغه جګړې (۲۲) کاله وروسته د اسلامي اُمت دغه آتل جنرال سلطان عبدالعزام پاشا په ۱۹۰۹میلادي کال په استامبول کي وفات سو. خپل تاریخ مطالعه کړئ.

علي بن سفیان

علي بن سفیان د سلطان صلاح الدین ایوبي د استخباراتي (څارګري) اداري مشر وو، هغه په څارګري کي دومره مهارت درلود، چي کله به هم صلیبیانو مسلمانانو ته دام جوړی، نو علي به په خپل جال کي بیرته صلیبیان ګیرول او داسي ماته به یې ورکوله، چي په تاریخ کي اوس هم ثبت دي، علي بن سفیان ډیر ځیرک او چالاکه وو، نوموړي د څارګري تر څنګ په غلچکي بریدونو کي هم ډیر مهارت درلود، چي صلیبیان هم ګوته په غاښ ورته پاته وه، په اسلامي نړۍ کي تر ټولو ځیرک جاسوسان د علي بن سفیان وه، هغه رازونه چي پیریانو به نه سوای پیدا کولای، هغه به علی بن سفیان او د هغه جاسوسانو پیدا کول د همدوی په برکت سره الله (جل جلاله) مسلمانانو ته د بیت المقدس فتحه ور نصیب کړه.

سنان آغا

د عثماني خلافت د تمدن مقدسي بناګاني کیدای سي تاسي هم حیران کړي، ددې زړه راکښونکي هنر معمار د لسمي (۱۰) هجري پیړۍ مشهور او مهاره معمار سنان آغا دی، سنان آغا په یوه مسیحي کورنۍ کي زیږیدلی دی، د عمر په دوو (۲) لومړنیو لسیزو کي مسلمان سوی دی، د ځواني په لومړیو کي فوځ ته شامل سو، بیا د خپل هنر او هنري ذوق د امله د خلافت د معمارانو مشرتوب ته ورسیدی، د څلور (۴) خلیفه ګانو په دربار او حکومتونو کي یې خدمت کړی دی، چي عبارت دي له: لومړی سلطان سلیم، لومړی سلطان سلیمان، دوهم سلطان سلیم او دریم سلطان مراد، د ده عمر شاوخوا سل (۱۰۰) کاله وو، د خپل مرګ څخه وروسته یې (۳۶۵) د معماري آثار د نړۍ په بیلا بیلو سیمو کي په میراث پرېښوولي دي، چي ددې ډلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه (۹۰) جوماتونه، (۵۵) مدرسې، روغتونونه، حمامونه، زندانونه، پلونه او داسې نور... د استانبول په ښار کې د ده په لاس جوړ اماکن خورا زیات دي، د ده په لاس جوړ مشهوره ښاګاني عبارت دي له: د شاهزاده محمد جامع جومات، د خان جامعي جومات په قرم کښې، جامع السلیمانیة په استانبول کښې، جامع السلیمیة په ادرنه کښې، جامع سلیمانیة په دمشق کښې، جامع ملکه صفیه په قاهره کښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان پیلوټان

احمد چلبي

مسلمانان د الوتني لومړي مخکښان! احمد چلبي د عثماني خلافت یو ستر او نامتو عالم تیر سوی دی، دومره چي د ډیري پوهي او نوښتونو د کبله د خلګو په منځ کي د زر (۱۰۰۰) کسبه په نوم یادیدی، نوموړی د تاریخ د هغه ګوتو په شمار کسانو د ډلي څخه دی، چي په لومړي ځل یې د الوتو هڅه کړې او بیا په دې هڅه کي بریالي سوی هم دی، نوموړی مخکي تر دې چي په ۱۶۳۲م کال کي خپله تر ټولو اوږده الوتنه تر سره کړه، نه (۹) ځلي نور هم د مختلفو واټنونو په وهلو سره د الوتني په کار کي بریالی سوی وو.

په ۱۶۳۲م کال کي نوموړی د ګالاتا د برج والوت د فاسفور د تنګي تیر سو او د (۳۳۵۸) متره واټن په وهلو سره د اسکودار په سیمه کي پر مځکه راکښته سو، دغه واقعه د اولیا چلبي د سفر په کتاب کي ثبت سوې ده، دا پیښه د څلورم (۴) سلطان مراد په دور کي وه، چي احمد چلبي ددې ستر کار د تر سره کولو د امله د سلطان مراد د خوا تقدیر او ونازول سو، احمد چلبي د ۱۶۰۹م کال څخه تر ۱۶۴۰م کال پوري ژوند کړی دی.

بلقیس شوکت خانم

د انساني تاریخ لومړنۍ مسلمانه پیلوټه د ۱۹۱۳م کال د نومبر په (۱۸) د دوشنبې په ورځ د بلقیس شوکت خانم په نوم یوې مسلماني میرمني د بلقان د مظلومو مسلمانانو د مرستي لپاره خپل جهاز (طیاره) پورته کړ، بلقیس یوه مجاهده وه، کله چي ایټالویانو د بلقان پر مسلمانانو باندي بمباري وکړه، نو بلقیس ډیره خفه سوه، او د خپلو مسلمانانو د انتقام او مرستي لپاره جهاز ته وخته، هغې ته دا جهاز د خلافت د دربار څخه د خلیفه غازي محمد رشاد د خوا په ډالۍ کي ورکړل سوی وو، دې مجاهدي میرمني یو طرف د بلقان د مظلومو مسلمانانو سره خیریه کارونو کي مرسته کوله، مګر بل طرف یې عملي په نظامي ډګر کي د ایټالوي اشغالګرو مقابله کوله.

ایټالویانو د هغې جهاز وویشت او بلقیس د شهادت لوړ مقام تر لاسه کړ، د یوې مسلماني میرمني د خوا هوای جهاز پورته کول د هغه مهال د نړۍ د اخبارونو ګرمه موضوع وه.

مګر کاش! چي د غرب د تاریخ پر ځای موږ ته په نصاب کي زموږ ځلانده تاریخ لوستل کیدای، نو زموږ به د خپلي ماضي سره اړیکه نه شکیدلای.

یادونه: غرب تل زموږ د اُمت لاسته راوړني غلا کړي او بیا یې په خپل نوم زموږ پر بې خبرو مسلمانانو منلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمه نسومر

د الجزائر هیواد داسي میرمن ده، لکه زموږ خدای بخښلي ملاله میوندۍ، البته د فاطمې د ژوند تفصیلي حالات او جګړو کي فعاله او قائدانه برخه شتون لري، فاطمه د فرانسوي یرغل خلاف د الجزائري ولس د مقاومت سمبول ګڼل کیږي، نوموړې د فرانسویانو په خلاف یوه جګړه کي د مجاهدینو د (۷۰۰۰) کسیز لښکر قومنده په لاس کي لرله، چي د فرانسویانو د (۴۵۰۰۰) کسیز لښکر سره یې مقابله کوله، دا مهال د فاطمې عمر ایله (۲۳) کاله وو، په پایله کي یې فرانسویانو ته سخته ماته ورکړه، ویل کیږي دې جګړه کي د فرانسوي پوځ (۱۰) جنرالان وژل سوي وه.

فرانسوي مؤرخ لوی مسینیون فاطمې نسومر ته د جرجرة جان دارک لقب ورکړی وو، جان دارک وتلې پخوانۍ فرانسوۍ اتله ده، او جرجرة د الجزائر شمال کي د غرونو لړۍ ده، مګر فاطمې دا لقب نه خوښوی، هغې ځان ته د جرجرة خولة لقب خوښوی، چي مطلب یې خوله بنت اَلزور د مشهور مسلمان مجاهد ضرار بن ألزور خور وه، فاطمه په ۱۸۶۳م کال کي په (۳۳) کلنۍ کي وفات سوه.

فاطمه بنت عبدالله

د لیبیا هیواد ملاله وپیژنی! په ۱۹۱۱میلادي کال باندي د ایټالیا په یرغل کي د سید عمر مختار په جهادي غورځنګ کي دیارلس (۱۳) کلنه فاطمه بنت عبدالله هغه مجاهده پیغله وه، چي په تاریخ کي نن هم د بنت لیبیا په نوم یادیږي، فاطمه بنت عبدالله د لیبیا نامتو عرب جهادي قبیلې مشر شیخ عبدالله یوازینۍ لور وه، په ۱۹۱۲میلادي کال کي د جون میاشتي په (۱۸) مه نیټه د اشغالګرو پر یوه توپخانه باندي د سید عمر مختار مجاهدینو زبردسته جګړه پیل کړه، په دغه تونده جګړه کي فاطمه بنت عبدالله د مرمیو په باران کي د توپخانې شاوخوا زخمي سوو مجاهدینو ته اوبه ور رسولې، حتٰی چي دوه دانې زخمیان سوي اشغالګر یې هم پخپلو ناتوانه لاسونو باندي جهنم ته وصل کړل، د طرابلس په دغه جګړه کي مجاهدین او اشغالګر په نږدې فاصله کي د یو بل سره لاس او ګریوان وه.

په یوه کمین کي درې دانې عرب مجاهدین زخمیان پراته وه، فاطمه بنت عبدالله هغو مجاهدینو ته د اوبو په مشکیزه کي اوبه ورکولې، په دغه وخت کي یو اشغالګر فاطمه تر ګریوان ونیوله فاطمې په ډیر مشکل سره خپل ځان ځیني خلاص کړ، د زخمي سوي مجاهد په توره باندي یې پر اشغالګر وار وکړ، په دغه وار کولو سره د هغه اشغالګر د لاس پنجه پرې سوه، د نږدې څخه یوه بل اشغالګر فاطمه بنت عبدالله درې مرمۍ وویشتل، د شجاعت سمبول او اسلامۍ نړۍ عظیم افتخار دې کوچنۍ مجاهدي د شهادت په کلیمه او ساړه اسویلي سره خپل روح الله سبحانه وتعالی ته وسپارۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني قهرماني او عالماني ښځي

هغه ښځه چي د فرعون سره يې ښکاره مخالفت وکړ، او د نړۍ د ډول ډول نعمتونو څخه برخمنه وه، تر دغه نعمتونو تيره سوه، د ژوند تر اخيري سلګۍ پوري د حق په لار کي ولاړه وه، حضرت آسيه (عليه السلام) وه.

حضرت مريم (عليه السلام) هغه ښځه وه، چي خپله پاک لمني يې وساتله، د يهودانو د هر ډول ظلم او تهمت سره يې مبارزه وکړه، الله (جل جلاله) ته يې صبر وکړ، او الله (جل جلاله) په الهي معجزو بې ګناه ثابته کړه.

لومړی هغه څوک چي خپل مال يې د اسلام په لاره کي ورکړ، هغه نارينه نه وو، بلکي ښځه وه، حضرت خديجة الکبری (رضي الله عنها). لومړی هغه څوک چي زموږ پر پيغمبر محمد (صلی الله عليه وسلم) يې ايمان راوړ، هغه سړی نه وو، بلکي ښځه وه، حضرت خديجة الکبری (رضي الله عنها).

لومړی هغه څوک چي د مځکي پر مخ يې تر ټولو مبارکي د زمزم اوبه وڅيښلې، سړی نه وو، بلکي ښځه وه، حضرت هاجره (عليه السلام).

د کومو اوه (۷) تنو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) څخه چي د زرو (۱۰۰۰) څخه زيات حديثونه روايت سوي دي، په هغوی کي دريمه نفره حضرت عايشه (رضي الله عنها).

حفصه بنت عمر بن الخطاب (رضي الله عنها) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ميرمن حفصه بنت عمر بن الخطاب (رضی الله عنها) په ليک لوست پوهيدله، دا ليک لوست الشفاء العدويه (رضي الله عنها) ور زده کړ، الشفاء (رضي الله عنها) په جاهليت کښي ليک لوست زده کړی وو، دمونه يې هم کول، د هجرت څخه مخکي مسلمانه سوه، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د صحابياتو د تدريس لپاره ځانګړی ځای ټاکلی وو، چي په هغه ځای کي حضرت حفصي (رضی الله عنها) ليک او لوست ځيني زده کړ، کله چي حضرت ابوبکر الصديق (رضی الله عنه) قرآن کريم راټول کړ، يوه نسخه يې حضرت عمر بن الخطاب (رضی الله عنه) ته ورکړه، کله چي حضرت عمر (رضي الله عنه) شهيد کيدی، نو يې وصيت وکړ: د قرآن کريم دا نسخه دي حضرت حفصې (رضي الله عنها) ته ورکړل سي. دا ځکه چي حضرت حفصه (رضي الله عنها) په ليک لوست پوهيدله.

الشفاء العدويه (رضي الله عنها): دا د لومړنيو صحابياتو څخه وه، د هجرت څخه مخکي مسلمانه سوه، د خپل خاوند سره يې حبشې ته هجرت وکړ، دې په جاهليت ليک او لوست زده کړی وو، پر دې سربيره يې دمونه هم کول، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ميرمني حضرت حفصې (رضي الله عنها) استاذه وه، يوه ورځ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وويل: حضرت حفصې (رضي الله عنها) ته د دانو دم داسي ور زده کړه، لکه څنګه چي دي ليک ور زده کړی دی.

الشفاء العدويه (رضي الله عنها) ته الله (جل جلاله) ډير عمر ورکړ، د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په خلافت کښي به په بازار کي ګرځيدله، په نيکيو به يې امر کاوه، او د بديو څخه به يې خلګ منع کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رفیده الاسلمیه (رضي الله عنها): دې عظیمي او مجاهدي صحابې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره په ځینو غزاګانو کي ونډه اخیستې وه. په اسلام کي لومړنۍ روغتیاپاله وه، په خپل مسلک کي متخصصه وه، دې خپله کیږدۍ درلوده، دا کیږدۍ په اسلامي تاریخ کي لومړنۍ ګرځنده روغتون وو، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مسجد کي به یې کیږدۍ درولې وه، د ټپیانو درملنه به یې کوله.

عایشه بنت سعد بن ابي وقاص: دا د سعد بن وقاص (رضي الله عنه) لور وه، حضرت سعد بن وقاص (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ماما وو، عایشه تابعي وه، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د شپږو (۶) میرمنو سره یې ژوند کړی دی، د هغوی څخه یې زده کړي کړي وې. عایشه بنت سعد بن ابي وقاص یوه قاضي او قانون پوه وه، او همدارنګه د مشهور عالم امام مالک ښوونکې وه.

زرکلي په خپل کتاب (الاعلام) کي ددې په اړه وایي: فقیه او عالمه وه، د مالکي مذهب موسیس امام مالک (رحمة الله علیه) زده کړه ځیني کړې وه، ددې څخه یې روایتونه کړي، امام مالک (رحمة الله علیه) یې ډیره ستاینه کړې ده، ددې په لاس باندي ډیر عالمان او فقهاء روزل سوي دي، امام بخاري، امام ابو داود، امام ترمذي، او امام نسائي (رحمة الله علیهم) یې حدیثونه روایت کړي دي.

هجمیه بنت حیی الاوصابیه: دا په ام الدرداء الدمشقیه باندي هم یادیدله، په اومه (۷) پیړۍ کي یې ژوند کاوه، په مسجد کي یې حدیث او فقه تدریس وله، د قرآن کریم د تدریس حلقه یې هم لرله، په شاګردانو کي یې د وخت خلیفه عبدالملک بن مروان هم وو.

شمس الدین الذهبي په خپل کتاب (سیر اعلام النبلاء) وایي: عبدالملک بن مروان به یې درس ته په دمشق کي د مسجد په وروستي صف کي کښینستی. الیاس بن معاویه یې په اړه وایي: په خپل وخت کي په حدیث پوهنه کي د غورو علماؤو څخه شمیرل کیدله.

فاطمه البغدادیه: عالمانو سیده نساء زمانها لقب ورکړی دی، په دمشق کي یې شهرت وموند، ډیري ښځي یې ورزلې، ابن تیمیه (رحمة الله علیه) یې ستاینه کړې ده، په بغداد کي په اومه (۷) هجري پیړۍ کي زیږیدلې وه، د ابن تیمیه او شمس الدین بنی ابي عمر المقدسي څخه یې فقه ولوسته، دا به منبر ته ختله، وعظ به یې کاوه، ابن تیمیه (رحمة الله علیه) به یې هم درس ته کښیناسته، ابن تیمیه (رحمة الله علیه) یې د ذکاوت څخه اغیزمن وو.

ابن کثیر (رحمة الله علیه) وایي: ابن تیمیه (رحمة الله علیه) یې ډیره ستاینه کوله. ابن رجب الحنبلي په خپل کتاب (الذیل علی طبقات الحنابله) کي وایي: د شیخ شمس الدین بن ابي عمر څخه یې زده کړه وکړه، که به کومه مسئاله ورباندي سخته سوه، نو د ابن تیمیه (رحمة الله علیه) څخه به یې پوښتنه کوله. ابن حجر العسقلاني په خپل کتاب (الدرر الکامنه فی اعیان المئه الثامنه) کي لیکي: ابن تیمیه (رحمة الله علیه) یې ډیره ستاینه کوله.

سیده نفیسه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کړوسۍ او د حسن بن علي ابن ابي طالب (رضي الله عنهم) لور وه، چي د فقهي او قانون یوه ستره عالمه وه، د هغې شاګردانو به د لیري واټنونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفرونه ورته کول او د هغې يو شاګرد امام شافعي (رحمة الله عليه) چې د شافعي مذهب بنسټګر دی، دې فاضلي عالمي د امام شافعي (رحمة الله عليه) د درس ويلو سره مالي مرسته کړې وه.

امرا بنت عبدالرحمن د اتمي (۸) پيړۍ يوه ستره عالمه ښځه وه، چې د قانون پوه، قاضي، مفتي او د حديثو عالمه وه، د حضرت عمر بن عبدالعزيز (رحمة الله عليه) د خلافت په وخت کې دا فاضله د ام المومنين بي بي عايشې (رضي الله عنها) په هکله ستره صلاحيت لرونکې عالمه وه. د هغې په شاګردانو کې ابوبکر ابن هاذم، د مدينې منورې ډير مشهوره قاضي وو، څوک چې د حضرت عمر بن عبدالعزيز (رحمة الله عليه) پواسطه وګومارل سو، د همدې فاضلې د صلاحيت په بنسټ او د هغې تر لارښووني لاندې احاديث راټول کړي.

عايشه د محمد ابن عبدالهادي لور په دمشق کې يوه ستره عالمه وه، چا چې زياتو سترو او مشهورو نارينه عالمانو ته درس ورکړی، او هغې د احاديثو د روايت تر ټولو لنډه لړۍ په اختيار کې لرله، چې تر رسول الله (صلى الله عليه وسلم) رسيدله. هغې ابن هاجر اثقلاني (رحمة الله عليه) ته چې د هغه وخت تر ټولو ستر عالم وو، درس ورکړی دی.

فاطمه البتاحيه د اتمي (۸) پيړۍ يوه ممتازه ميرمن وه، چې خپلو شاګردانو ته يې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په مديني جومات کې د صحيح البخاري تدريس کاوه.

فاطمه الفهري د نړۍ د لومړي عصري پوهنتون بنسټګر ده.

د اسلام په طلايي عصر کې د عالمانو ښځو زرګونه نور مثالونه هم سته، چې په هغه جمله کې په لسګونه تنې زموږ د رهبر حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) د اصحابو د جملې څخه شميرل کيږي، دا يوازې د اسلام د طلايي عصر د مخکښو ښځو مثال وو.

ډاکټر اکرم ندوي چې په اسلام کې د ښځو عالمانو په هکله د يوڅلويښت (۴۱) جلده کتاب تاليف کړی دی، کتاب المحادثات نوميږی، وايي: په لومړي سر کې مې فکر کاوه، چې ممکن د (۳۰) تر (۴۰) مشهورې ښځې به وي، مګر کله چې څيړنه پر مخ ولاړه، حساب يې زيات سو، تر څو مې معلوم کړه، چې تر اته زره (۸۰۰۰) زياتې داسې مسلماني ښځې وې، چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د وخته يې د اسلامي او ديني شرعي علومو په ساتنه او انکشاف کې ستره ونډه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان ساینس پوهان

۱: ابوالقاسم زهراوي چي په اصل کي د مدینې منورې د انصارو څخه وو، په ۹۳۶ زیږدیز کال کي په جنوبي هسپانیه کي زیږیدلی دی، د لسمي (۱۰) میلادي پیړۍ مسلمان جراح دی، هغه د عملیاتي جراحي په پلار مشهوره دی، په یوولسمه (۱۱) پیړۍ کي یې د (۲۰۰) ډیر د جراحي وسایل اختراع کړي دي، چي میلیونونه انسانان یې ژغورلي دي، دی هغومره نه دی یاد سوی، لکه څومره چي د نوموړي د اختراعاتو آرزښت دی، د الزهراوي یو مشهور کتاب التصریف نومیږي، دغه کتاب (۳۰) جلدونه لري، چي د هغه د (۵۰) کلونو د تجربې محصول دی، دا په اصل کي د جراحي وسایلو تصویري (دایرة المعارف) پوهنغونډ دی، دغه کتاب په اروپایي پوهنتونونو کي تر (۵۰۰) کلونو پوري د لارښود کتاب په حیث تدریسي دی، دې نایاب کتاب په عملیاتي جراحي او اروپایي رنسانس کي کلیدي کردار لرلی دی، دغه مسلمان جراح، اروپایان په لاتیني علمي لهجه ابوالکاسیس بولي.

الزهراوي خپلي عملیاتي پوهي او مهارت ته په کتو د منځنیو پیړیو او اسلامي نړۍ تر ټولو لوی جراح ګڼل کیږي، هغه د داخلي ټکونو لپاره (Catgut) اختراع کړی، چي تر دمګړیه کارول کیږي، الزهراوي د ناروغیو د هغي معالجې چي نبي کریم (علیه السلام) به ښوولي وې، اغیزمن وو او د خلګو په تداوي کي به یې دغه طریقې کارولې، هغه د جراحي شق په ذریعه د زیږون عملیات او په عدسیه یو غیر شفاف پوښ جوړیدل عملیاتو لپاره وسایل جوړ کړي وه، همدارنګه دی لومړنۍ شخص وو، چي د فلج اصلي سبب یې معلوم کړ، مخکي د ده د وضاحته څوک نه پوهیدل چي لامل یې څه دی؟ الزهراوي ډیره ښه تشریح کړله چي دا څنګه د ملا د تیر د کسر څخه رامنځته کیږي، هغه د جراحي وسایلو د تعقیم لپاره ځانګړې د کیمیاوي موادو ګډوله وکارواله، کټ مټ لکه اوسنۍ میکروب ضد مواد، د هغه د مړیني کلونه وروسته نامتو ایټالیوي ژباړن ګیررډ د ده د زوکړي ځای د هسپانیې ټولیدو ته ولاړ او د هغه لیکل یې د عربي څخه لاتیني ته واړول.

د ده آثار د ۱۲۵۰م کال راهیسي په انګلستان کي د قلمي نسخو په شکل خوندي دي، د (۸) مي څخه تر (۱۳) مي پیړۍ پوري دوره چي د مسلمانانو د طلایي عصر په نوم هم یادیږي، مسلمانانو په کښي ګڼ نوموتي عالمان نړۍ ته وړاندي کړي، مسلمانو پوهانو په دې عصر کي د پوهني او علومو په بیلا بیلو برخو کي، لکه: طب، نجوم، ریاضي، فلسفه او داسي نورو... کي بنسټیز کارونه او څیړني وکړې. الزهراوي د عصبي جراحي بې نظمیو او ناروغیو په تشخیص کي هم حیاتي کار کړی دی، د بیلګي په ډول: د لاند بې نظمیو (Management) د تداوي لاري چاري موندل، د کوپړۍ د زخمونو، د ملا د تیر د ټپونو، د سر د ماتیدو درزونو، (Hydrocephalous) د تجمع په کوپړۍ کي چي د دماغو په انساجو زور راولي او سر معمولاً (CSF) مایع ډیر لوی ښکاري او د کوپړۍ د (Dura) طبقې لاندي د مایع غونډیدل، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وار د یو کوچني سره مخ سو، چي سر یې لوی او پړسیدلی وو، ده چي وکتی، نو معلومه یې کړه، چي (Hydrocephalous) دی، چي د (CSF) د دماغو او شمزۍ یوه بې رنګه مایع ده، د غیر مکمل (ناقص) جریان د کبله رامنځته سوې ده.

الزهراوي څو لسیزي د (Cordoba) د ده د اوسیدني سیمي د اموي واکدارانو الحکم ثاني او د هغه وروسته د المنصور درباري ډاکټر هم پاته سوی دی، الزهراوي د اطفالو د جراحي لپاره هم ډیر کار کړی دی، هغه تر ټولو لومړی د ویني په خپل سر بهیدلو ناروغي چي یوازي په نرانو کي وي، د طبي اړخ یې وڅیړه، د داخلي شقونو او جرحو ګنډل د هغو تار ته ورته موادو په وسیله چي د حیواناتو د کولمو څخه یې په لاس راوړل یې د ګنډلو لپاره وکاروه، د وچي غاړي جراحي عملیات یې تر سره او تشریح کړل. الزهراوي بیا هم لومړنۍ کس پاته سوی دی، چي دغه لاندي طبي پروسې او کارونه یې خپله تر سره کړي یا یې توضیحات په کښي ورکړي: د تیانو د سرطان کالسیک عملیات، د مثانې د ډبر ماتول په شعاعګانو، د تایراید د مرۍ په قدام کي وي، غدې د (Cyst) یا د مرداري ډکي کڅوړي د لیري کولو تخنیک، د غوړو د غدو د کڅوړو درملنه د پلټونکي ستني په ذریعه، یا داغلو په مرسته د اوښکو د قنات د نالۍ داره زخمونو تداوي او د نسایي وضعیتونه دي، چي میرمنو ته د زیږون پر مهال ورکول کیږي، پوزیشنونو ښوول. د الزهراوي طبي دایرة المعارف کي لاندي طبي موضوعات او عملیاتونه په خورا ښه ډول تشریح سوي: د داغلو په ذریعه د جوف لرونکو زخمونو تداوي، جرحي شق، سوري کیدل او رګ زني، د هډوکو ارجاع یا پر ځای کول، د دوا جوړوني په برخه کي هغه د زړه د ناروغیو او قبضیت د درملو څخه نیولې د ښکلا تر دواګانو او پرهیزانه خوړو پوري توضیح کړي.

په خپل کتاب کي یې د خپل وخت د دوایي د ساده او مرکبو (پیچیده) ترکیبونو په هکله هم معلومات لیکلي، هغه پوځي طبي مرستي هم تشریح کړي دي او تر سره کړي یې دي، یورولوژي د بولي تناسلي لارو جراحي او اورتوپیدي د هډوکو جراحي کي یې هم اساسي کارونه کړي دي، لکه: د اوږې ارجاع چي خورا سخت عملیات دی، او د اوس وخت مانوري چي د تایراید د غدې او د نس په عملیاتو کي کار ځیني اخیستل کیږي، هغه (۶۰۰) کاله دمخه واضح کړی، چي رګونه څنګه د رګونو تړل چي وینه ونه بهیږي کیږي، د پزي د هډوکو او د ملا د مهرو د کسرونو د تداوي تر څنګ یې د هډوکو او بندونو په اړه هم زښت ډیر لیکل کړي، د هغه په تصویري دایرة المعارف د لسمي (۱۰) پیړۍ د کاریدونکو نسایي ولادي آلاتو تصویران هم سته. هغه وخت یې چي د نرانو تي د ښځو په شان غټیدل جراحي تداوي او د معالجې وسایل ښوولي، اوس هم استعمالیږي، د هغه طبي لیکني چي ګیررډ، روګریوس او رونالډوس ژباړلي، په غربي نړۍ کي ډیري کارول سوي او ستایل سوي دي، د ده اختراعات او د جراحۍ لارښووني تر دیارلسمي (۱۳) پیړۍ بیخي ډیر کاریدونکي او عصري وې، د څوارلسمي (۱۴) پیړۍ مشهور فرانسوي جراح (Chauliac De Guy) خپل کتاب کي د (۲۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارو ډېر د الزهراوي يادونه کړې ده، دغه کتاب تر اتلسمي (۱۸) پېړۍ پوري وخت پر وخت خپور سوی دی، اوس هم په Basel ,Oxford او Venice ښارونو کي موجود دی.

۲: ابو عبدالله محمد بن موسی الخوارزمي: د الجبر مؤسس يو مسلمان عالم وو، علم الجبر د رياضياتو د فروعو يوه فرعه ده، چي مسلمانو علماؤو يوازي په رياضياتو کي پر حساب بسنه ونه کړه، بلکي په رياضياتو کي يې خپلي څيړني لاپسي وغځولې، او په رياضياتو کي يې مشکلو مسايلو ته حل لاره وموندە، مسلمانو علماؤو د لومړي ځل لپاره په الجبر کي څيړني پيل کړې، زياتي ليکني يې په کښي وکړې، چي د الجبر مؤسس هم يو مسلمان عالم ابو عبدالله محمد بن موسی الخوارزمي دی، چي په خوارزمي سره يې شهرت درلودی، نوموړی عالم په ۱۶۵هجري کال کي زيږدلی دی، او په ۲۳۲هجري کال کي د فارس په خوارزم نومي ښار کي وفات سوی دی، ښاغلی خوارزمي د لومړي ځل لپاره د الجبر لفظ وکاروی، الجبر ته يې اصول او قوانين وضع کړل او په الجبر کي يې د (المختصر فی الحساب الجبر والمقابلة) تر عنوان لاندي کتاب تصنيف کړ.

۳: ابن هيثم د ۹۶۵ څخه تر ۱۰۴۰هجري کال پوري د قاهرې د فزيک او هندسې عالم وو، د جامع ازهر سره يې تړاو درلوده، د بصري علومو په پرمختګ کي ډېره ونډه درلوده، د کيمرې د اختراع اصول ده ته منسوب دي، او ډېرو څيړونکو ثابته کړې ده، چي د کيمرې کلمه چي ډېرو ژبو کي سته، په اصل کي عربي (قمرة) کلمه ده، او دا د هغې رڼا خوني نوم وو، کومه چي ابن هيثم اختراع کړې وه.

۴: البيروني د ۹۷۳ څخه تر ۱۰۴۸هجري کال پوري د فلکياتو لوی عالم وو، او لومړی هغه څوک وو، چي ويې ويل: مځکه پر خپل محور څرخيږي، او د مځکي جاذبې قوې ته يې اشاره وکړه.

۵: ابن سينا د ۹۸۰ څخه تر ۱۰۳۷ هجري کال پوري د بخارا په علمي چاپيريال کي د سينا په نوم پيژندل کيږي، ډاکټر او مشهور فيلسوف دی، چي د خپل وخت څخه مخکي ګڼ شمير طبي پديدې يې څرګندي کړي دي او علاج يې ورته وړاندي کړی دی، همدارنګه ده په خپلو طبي څيړنو کي علمي تجربې ته ډېر آهميت ورکړی دی، چي دقيقي پايلي يې درلودې، او تر ننه پاته دي، د هغه د قانون نومي کتاب دا ښکاره کوي، کوم چي د طب په زده کړو کي د اوو (۷) پيړو لپاره اساسي مرجع وه، او د اروپا په پوهنتونونو کي د اوولسمي (۱۷) پيړۍ تر نيمايي تدريسي دی، کله چي په طب کي مشهوره سو، بيا د بشري همدردۍ، په خپل علم او پوهي د الله (جل جلاله) څخه د مننې په توګه د ناروغانو وړيا درملنه کوله.

۶: ابن نفيس د ۱۲۱۳ څخه تر ۱۲۸۸هجري کال پوري د دمشق د فقهي او شريعت عالم وو، مګر په ورته وخت کي د طب غټ ډاکټر هم وو، او په تاريخ کي د فيزيولوژي ستر پوه وو، هغه لومړی کس دی چي په بدن کي د وينې جريان کشف او بيا دقيق تشريح کړ، او څو د طب نظريات لري، چي تر اوسه يې په ډېرو برخو کي عملي کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷: جابر بن حیان د اټومي قوت د کشفولو موجد مسلمان سائنس پوه جابر بن حیان دی، چي د حران پوهنتون مشر هم وو، نوموړی په ۱۰۱هجري کال کي زیږیدلی دی، د ده په کتاب کي داسي معلومات تحریر سوي دي، چي معاصر سائنس پوهان ورته حیران دي، دی لیکي: د پخواني یوناني سائنس پوهانو دا خبره صحت نه لري چي وایي: د مادې کوچنۍ زره اټوم مزید نه سي ویشل کیدلای، بلکي دا نور هم تقسیمیدلای سي، د همدې زرې د تقسیم څخه یو داسي قوت په وجود کي راتلای سي، چي کولای سي د بغداد ښار نسکور کړي، او دا د الله (جل جلاله) د قدرت د علاماتو څخه یوه نښه ده.

په دې ترتیب ویلای سو: مسلمان سائنسپوه جابر بن حیان هغه شخصیت دی، چي په انساني تاریخ کي یې د لومړي ځل لپاره پر اټومي قوت خبره کړې ده.

یادونه: زیاتره ساینس پوهانو او طبیبانو د ژوند ابتدا د قرآن کریم څخه د زده کړو پیل کړی دی، چي وروسته یې بیا ډیرو علومو ته لاري خلاصي سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

1: تفسير ديوبندي، مرتب الحاج مولوي عبدالحنان صاحب.

2: د اسلامي تاريخ زړور سپاهيان او آتلان، راټولونکی: عزيز الرحمن (حسيني).

3: د آخري جګړې شهداء، ليکوال: انس (دمير).

4: دنيا مرى آګى، ليکوال: علامه تقي عثماني، ژباړن: عبدالصمد (شاکر).

3: تاريخ ترکيه، د اسلام قيصه، تاريخ خلافت عثمانيه، محمد الفاتح، د الحاد ورستى پړاو، اسلامي تاريخ.

5: شمس الاسلام تسطع على الغرب، منتديات قبيلة كنانة، البداية والنهايه، الدولة العثمانية.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library